# سید شمس الدین مجروح

## ادبي مقالې او تحلیلونه

Ketabton.com

محمد حکیم بشارت

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سید شمس الدین مجروح

(ادبي مقالې او تحلیلونه )

لیکوال :

محمد حکیم بشارت

۱۳۹۴کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

## كتاب پېژندنه:


د كتاب نوم: سيد شمس الدين مجروح

ليكـــوال: محمد حكيم بشارت

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنگي ځانگه

وېـبپـانـه: www.melitahrik.com

ډيزايـن: ضياء ساپی

پښتی ډيزاين: فياض حميد

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل كال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۱۰۸)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يادونه او مننه

ویاړم چې په دغو کرښو کې دهېواد له یوې داسې علمي،فرهنګي او ملي څېرې،هستۍ او شخصیت قدرمن استاد سرمحقق زلمي هېوادمل څخه یادونه او مننه کوم چې نه یوازې ما ډېر څه ترې زده کړي، بلکې زماپه څېر یې د هېواد په زرګونو ځوان کدرونه روزلي،فرهنګي مینه یې ورکړې ، اغېزمنې لارښوونې یې ورته کړي ،زده کړو ، مطالعې ، څېړنې ، هېوادنۍ مینې ، ملي یووالي او لیکلو ته یې هڅولي دي.

هېوادمل صاحب د ماسترۍ په دوره کې زما استاد و، دغه راز مې د تېزس لیکلو لارښود استاد هم و او د موضوع له پیله تر بشپړېدو پورې یې هڅولی یم ، وخت په وخت یې لارښوونې راته کړي او د تېزس د بشپړېدو ترڅنګ دا دی د ده په هڅونه ددغه اثر خاوند هم شوم .

د هېواد ددغې نوموتې څېرې په علمي ،فرهنګي او څېړنیزو کړنو، هڅو ، اثارو، پوهې او فکر باندې کتابونه لیکل کېدای شي او باید ولیکل شي . زما دغه خو کرښې د هغه یادونه او مننه نشي پرځای کولی ، خو بیاهم دده محترم د شاګرد په توګه اړینه بولم چې یادونه او مننه ترې وکړم چې ددې کتاب په غني کولو او بشپړولو کې یې را ته سلا مشورې را کړي او زه یې ددې جوګه کړم چې دغه اثر د چاپ تر سرحده ورسوم .

په پای کې قدرمن هېوادمل صاحب ته د لوی څښتن له درباره اوږد عمر او هوساژوند غواړم.

په همدې هیله

بشارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملـي تحریـك دا ژمنـه د یـاد کـال د کـب پـر (۲۸)مـه نېټـه پـوره او د یـوې پرتمینـې غونـډې پـه تـرڅ کـې یـې شـل عنوانونـه علمـي اثـار هېوادوالـو تـه وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) پـه نصرت ټـول ټـال سـل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کـوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریـك ټېنګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کـوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونـو) ژمنـه کـړو اثـارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیلـه لـري چـې لـه دې اثـر څخـه بـه زمـوږ هېـوادوال پـه زړه پـورې ګټـه پورتـه کـړي. ملـي تحریـك لـه ټولـو هغـو لیکوالـو، ژبـاړونکو، سمونچارو، مـالي او معنـوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثـارو د چـاپ پـه دې ټـول بهیـر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیـر یـې بریـالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب موضوع او هدف

د دې اثر اصلي موضوع او هدف د هېواد د پښتو او دري ژبو د نومیالي او مفکـر لیکوال ارواښاد سید شمس الدین مجروح د پښتو فرهنګي مقــالو راټولــول او تدوین دی، چې یو ځای په یوه مجموعه کې د پښتو ادبپوهنې د مباحثو مینــه والو ته وړاندې شي.

په دې ټولګه کې ښاغلي لیکوال محمد حکیم بشارت د مشر مجروح مقــالې او د لیکونو په بڼه توضیحي یادښتونه راټول کړي دي.

له دې سربېره د ښاغلي مولف مقدمه، توضیحات او د یو علمي اثر لپاره لازمې لیکنې هم له مجموعې سره ملې دي. هغه ماخذ چې لیکوال دمتن په راټولولــو او ترتیب او همدا راز د مقدمې او توضیحاتو په لیکلو کې ترې اســتفاده کــړې ده، د دې ماخذو فهرست یې هم د اثر په پای کې ورسره مل کړی دی.

اهمیت :

زما په پوهه زموږ په معاصرو فرهنګي شخصــیتونو کــې ســید شــمس الــدین مجروح یو له هغو کسانو څخه دی، چې فکر یې تولید کړی دی او د یــوه ملــي فکر په عمومي چوکاټ کې یې د فرهنګ په بېلا بېلو برخــو کــې خپــل افکــار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرګند کړي دي چې د خپلو اثــارو لوســتونکيو تــه يــوفکر عرضــه کــوي او لوستونکي فکر کولو ته هڅوي، زما له نظره دسيد شمس الدين مجروح اثــار د لوړو فکري ارزښتونو له امله له ښو اثارو څخه شمېرل کيږي او په دې اثر کــې يې راغلي اثار همدغه خصوصيت لري.

مېتود:

د دې اثر مطالب د دوو ميتودونو تابع دي، يو د مقــالو د مــتن ميتــود او بــل د مقدمې او توضيحاتو د ليکنې ميتود. د متن ميتود يې د تدوين معاصر ميتــود دی او بل هم د مقدمې او توضيحاتو هغو چې د تشــريحي ميتــود تــر مقــولې لاندې تعريف کېدای شي.

لنډه دا چې ددغه اثر داستفادې موارد ښايسته ډير دي او د فرهنــګ د بــېلا بېلو ساحو له څېړونکيو او عامو لوستونکيو سره مرسته کولی شي .

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د پښتو ادب د معاصرې دورې له پیل څخه را وروسته چې په ۱۹۱۱ کې یې بنسټ کېښودل شو، خدای بښلی صدیق روهي وايي چې د سراج الاخبار له دویم ځل خپرېدو وروسته د معاصر ادب د نوي بدلون نښې ځرګندې شوې دي.

د پښتو ادب ځلاندې ځېرې زیاتره د ویښو زلمیانو د خوځښت پر مهال چې مرحوم روهي دغه خوځښت د پښتو ادب په تاریخي لحاظ د ویښتیا له پړاو سره برابر بللی راټوکېدلې دي، وده یې کړې او غوړېدلې دي. د ویښو زلمیانو د خوځښت د دورې پر مهال په پښتو ژبې او ادب کې ښکاره او روښان بدلون هم د فورم له پلوه او هم د محتوا له نظره رامنځه شو؛ په دې دوره کې د پښتو ژبې ډېر ښکلي او په زړه پورې اثار ولیکل شول، په شعر کې نوي مفاهیم ځای کړل شول چې د شاعرانو د فکر خط او د ذهني نوي درک انعکاس په کې له ورایه لیدل کېږي.

ادبي ټوټې، لنډې کیسې، ډرامې او ادبي څېړنې په دې ټولو برخو کې د مرحوم بېنوا په قول "یو غلی شان ته انقلاب" را منځته شو چې موخه یې "د زماني رنګ بدلول" و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که لږ مخکې مودې ته ولاړ شو، نو د ظاهر شاه د سلطنت په دوهمه لسیزه کې پښتو ادب له یوې خوا د پښتو ژبې د تعمیم او پیاوړتیا له جریان سره او له بلې خوا په هېواد کې د ډیموکراسي او ریفورم غوښتنې له نهضت سره په ملګرتیا کې ډېر ژر نوي پړاو ته داخل شو او که داسې ووایو چې د ویښتیا پړاو تر زیاتې اندازې د ویښو زلمیانو له سیاسي غورځنګ سره اړه لري، نو بده به نه وي. که ژوره څېړنه وشي او له حقیقت څخه سترګې پټې نه شي نو د پښتو ژبې نږدې ټول نامتو لیکوال او شاعران د ویښ زلمیانو په سیاسي سازمان کې شامل وو او له همدې امله د دغه وخت د زیاترو لیکوالو او شاعرانو لیکنې ټولنیز او سیاسي رنګ لري.

په دې دوره کې د پښتو ژبې په ډګر کې د شاعرانو، لیکوالو او ادب پوهانو له خوا ډېر بډای اثار ولیکل شول او په دغو اثارو کې دوه عمده موخې نغښتې وې چې یوه د پښتو ژبې او ادب بشپړتیا او ودې ته پام او بله د ټولنې بېلابېلو ستونزو، لکه ټولنیز او اقتصادي، بې عدالتي او ظلم په کې بربنډ شوي او همدارنګه د واکمنو کړیو، دولتي واکدارانو او نورو د زور خاوندانو تېروتنې او د خلکو پر وړاندې د هغوی ناسم چلند بربنډ او رسوا شوی دی.

په دې دوره کې د ډېر پاخه قلم، پراخه دید خاوندانو او د ادب نوموتو څېړو یو پر بل پسې سرونه راپورته او د پښتو ادب بډایه کولو ته یې متې را ونغاړلې چې له دې ډول ادبي څېړو څخه یو هم د هېواد نامتو لیکوال، سیاست پوه، شاعر او د پاخه بصیرت لرونکی شخص ارواښاد سید شمس الدین مجروح و.

مجروح نه یوازې د پښتو ژبې په ادبي برخه کې، بلکې په سیاسي ډګر او د ټولنې په فلسفي اړخ کې ژوره مطالعه درلوده او په یادو برخو کې یې د ژوند تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروستۍ سلګۍ پورې خپل قلم تاند او ژوندی ساتلی و او هغه څه تــرې پــاتې دي چې په یوه نسل او یوې سیمې پورې اړه نه لري، بلکې په ټولــو انســانانو او نسلونو پورې اړه لري او په هر وخت کې له لیکنو یې خلک پــوره ګټــه پورتــه کولی شي. دغه راز یې د پښتو ادب د بډاینې لپاره په فکري ډول او ژوره توګه نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې او په دې برخه کې یې شوی کار د لمــر پــه څېر روښانه او جوت دی.

په ادبي، سیاسي، ټولنیزو او فلسفي برخو کې که د مجروح لیکنــې پــه دقــت سره ولوستل شي، نو هغه مهال بیا لوستونکی پوهېږي چــې دغــه ارواښــاد د څومره ژور فکر، لوړ او قوي استعداد، پراخ لید او اوچت ارمان څښتن دی، نــو همدغو ځانګړتیاوو ته په کتو مې وپتېیله چې د هغه یــو شــمېر ادبــي مقــالې راټولې کړم او کتابي بڼه ورکړم، نو په همدې تکل مې له (۱۳۲۰تــر ۱۳۵۰کــال) پورې د کابل مجلې په بېلابېلو ګڼو کې له ډېر زیار وروسته د هغه ادبي مقــالې راټولې او همدارنګه مې له قلم مجلې یوه مقاله او له ځینو نورو کتــابونو څخــه ځینې مقالې راواخیستې او په دغه کتاب کې مې اوډون ورکړ.

کله چې ما دغه مقالې په دقیقه توګه مطالعه کړې نو د ارواښاد مجروح له دغو ادبي مقالو څخه راته دا جوته شوه چې مجروح د ګوتو په شمېر د  هغو ادیبــانو او لیکوالو له ډلې څخه هغه مخکښ لیکوال دی چې فکــر یــې تولیــد کــړی، وړاندې کړی او نور یې دغه فکر ته هڅولي دي؛ داسې فکر چې تــل نیمګــړي فکرونه رغوي او په غلطو لارو تلونکي د خپل هغه فکر په قوت چــې حقیقــي، ملي او اصلاحي بڼه لري، انساني او عقلاني لارې ته رابولي. د مجروح په څېر د فکر تولیدوونکي لیکوال به په پښتو ادب کې زما په نظر لږ ولیدل شي او که په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې برخه کې څېړونکي هر اړخیزه ژوره څېړنه وکړي نو د هغه فکري تولید بــه ښه جوت شي او له برکته به یې اصلاحي لارې روښانه او وغوړیږي.

کله چې لوستونکی دغه مقالې مطالعه کوي نو بیا ورته جوتیږي چې پــه هــره مقاله لیکوال له سرلیک څخه نیولې تر پایه دومره تمرکز کړی چې یــو حــرف یې هم له موضوع دباندې او هغه خوا نه دی ایښی، بلکې لــومړی یــې د لیکنــې لپاره موضوع انتخاب کړې، بیا یې د موضوع مطابق زړه راښــکونکی ســرلیک ورکړی او نور یې لیکنه پیل کړې، هر لیکنه یې په واضح پیغام او لارښوونه پای ته رسولې ده.

د ده د ادبي مقالو قوت دومره پیاوړی او پوخ دی چې د لوستونکي په ځو ځلــه لوستو هم ادبي تنده نه ماتیږي او بیا بیا یې لوستو ته زړه کیږي، ټولــه لیکنــه یې په ذهن کې په پوره توګه ځای نیسي او ذهن نشینه کیږي. پــه دې لیکنــو کې ځیني ځایونه لیکوال داسې استدلالونه راوړي چې هر نه قانع کېدونکی تن خپله پرې قانع کیږي چې دا هم د لیکوال د استعداد او قلم قوت په ډاګه کوي.

نو ویلی شو چې د مجروح یادې مقالې د محتوا له اړخه نه یوازې چې په تــول پوره دي، بلکې د لوستونکو لپاره یې یو ښه ادبي درس او زده کــړه هــم بللــی شم. د دغسې مقالو ایجادوونکي د نورو لپاره تل ښه سرلاري کېــدای شــي او باید له لیکنو یې تل ګټه واخیستل شي څو یې روح ورسره ښاد وي.

که مجروح اوس په دې فاني نړۍ کې نه لرو خو د یادو مقالو پــه لوســتو ســره لوستونکی فکر کوي چې همدا اوس له مجروح سره مخامخ ناست دی او ادبــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحث ورسره کوي. د هغه هره ادبي مقاله یو ژوندی بحث، د زده کړې یو ټولګی او مکتب دی، نو په همدې اساس ویلی شم چې د دغو مقالو له منځپانګې څخه زموږ په څېر زده کړیال هغه څه زده کولی او ترلاسه کولی شي چې تــر اوســه یې نه دي زده کړي.

د ادب ښوونځي او مکتب هر شاګرد دې یو ځل د محتوا له اړخه د مجروح دغه ادبي مقالې ولولي چې په لوستو سره به ډېر څه ترې زده کړي.

دغه کتاب د هغو څېړونکو لپاره چې غواړي د مجروح ادبي مقالې ترلاسه او یا هم د مجروح، د ژوند، اثارو، فکري طرز، د هغه د قلم له نبوغ او استعداده خبر او په څېړنو کې ترې کار واخلي، د یوې سرچینې په توګه ورسره مرسته کولی شي.

زه دا نه وایم چې دغه کتاب به ټول په تول پوره وي او کمی به ونه لــري، خــو دغه هڅه د علمي کارونو او د اکاډمیکو شخصیتونو د اثارو خونــدي کولــو پــه برخو کې یو پر ځای ګام بولم.

په پای کې به دومره یادونه وکړم چې په کتابي بڼه د دې مقالو د راوړلو هــدف او ارزښت په دې کې دی چې له یوې خوا دغه تیت او پرکې مقالې لــه ضــایعه کېدو او ورکېدو وژغورل شي او بله دا چې څېړونکــي او نــور لوســتونکي پــه اسانۍ سره په یوه ځای په دغه کتاب کې دغو ادبي مقالو ته لاسرسی ولري.

بله موخه دا وه چې له دې مقالو څخه د مجروح د تحلیــل لــه لارې، اصــولو او روش څخه نه یوازې ځوان کهول اګــاه، بلکــې لــه فکــر، لیــد او د مقــالو لــه منځپانګې څخه یې اغېزمنه او پام وړ ګټه پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنگه يو اهميت يې په دې کې هم وينم چې د يوې علمي موضوع پــه اړه څېړنې سره زمونږ ژبه او فرهنګ وده کوي او په دې برخه کې يو بل علمي ګــام اخيستل کېږي، زمونږ علمي پانګه درنېږي او د علمي څېړنې تګــلاره پياوړتيــا مومي.

په پای کې دومره يادونه کوم چې ددغه کتاب يادې مقالې او تحليلونه مــې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې د ماســټرۍ د تېــزس لپــاره چمتو کړي و او د تېزس له دفاع څخه وروسته استادانو دې ته وهڅــولم چــې دغه مقالې او تحليلونه په کتابي بڼه چاپ کړم ترڅو نور لوستونکي هم تــرې برخمن شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د سید شمس الدین مجروح ژوندلیک

سیدشمس الدین مجروح په ۱۲۸۹ هـ کال کې د کونړ ولایت پــه شــینکوړک کلي کې زیږېدلی دی، پلار یې سید حضرت شاه نومېده چې د ترګړو په پاچــا صاحب مشهور و. په درې کلنۍ کې د پلار له سیوري بې برخې شوی او بیا یــې پالنه د مور پرغاړه شوې ده. (۱: ۱۰۰۷)

## زده کړې:

مجروح خپلې لومړنۍ زده کړې په خپل کلي کې تر سره کړې دي، هغه مهال د هېواد د یو شمېر نورو سیمو په څېر ددوی په ځای کې هم ښوونځي شتون نــه درلود، هغه ونه شوای کړای چې هغــه مهــال لــومړنۍ زده کــړې پــه رســمي ښوونځي کې وکړي، نو په شخصي توګه یې لومړنۍ زده کړې په کور کلي کــې وکړې او د مور پالنې چې باسواده وه له هغه څخه ستر شخصیت جوړ کړ.

نوموړي د خپلو زده کړو په اړه په یوه لیکنه کــې ویلــي: (( مــا چــې د خــاور خاشاکو د لوبو دوره طی کړه، پاځېدم جامې مې وځنالې او د کوچنیتــوب دوره مې پای ته ورسوله، بیا مې غیر د کتاب او قلم نه بله مشغله نه لرله.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی لیکي چې د کلي شاوخوا لوړ غرونو، ځنګلونو، روانو اوبو، رودونـو او نـورو قدرتي مظاهرو په ده کې د شعر او شاعرۍ قریحه ژوندی کړه. (۱:۱۰۰۷)

مجروح د نورو علومو ترڅنګ په دیني علومو او په ځانګړې توګه په فقه کـې زیاته پوهه درلوده.

که څه هم ارواښاد مجروح رسمي زده کړې نه دي کړي، نو د پښـتو ژبـې تـر څنګ په دري، عربي، اردو او انګلیسي ژبو هم پوهېده او دغه وړتیا دده سـتره علمي خزانه وه.

## دندې:

مجروح په کال ۱۳۱۳کې چې ډېر ځوان و د انتصابي سناتور په توګـه د اعیـان مجلس (سنا) ته لاره پیدا کړه.

بیا په ۱۳۱۷کال کې ورپسې د ملي بانک د تفتیش رییس او د ډیپـو مسـوول وټاکل شو، د همدې کال په پای کې د قند فابریکې او د پټرولو د شرکت رییس شو،د دولتي انحصاراتو د ریاست دنده یې هم تر سره کړه،په ۱۳۲۹کال کـې د قبایلو د خپلواک ریاست مشر شو.

د ډاکټر محمد یوسف په انتقالي دوره کې ( ۱۳۴۱-۱۳۴۴)پـورې د عـدلیې د وزیر او د صدارت مرستیال او د ۱۳۴۴کال د اساسـي قـانون د کمېټـې د اووه کسیز کمېسیون رییس وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډیموکراسۍ په لسیزه کې په ۱۳۴۶کال کې په مصر هېواد کې د افغانستان سفیر شو، بیا د مشرانو جرګې انتصابي غړی شو او په کال ۱۳۵۲کې متقاعد او په کور کېناست.

پر افغانستان د روسانو د یرغل پر مهال مجروح هم د یو زیات شمېر نورو افغانانو په څېر د هېواد پرېښودو ته اړ شو او پېښور ته لاړ. هلته یې د کنفرانسونو، غونډو او نورو دیپلوماتیکو هلو ځلو له لارې هېوادوالو ته پوره خدمت وکړ. په پېښور کې تر یوڅه وخت وروسته نوموړی امریکا ته لاړ.

## ادبي هڅې:

د مجروح ملي ادبي استعداد هغه مهال یو چا ته ښه څرګندېږي چې کله دده شعر او نثر په دقیقه توګه مطالعه کړي، د کلام موضوع، خوږوالی، پیغام او روان والی یې له نظره تېر کړي.

د ملي ادبیاتو یوه ځانګړتیا داده چې په هغو کې د ټولنې عمومي آرمان ځای او د ټولنې له شتون سره سمون ولري ملي هویت څرګندوي او په دغسې ادبیاتو کې ژور پیغام هم پروت وي، ملي ادب د ټولنیز شعور په اوچتولو او پخولو کې لویه ونډه لري په نوره نړۍ کې هم د تاریخ په بېلابېلو پړاونو کې داسې ادبیات رامنځته شوي.

مجروح په پوره ځواک د ادبیاتو ملي اصالت رامنځ ته کړی او دده په آثارو کې د ملي هویت د خوندیتوب ترڅنګ د ولس ملي آرمانونه او د هېواد د ترقۍ پیغامونه نغښتي دي، دده یو لوی پیغام او آرمان صدق او صفا، خلکو سره وفا او همدردي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغې علمي ستې په سلګونو بېلابېلې مقالې ليکلي چې د هېواد په دننه او لــه هېواد څخه بهر په خپرونو کې چاپ شوې دي.

دده د ليکنو يوه ځانګړتيا دا وه، کله به چې چا د هېواد ملي ګټو پرخلاف ګــام پورته کړ، نو بې له وېرې به يې پرې نيوکه کوله او هرڅه به يــې ســپين ورتــه ويل. هغه کسان يې هم د خپل ليکني ګوزار نښه ګرځول چې د اسلام له کلمې څخه به يې د ځان په ګټه استفاده کوله. ده به چاته د مصلحت له مخې خبــره نه کوله، بلکې په آګاهانه توګه يې د هرې کمۍ پروړاندې خوله خلاصوله.

مجروح له مطالعې سره ډېره زياته مينه درلوده او همدا شوق ددې لامل و چې نوموړی په ادبي، ټولنيزو، فلسفي او ديني مسايلو کې د ښه تحليل خاوند و.

## نثر:

د مجروح نثر ته که څوک په دقت او ژوره توګه نظر وکړي، نو دومره قوي، پــه اصلي موضوع خرخبېدونکی، تللــی او خــوږ دی چــې پــه پيلېــدو ســره يــې لوستونکی تر پايه له ځان سره ملګری کوي او د دمې کولو چانس نه ورکوي.

ده په خپل نثر کې ادبي، سياسي، ټولنيزې او فلسفي موضوع ګانې رانغاړلي او يادو هرو موضوعګانو ته يې خپل اصطلاحات، جملې او لغتونه کارولي او په هره برخه کې لومړی سړی فکر کوي چې مجــروح يــوازې د همــدې يــوې برخــې متخصص دی، خو کله يې چې د نثر نور اړخونه مطالعــه کــړي نــو بيــا ســړی پوهيږي چې په نثر ليکلو کې د څه ډول استعداد لرلو خاوند دی. کــه پــه دري ژبه کې ( سرګذشت من ) ولولي نو بيا لوستونکی ښه يقــين کــولی شــي چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجروح په ادبي ليکنه کې که هغه پښتو او که په دري وي څومره پياوړی او لــه څه ډول ادبي خوږ او روان نثر څخه برخمن دی.

د مجروح خوږه نثري ژبه او د موضوع د رانغاړلو توان په ډيرو لږو ليکوالو کــې ليدل کيږي. هغه په خپل نثر کې تل هڅه کړې چې لوستونکی پــه موضــوع او ژبه کې لالهانده نه کړي، بلکې لوستونکی د موضوع له پيله تر پايــه لــه ځــان سره ورسوي او په ليکنه کې موجود پيغام په ورين تندي او بــې ســتړيا ورتــه وړاندې کړي.

د بېلګه په توګه يې ( له شعر نه څه غواړئ ) که دا نثر ولولئ نو بيا دده په ادبي قوت، درايت، پوهې، په دې برخه کې په کړې مطالعه او نورو اړخونــو ښــه لــه ورايه پوهيږئ او همدارنګه نورې ډيرې دې ته ورته ليکنې هم يادولی شو.

شعر:

زه که هر څومره د مجروح د شعر په اړه خبرې وکړم او يــايې پــه اړه ببلابېــل اړخونه راواخلم، دومره به د پام وړ نه وي، لکه چې خپلــه مجــروح پــه دې اړه ويلي: " ما چې د خاورو خاشاکو دلوبو دوره طی کــړه او پاڅېــدم جــامې مــې وڅنډلې، (يعني د کوچنيتوب لومړۍ مرحله مې پای ته ورسوله) بيا مې غير له کتاب اوقلم نه بله مشغله نه لرله، زموږ دکلي دخواوشــا دلــوړو غرونــو، ګنــو ځنګلونو،روانو اوبو، ډکو رودونو او نورو قدرتي مظاهرو په ما کې د شعر شاعرۍ قريحه ژوندۍ کړه او دکلي مستريح بې کشمکشه حيات او طولاني تنهــايي او يوازې والي او دکونړ د درې د زيات وخت چپې چوپتيا زه په کايناتو کې تفکــر ته اړ کړم او ما کې يې فلسفي ذوق پيدا کاوه، مګــر هــر څــو چــې دا ورځــې تېر بدلې په ما کې د شاعرۍ ذوق او تفکر اشتياق زياتېده، هغومره زمــا تنــده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر بېده او زه يې تجسس ته او په هر څېز کې دتشبث خواته ســوق کــولم. مــا ديوه ښه مربي د ضرورت احساس کاوه او د دې تندې د مــاتولو د وســايلو پــه لټون کې شوم، مګر افسوس چې دا وسايل تر يوه حده ماته هغه وخت ميسر او دبعضې مربيانو سره مخامخ شوم، چې بيا وخت تېر و او زه تــر ســره پــورې د ژوندانه دکشمکش په ګرداب کې ډوب وم... "

د مجروح په اشعارو کې د زاړه ادب دنازکخيالو نزاکتونه شته اوهــم داوســني عصر اجتماعي او تنقيدي رنګ لري. ګل پاچا الفت د مجروح دمنتخبو اشــعارو په مقدمه کې ليکي:

"د ښاغلي اديب سيد شمس الدين مجروح له لوړې قريحې اوشــعر روزونکــي استعداد څخه ځينې داسې اشعار پيدا شوي چې که د اشعارو پيــرل او پلــورل رواج واى او د شعر په ورکړه راکړه ديوه شعر دبل کبــدلى مــا بــه خپــل څــو شعرونه د ده په يوه شعر ورکړي وو... " (۱: ۱۰۰)

آثار:

سيدشمس الدين مجروح، نه يوازې دا چې ښه محقق او ساستمدار و، بلکــې د شعر او نثر تومنه يې ډېره پخه او خوږه وه.

مجروح د شعري ټولګو ترڅنګ نثري ټولګې هم لري، چې يو شمېر يې چاپ او ځينې يې ناچاپ پاتې دي.

۱-منتخب شعرونه د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۳۷هه ش کال کې چاپ شــوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-یاد فریاد،دغه ټولګه په پښتو او دري ژبو ده چې په ۱۳۶۴کال کې په پېښور کې چاپ شوې.

۳-سرګذشت من، ټولګه په ۳ ۱مخونو په ۱۳۹۱کال کې د ۲۰۰۰ټوکه په شمېر په کابل د افغانستان ټايمز په چاپخونه کې چاپ شوې ده، په دې ټولګه کې سيدشمس الدين مجروح په خپل قلم ټولنيز، سياسي، علمي او ادبي خدمتونه چې د خپل ژوند په اوږدو کې يې خپلې خاورې او هېواد ته کړي ليکلي دي.

۴-مجموعه مقالات علمي، سياسي و اجتماعي، دغه ټولګه په ۱۳۹۱کال کې په کابل کې په ۴۶۹مخونو کې کابل کې په افغانستان ټايمز چاپخونه کې د ۲۰۰۰په شمېر چاپ شوی ده.

۵-منتخب شعرونه او يافرياد، په دوه نومونو دغه ګډه ټولګه له دې مخکې ځانته ځانته په بېلابېلو نومونو چاپ شوې دي، خو داځل دا دواړه عنوانونه کتابونه د يوې ګډې ټولګې په بڼه په ۱۳۹۱کال په کابل کې د ۲۰۰۰په شمېر چاپ شوې.

په دې ټولګه کې د سيدشمس الدين مجروح غوره شوي پښتو او دري شعرونه چاپ شوي. دا شعرونه که د شمېر په لحاظ لږ دي خو د کيفيت په لحاظ ډېر قيمت او ارزښت لري او زموږ د ادب غوره برخه جوړوي.

۶-پريشانه خوب: چې د دري د (خواب شگفت ) غوندې يو خوب په پښتو مثنوي نظم شوی، خو چاپ شوی نه دی.(۱:۱۰۱۹)

شخصيت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدشمس الدین مجروح چې د ټولنې په اړه یې ژوره مطالعه درلوده او په یوه کلیوالي چاپیریال کې رالوی شوی و، د ټولنې په مزاج تر نورو ښــه پوهېــده او هر ډول حساسیتونه یې درک کړي و، نو په همدې اساس یې د ژوند پــه ټولــو پړاوونو کې هڅه کوله چې خپل استعداد، وړتیا او پروګرامونه د خلکو او ټولنې په ګټه وکاروي او د خپل شخصي ژوند د ښه والي لپاره یې هیڅکله هڅه نه ده کړې.

هغه آزاد طبعیت درلود،خبرې یې سپینې وې، نیوکې یې پرځای وې، مصلحت یې چندان نه خوښېده، پر چا یې ځان پورته نه ګڼــه، هــره ورســپارل شــوې دولتي دنده یې په خپل استعداد په لازمه بڼه سرته رسوله.

خلاصه ټنده او له خندا ډکه خوله یې لرله، خبرې یې له مفهومه ډکــې وې او د خبرو روان والي یې عامفهمي پنځولې وه.

# سیاسي لید لوری:

**سیدشمس الدین مجروح د هېواد نامتو ادیب، لیکوال، قانونپوه،فیلسوف، عالم، مفکر او د هېواد پېژندل شوې سیاسي څېره وه. هغه د ژونــد د نــورو برخــو ترڅنګ د هېواد په ملي مسایلو کې رغنده ونډه درلوده.**

**مجروح ملي یووالي، ډیموکراسۍ او ملي تفکر لپاره کار کاوه، له وروسته پاتې والي څخه د ټولنې د وګړو راېستلو ملي مفکوره یې هغه آرمان و چې یو وخت دغه ډول حالت په خپلو سترګو وګوري، نو همدې موخې ته د رسېدو لپاره یې ډېرې منډې ترړې کولې. ده د خپلو اجراتو په هره برخه کې د همداسې ملــي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**روحيې د درلودو په اساس آګاهانه اقدام کاوه. د هغه هڅه دا وه چې د ملي وحدت، ملي تفکر او ملي ليد لوري لپاره بايد په هېواد کې سياسي، ټولنيزو، اقتصادي او موسساتي ( عقايد، رسوم، لوايح، مقررات او نور) ترتيب او ټينګښت ومومي.**

**مجروح په خپل ټول عمر کې د يو واقعي ديموکراتيک او د خلکو د خوښې نظام ارزومند و او د ټولو هغو دموکراتيکو، مدني ملي ټولنو سره يې نږدې اړيکې او همکاري درلوده چې په وطن کې د يو دغسې نظام غوښتونکي وو.**

**مجروح د سياسي اجتماعي نظامونو د تدريجي تحول طرفدار و چې د جامعې د شرايطو او تحولاتو مطابق د تکامل پړاوونه ووهي.**

**مجروح انقلابونه ( چپي ا و راستي) دوطن په ګټه نه ګڼل.**

# د مجروح ځانګړنې:

## له جرګو او مرکو سره د مجروح مينه:

**مجروح به تل په خپله سيمه کې له حده زياته هڅه کوله چې کومه جرګه او مرکه دده له موجوديت څخه پرته تر سره نه شي او دغو دوديزو پريکړو او تصميمونو ته يې حتمي ځان ورساوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په جرگو او مرکو کې خبرې نه کولې، پرېکړې يــې نــه کــولې او نــه يــې غوښتل چې د کوم لوري په گټه او يا زيان خوله خلاصه کړي، بلکــې پــه هــره جرگه او مرکه کې يې په دې موخه گډون کاوه چې لــه مخــورو، خولــه ورو او مشرانو څخه خبرې، پرېکړې، تصميمونه او په پښتنې ټولنه کــې د ســتونزو د حل لارو، لارې چارې زده کړي، خپل استدلال قــوي کــړي، د ښــکېلو خــواوو خبرې واوري او د دغو جرگو او مرکو په نچوړ ځان وپوهوي.

## په غم او ښادۍ کې د مجروح گډون:

مجروح په کليوالي ژوند کې هغو ارزښتونو ته ډېر اهميت ورکاوه چې په اساس يې دغه ژوند د وگړو ترمنځ غښتلی کيږي، مينــه يــې تــرمنځ زيــاتيږي او د متقابل احترام مزي يې سره ټينگيږي، چې هغه د کليوالو او خپلوانــو د غــم او ښادۍ په مراسمو کې گډون او د هغوی په ټغر ناسته او ور سره ځان يــو رنگــه ښول دي.

کله به چې مجروح په کلي کې و، نو هيڅ جنازه، فاتحه، کــوژده، واده او نــور د راشه درشه دودونه نه ترې پاتې کېدل، خو که به کله له کونړ څخه لرې چېرته په دنده کې و او بيا به له مودو وروسته کلي ته راغی، نو لومړی به يې له کورنۍ څخه په کليو کې د غم او ښادۍ پوښتنه وکړه او د هغو کورونو لېست بــه يــې واخيست چې د چا فاتحه او يا د چا د خوښۍ لکه د کوژدې او يا واده مبــارکي وه، بيا به د مهم والي په اساس په ټولو راوگرځېد، دغه کار يې په کليوالي ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې پر ځان پور ګاڼه او کله به یې چې ټولو دغه ډول کورنیو ته سر ورښکار کړ، نو بیا به یې ویل چې اوس مې ایله پور ادا کړ.

## له ماشومانو سره مینه:

له ماشومانو سره د مجروح مینه بې حده زیاته وه، دغسې بــه یــې پــر ځــان راټول کړي و تا به ویل چې کلي ته ملنګ راغلی او حتما ماشــومانو تــه کومــه جادویي ټوټکه کوي، خو چې کله به ورننوتې شوې نو وبه دې لیدل چې مجروح یې په منځ کې ناست دی او د هغوی په ژبه او مزاج ورسره خبرې کوي.

په اخترونو کې به له مجروح څخه هیڅ نه قضا کېدل چــې ماشــومانو تــه دې پیسې ورنه کړي، د اختر له لمانځه وروسته به یې چې لومړی کار کاوه هغه بــه یې د کلي ماشومانو ته پیسې ورکولې او له هغه وروسته به بیا کور ته لاړ.

کله به چې مجروح په دنده کې و او یا به چېرته لرې تللی و، نو له اختــر څخــه مخکې به یې د کلیوالو ماشومانو د اختر د پیسو لپسټ جوړ کړی و او هغوی ته به یې له مخکې پیسې رالیږلې.

## رخصتي:

مجروح به که له کونړه لرې د هېواد په هر ګوټ او یا به له هېواده بهر و، نو کله به یې چې د رخصتۍ مهال راورسېد، نو له مخکې به یې ددې لپاره پلان جــوړ کړی و چې څنګه به یوځل تر کلي پورې منډه کړي، د خپل کلي په غېږ او واړه راوګرځي او له هغوی سره خپله رخصتي تېره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجروح ته به هغه رخصتي ډېره غوره او خوندوره وه چې په کونړ کې به يې په خپل کلي کې تېروله.

## مړينه:

سيد شمس الدين مجروح په ۲۰۰۲ ز ېږديز کال کې د جون په ۲۴مه د دوشنبه په ورځ د امريکا په متحده ايالتونو کې د کډوالۍ په حالت کې وفات شوی دی.

مړی يې په درنښت افغانستان ته راوړل شو او په کونړ کې پــه خپلــې پلرنــۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

د کابل په هوايي ډګر کې يې جنازې ته د هغه مهال ولسمشــر حامــد کــرزی، جهادي رهبران،د کابينې او ملي شورا غړي، سلګونه علمــا او قــومي مشــران ورغلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مجروح په اړه د پوهانو نظرونه

سیدشمس الدین مجروح په پښتو ادب کې هغه ځلانده څېره تېره شوې چې له پوهې، قلم، استعداد او بصیرت څخه یې هیڅوک هیڅ وخت سترګې نه شي پټولی، نه به یې په اغلب ګومان څوک په اړه منفي نظر ولري او زما په فکر لامل به یې هم همدا وي چې د هغه په ژوند کې ټول سوچ په علمي کارونو،هېوادنۍ مینه او یووالي کې وو، نو ددغه ډول علمي ستو په اړه بیا منفي نظرونه یانه وي او که احیا موجود هم وي نو په نشت حساب وي.
دلته غواړم د ارواښاد مجروح په اړه د زیات شمېر پوهانو د نظرونو له جملې څخه د مشت نمونه خروار په توګه یو دوه غوره، لنډ او له مفهوم څخه ډک نظرونه را واخلم.
استاد بېنوا د ارواښاد مجروح په اړه ویلي: (( ښاغلی مجروح د مطالعې ډېر شوق لري او د همدغه شوق اثر دی چې په اکثرو ادبي، اجتماعي، فلسفي او مذهبي سختو مسایلو کې د ښه تحقیق خاوند دی، په تېره بیا د روحیاتو او فلسفې سره زیاته دلچسپي لري... دا ښاغلی خنده رویه باوقاره سړی دی، آزاد طبیعت لري او په حق ویلو کې د چا پروا نه ساتي.))
د اطلاعاتو او کولتور پخواني وزیر ډاکټر سیدمخدوم رهین د مجروح په اړه ویلي دي چې مجروح د هغو کسانو په ډله کې و چې د ډیموکراسي په لار کې یې صادقانه هڅې کولې چې د اساسي قانون او د ډیموکراسۍ لسیزه یې د زیار ګاللو پایله وه.
فقید پاچا هم پر هغه پوره باور او اعتماد درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## د سیدشمس الدین مجروح ادبي مقالې

### د پښتو لیکلو بشپړ او مشترک سبک

د کابل مجلې په ۱۴۸ ګڼه کښې ښاغلي حبیبي له دې پورتني عنوان لاندې د اقتراح په ډول څو اساسي او مهمې پوښتنې کړې او د پښتو د حقیقي او معنوي ژوند په نبض باندې یې ګوتې ایښې دي. د همدې اقتراح په اثر کښې ښاغلي او فاضل ادیب سید شمس الدین خان مجروح چې په ادبي مسایلو کښې ښه بصیرت او عمیق نظر لري، مونږ ته یو خوږ او پوخ مضمون را استولی دی، چې دلته یې نشروو او له نورو پوهانو څخه هم غواړو چې خپل قیمتي نظریات ونه سپموي. ((د صحافت څانګه)).

ښاغلی فاضل حبیبي!

ګران غوندې سوال مو کړی، چه سړی کولی شي په لږ قدر ځان کړولو او اوږو پورته غورځولو د دې موضوع استقبال وکړي او ځان خلاص کاندي، مګر زه هم د دې موضوع سره ډېره علاقه لرم، نو به پرې وغږېږم. زړه مې غوښته چه کـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک پردې موضوع خبرې وکړي او څه واورم، ښه شوه، تاسې یاد کړه او څه مو پرې وویل. له همدې خبرو موقع په لاس راغله، چه څه ولیکم. یقین دی چه زما جواب به ستاسې د قول تایید او اکثر به ستاسې د خبرو تکرار وي، خو هر څه چه دي، همدا زما نظر یه ده.

سبک څه ته وايي؟

ګومان کوم دلته به غرض له هغه روح څنې وي چې په یوه نثر کښې مونده شي او د هغې تحدید و تعریف څه قدر ګران دی او د سر د سترګو نه زیات د زړه په سترګو (ذوق) ښه لیدل کېږي، څه رنګه چه د روح نه د روح په مظاهرو تعبیر کولی شي، داسې به سړی څه ناڅه سبک ته هم ګوته ونیسي. یعنې سبک هغه شی دی چې لغات او الفاظ د اعضا او جوارحو غوندې، صرف و نحو د ضربان قلب او د وینې د چلند په شان د هغې د پاره کار کوي او چې دا ټول (او پاته نور) سره راغونډ شي، نو یو موجودیت ترې جوړ شي او څه رنګه چه د اعضاء د تناسب نه او د طبیعي نظام د ښه چلند نه جمال او نشاط پیدا کېږي، داسې هم د سبک ښه والی د هغې د اعضاوو پر تناسب او انسجام پورې او د هغې د حیاتي نظام په صحت او ښه والي پورې اړه لري.

تاسو پوښتنه کوئ، چه (آیا پښتو د نثر لیکلو بشپړ او مشترک سبک لري؟ که یې لري، نو آیا دغه سبک ښه او کافي او د ادبي ښېګړو وړ دی که یه؟). بشپړ او مشترک سبک؟! نه! نه یې لري! او په سلو کښې سل کېدی هم نه شي او باید توقع یې هم ونه کړو.

ځکه دوه کسه غبرګوني (توامین) چه خلک وايي، په یوه خېره دي، بیا هم سره څه توپیر لري او خپل خپلوان او دقیق او حساس خلک یې پېژني او څه نا

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه مميزات لري، چه پر هغه پېژانده شي: په يو مملکت کښې هر څوک د جنوب او شمال او شرق او غرب اوسېدونکي د هغوی له کړو وړونه او له بدني ساختماني جوړښت څخه پېژندی شي.

هو! يو قوم او ملت چه نسبت بل قام ته او يو نژاد نسبت بل نژاد ته د قيافې او ساختمان په لحاظ بيل او جلا وي او دومره څه مشترکات چه فردي او ناحيوي اختلافات په هغه کښې سره راغونډ شي، لري؛ کېدی شي چه داسې يو مشترک او بشپړ سبک هم پښتو ولري او پيدا يې کړي، د پخوانو د سبک مغايرت د اوسنو سره د اوسنو د سبک بېلوالی يو له بله ډېر ښکاره او روڼ دی. د عربي تاثير، د فارسي اغېزه، د اردو رنګ زمونږ په نثرونو کښې له ورايه ښکاري. او د سبک اشتراک يې وران کړی دی. کله کله لا سړی د اروپايي ژبو جلوې هم پکښې ويني او د تقليد او پيروۍ لار له سړي نه ورکه شي او هک حيران پاته شي.

ښه نو چې لري يې نه، نو د ادبي ښېګړو د پاره د کفايت سوال ته خو هډو ضرورت پاتې نه شو. که څه هم ځو تنه پياوړي پېژنم، چه ښه څه ليکي او خبرې يې پر سړي خوږې لګي، ولې بيا هم زما دا منفي جواب د هغوی بې احترامي نه کوي او رښتيا هم ده.

تاسو بله پوښتنه داسې کوئ: ((آيا د سبک تکميل ممکن دی؟ او اوسني پښتانه د پښتو د نثر دپاره بايد څه وکړي؟)) هو! ممکن دی او د اکمال په لاره کښې به ګړندي قدمونه واخلي چه په الوتو الوتو به روان شي. د طبيعت د غير متغير قانون په ترڅ کښې (چه موجوديت ته حرکت وايي، حرکتونه هم د کمال په لور ګڼل کېږي) دا به هم ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدازده چه څه به ترې جوړ شي؟! دا اوسني سبکونه به یقینًا یو وخت (عینـــاً) د فواید الشریعه د آهنګ په شان عجیب و غریب بریښي او ښه ښه تحولات او تطورات به پکښې وشي او که هغه لږ څه لازمي مغایرت د هغه عصر په ســـبک کښې بیا هم موجود وي، سترګو ته به نه راځي او بد به ښکاري. زه د خوشبېنۍ په خوب کښې خبرې نه کوم او نه د وربځو اوښان جوړوم، بلکه د تطور قـــانون دا جرئت راکوي! او د ژبو تاریخي سرګذشت پرې شهادت وايي. هـــو! د فنـــا او زوال، د انحطاط او ورکېدو مثالونه هم شته، که تـــاریخ څـــه هېـــر کـــړي وي، د زمانې په یاد دي او شپو ورځو پخپله لمن کښې نغښتي او له ســـترګو یـــې پنـــا کړي دي. خو ترڅو پښتون او پښتونواله ژوندۍ وي، پښتو به هم مخ په وړاندې درومي، که (لا سمح الله) مونږ نه وو، دا به نه وي!

پاتې شو، ستاسې د سوال دوهمه برخه (چه اوسني پښتانه د پښـــتو د نثـــرو د تکمیل دپاره څه کولی شي) دا د مطلب ټکی دی. او هـــم دا نقطـــه ده چـــه لـــه نظري خوا نه یې عملي او حیاتي قېمت زیات دی. تاسې په جواب کښې هـــم د موضوع حق ادا کړی او ښه څه مو ویلي دي، مثلاً په دې نظریه کښې ((چه ژبه د خپلې پالنې تر لمړۍ دورې ووته او د ادبي نهضت لمړني پوړونه یې پرې کړه، هلته نو یو مشترک او ښکلی د لیک سبک مومي)) درسره شریک یم. بل ځای وايي: ((د ژبې د لیک کوم سبک جوړول یو ارادي او د یوه سړي مختـــرع کـــار ندی)) هو! په دې کښې هم ستاسې ملګری یم.

مګر دومره قدر ده، چه یو سړی د یو شهکار په ابستلو مخترع ګڼـــل کېـــږي او په ژبه کښې د سبک مجرا بدلولی شي.. مثلاً: قرنونه قرنونه د سعدي د اسلوب تعقیب خلکو کاوه، او کلونه کلونه د شامنامې غوندې (رزمي- تاریخي) مثنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګانې شعراء وليکلې، ګويا دغو سرو د ژبې په دنيا کښې ادبي انقلاب پيدا کړ او د يو نوي سبک طرف ته ميلان د دوی د آثارو په راوتلو شروع شو، مګــر ډېــر بطي! او لا سرې ورته غير شعوري هم ويلی شي!

هرکله چه داسې شيان منځ ته راشي، نو بيا خلــک زړې ســندرې پرېــږدي او نوی تال را واخلي. بيا څوک د مطلب آغاز همېشه په (نقل کا، وايي) لکــه چــه څه موده مخ کښې کېده، نه کوي او بيا هر مضمون (په څرګنده خبــره ده...) او يا داسې نورو جملاتو سره نه شروع کېږي، څوک غورځي او څوک ولاړ ېــږي او هی پر دغه لار ځي، که ځای ته ورشي که نه، خو لار (قابو قــابو) يــوه وي، دا لا څه کوې چه داسې آثار په چا کښې د ابتکار قريحه ژوندۍ کړي او د اســتعداد د خاوندانو د آئينې نه د تقليد او د محافظه کارۍ ګردونه پاک کړي او پــه چــا کښې بالعکس نوی جمود پيدا کړي او د خپل ځان د تقليد احساس پرې په هر څه غالب کړي.

خو داسې آثار کله کله د ادب په آسمان کښې لکه شهاب ثاقب ځلېږي، اما رڼا يې تر ډېره پاته وي او د ډېر عالم سترګې مخکښې يا وروسته ور واړوي. ګــورو به چه دا سکه به د پښتو په نثر کښې د چا په نامه وهل کېږي او دا سويه بــه د چا نصيب شي؟ او دا زوی به پښتنه مور کله پښتون قام ته وړاندې کړي؟ اوس سم دستي زمونږ دا فريضه ده چه ډېر څه وليکو! او همېشه يې وليکو او هرڅه وليکو!! او د پښتو په خپل رنګ کښې ليکونه شروع کړو، د جامعې په مخ کښې به يې ږدو، د هغې ذوق به پخپله په انتخاب لاس پورې کړي، ښه به اخلي، بــد به پرېږدي. ورو ورو به هغه څه چه د جامعې وجــدان او ســليم ذوق يــې ښــه قبلوي، د يو سبک په حيثيت په ميدان کښې ودرېږي او ټول به د هغې خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

منده‌ې وهو. د بقایا صلح قانون به په کښې هم خپل رول لوبوي، څه به فنا کوي او څه به روزي. د نثر لیکلو او د سبک د ښه (واضح) ښکاره کېدلو دپاره ښه زمینه او مساعد میدان ادبي پارچې او د قصو کتابونه دي، خو چه ترجمه مرجمه نه وي او د پښتو د د ماغ محصول او د پښتون د علم او ذکاء تحفه وي او د پښتنو د ماحول او پښتني روایاتو څخه یې الهام اخیستی وي، بل د دې سیر د سرعت د پاره انتقادات هم ډېر خدمت کوي او دا حرکت تر یو حده ګړندی کولی او منظم کولی شي.

باید په دې ضمن کښې له انتقاداتو نه غفلت ونه کړو او همېشه د انتقاد په وسیله د سبک د خرابوالي مخه ونیسو، خو شرط دا دی چه لیکونکی به خفه کېږي هم نه؟

ما مخ کښې وویل چه (د پښتو په خپل رنګ کښې لیکونه شروع کړو) زړه مې غواړي، دا ټکی په غټ قلم ولیکم او یا دلته درکلام د فن دقایقو ته لاس واچوم او خپل خلک خپل مطلب ته ښه ملتفت کړم، خو وېرېږم چه دا لنډه جمله به زما مطلب ښه ادا نکړي او چه زما په زړه کې څه ګرزي، د هغې به ښه افاده ونه کړی شي. د پښتو د خپل رنګ نه غرض نامانوس لغات او کلمات نه دي، چه څوک دې په خپل لیک کښې هرومرو راوړي، د دې دا مطلب نه دی چه پردي کلمات دې هډو څوک وایي نه؟ رنګ هم عیناً د سبک په شان یو جوهري موجودیت دی، چه له ډېره وضاحته یې تعریف لږ څه ګران دی، خو جلوه یې ډېره څرګنده ده، د حمید بابا دا بیت رایاد شو:

که مې تېره مغلواله د رقیب کړه

زه به نه یم زېږولی پښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ! دلته کوم لفظي صنعت او يا تخيلي ابتکار موجـود دی؟ چـه دا بيـت د پښتنو په ذوق دومره خوږ لګي او دومره ډېر خوند ترې اخلي! دلتـه نـور څـه نشته، د پښتو خپلې قدرتي رنګ ځلېږي (ومن احسن من الله صبغة) دلته د يو پښتني اشکال تصوير باسي او پښتني سوګند خوري.

په يوه بله مصرع چه معاصرينو ملګرو کښې چا ويلې، زما دومره خوښه شـوې ده چه تراوسه مې لا خوند په خوله کښې دی، هغه داده:

وايي پښتانه په هر چا خپل وطن کشمير دی. دلته هـم نـور څـه نشـته، يـو پښتني ضرب المثل، لکه مرغلره چه سړی په ښه تناسب په هار کښې پېيـي، پيل شوې ده.

اوه! نثر مې پر ېښوده، د نظم ته مې خوله واچوله، معاف مې کړئ! خو ناکام دی، غواړم د پښتو دمخه پرده لرې کړم چه رنګ يې ښکاره شي.

او د دغه رنګ چلوه در وښيم هر چېرته چـه وي، مطلـب دادی چـه پښـتني منطق، پښتني امثال، پښتني جذبه د پښتو اصطلاحات او محاورات پـه خپلـو ليکنو کښې داسې ښکاره کړو، لکه يو مصور چه تابلو جوړوي او هلته د رنـګ اميزي مهارت استادانه وښيي. غرض دا دی چه هغه اوږدې او کږې وږې جملې چه سل موقوفه جملات،لکه (راغلی... وړی... تړلی) په پوه شوی و، تمام نه کړو او د مطلب ټکي ته له کږو وږو لارو نه رانشو او له کرغېړنو ترکيبـاتو نـه ځـان وژغورو او هغه څه چه د پښتو روح د هغې نه بېزاره دی، بېزار شـو او د سـليم ذوق په لارښودنه او قضاوت عمل وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښتانه دې څرنګ ښتانه وي؟

ښاغلو لوستونکو! ملتفت شئ زه ستاسې نه څه پوښتنه کوم؟ که ښه ملتفت شوي نه یاست، زه به د خپلې پوښتنې زیاته توضیح وکړم، نو بیا ستاسې خوښه چه څه فکر کوئ او یا کوم جواب راکوئ؟

زما سوال د ښتنو د اجتماع په کیفیت کښې دی، چه آیا تاسو څه آرزو لرئ چه دا جمعیت دې په دنیا کښې څرنګ جمعیت وي؟ او د دې جمعیت بنیاد دې په څه اساساتو بنا وي؟ او د دې جمعیت کړه وړه د دنیا په (تېرو شوو او یا اوسنو) جماعاتو کښې کومې ډلې ته ورته وي؟! او کومه نمونه دې ایډیال وي. د دې معنی دا نه ده چه ګوندې ستاسې آرزو د دې جمعیت په جوړېدلو کښې کوم ښکاره تاثیر لري او یا جمعیت، لکه لندې ختې. په هر صورت چه تاسو وغواړئ، بدلېدای شي. دا سوال فقط ستاسو د هدف د تعینولو او معلوملو دپاره طرح کېږي او اقلاً که ستاسو خپله آرزو تغیر کړی شی، دا هومره تغیر لوی کار دی، که نه، دا سوال چه جمعیتونه څرنګ جوړېږي او دافرادو خوی بوی، کړه وړه، عادات او اخلاق د څه عواملو په اثر منځ ته راځي او یا له منځه ځي او یا دا څیزونه تر کومه حده ثابت او تر کومه حده متغیر دی، بېخي ګوښی سوال او ځانله مضمون دی او په دې مضمون کښې ننوتل ځان په نورو سوالونو کښې ورکول او کتابونه لیکل غواړي. اوس به ځان په نورو سوالونو کښې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوم او د کتاب د لیکلو شوق به هم پر پرېږدم، ځکه تاسې يې د لوستلو حوصله نه لرئ او زه يې د لیکلو فرصت (یا استعداد). نو راځئ زه بیا تاسې وپوښتم چه د پښتنو د جمعیت نه څه توقع لرئ، چه څرنګ او څه نمونه جمعیت اوسـي او څه ارزو لرئ چه دا جامعه دې څه صفات او څه مشخصات ولري او هغه صـفات او هغه مشخصات چه تاسو خوښ کړئ، سربېره پـر هغـو پـه دې کښـې څـه وایاست چه آیا (۱) دې دا جمعیت پخوانی جمعیت وي که اوسـنی (عصـري)؟ (۲) دا جمعیت دې مترقي وي که پس مانده؟ (۳) دا جمعیت دې مـوړ وي کـه وږی؟ (۴) دا جمعیت دې آزادي دوست وي که اقتدار پسـند؟ (۵) دا جمعیـت دې عالم وي که جاهل؟ ضرور تاسو د یوه پښتون په حیث د خپـل جمعیـت د پاره نېکه آرزو لرئ او دا سوالات به تاسو ته په لمړنـي نظـر مسـخره غونـدې سترګو ته درشي. یقین دی، تاسې د خپل قوم او ملت دپـاره ښـه او ښـېګڼه غواړئ او خوشحالتیا او سعادت مو پرې لور ېږي، نو به ارومرو ووایاست چـه دا جمعیت دې، لکه اوسني جمعیتونه په تمامو عصري صفاتو او امتیازاتو اراسـته وي، چه طبعاً به مترقي هم وي او موړ به هم وي او آزادي دوست به هـم وي او عالم به هم وي. مګر تاسو د دې قوم دپاره د زمانې سره برابرتیا، ترقي او لوړتیا علم او پوهه، اقتصادي بهبود او مړتیا او... غواړئ، باید دې ته مو هم پام وي چه آیا پښتانه به هسې پښتانه چه تاسو لیدلي و، پاتې شي که نه؟ آیا د دې قوم د موجوده حالت د بدلېدو سره سره به په دوی کښې څه نور بدلون هم راشي که نه؟

ځینې وخت په انساني جوامعو کښې یوه مخصوصه عقیده حکومت کـوي او د هغې عقیدې په ترڅ کښې خاص کلمات او مصطلحات رواج شي او ځینې وخت بعضې کلمات پر اذهانو احاطه او سلطه پیدا کړي چه د هغـوی الفـاظو ځینـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بعضې عقايد زېږي او دا عقايد د جمعيتونو د بنياد (تهداب) ګڼې شي او د هغو خوځول او لرې کول ګواکې دنيا خوځول او ړنګول دي، دنيا خوځوونکي او ړنګوونکي د جمعيت دښمن ګڼلی شي او د لوی او زاړه تر سترګو به راځي، نو دې دښمنۍ ته هر څوک زړه نه ښه کوي، نو کله دا عقيدې او کلمات قرنونه قرنونه په خپل قوت پاتې شي او د زمانې په تېرېدو يې (لکه مزمن مرض) قوت نور هم پسې زيات شي او کله کله دا تيرې د زمانې سېلاب وخوځوي او وغورځوي او بناء ورسره ورانه کړي. په هر حال د مثال په ډول يا د مليت د ذهنيت او پر مليت باندې د اعتقاد سره سم ډېر فرعي عناوين او منشعب شوي ذهنيتونه يا معتقدات منځ ته راغله، لکه ملي آزادي، ملي غرور، ملي ژبه، ملي تاريخ، ملي عنعنات او روايات، ملي ادب او ملي صنايع، ملي اقتصاد او دا ټول څېزونه سره راغونډ شول، په پای کښې د مليت فلسفه تري جوړه شوه او د يو خاص اعتقاد شکل يې پيدا کړ چه پر دغه معتقداتو باندې مومنانو او د دغه کلماتو مينانو په خپل نصب العين باندې ثبات او ټينګار او سرتنبګي مقدسه وګڼله او په دغه لار کښې فداکاريو او جنجالونو قبلولو ته حاضر هم شول.

اوس نو راځئ په مخکښې سوالاتو باندې اول غور وکړو او د هغو تاثيرات او د هغو نتايج د هغو عکس العملونه او د هغوی فايدې او ضررونه ښه وڅېړو او بيا هغه د خپلو آرزوګانو او هدفونو سره چه په زړه کښې يې لرو، تطبيق کړو او وګورو چه آيا د ټاکلي هدف ته د رسېدو په لاره کښې مو په خپل لاس خنډو خار پيدا کړی که د منزل مقصود ته د رسېدلو دپاره مو تسهيلات راغونډ کړي دي. ايا د خپلې آرزو سره مو سم حرکت کړی او که د خپلې آرزو نه مو خلاف قدم اخستی دی او د ټولو نه اساس دا د سنجش وړ ده چه آيا دا آرزو صحيح او

(c) ketabton.com: The Digital Library

معقوله هم ده که نه، دې آرزو ته د رسېدلو دپاره وسايل برابر او مناسب دي که نه او که د غلطې غايې دپاره مو غلطې وسيلې اختيار کړې دي؟

پر دې سوالونو باندې نظر کول او د هغو پر نتايجو او عواقبو باندې غور به د خپل عنوان د سواليې په چوکاټ کښې کوو او سمدستي به د هغې نه نه وځو، يعنې د اچه پښتانه دې خرنګ پښتانه وي؟ په دې لحاظ به مونږ او تاسې د مليت اساس مسلم فرض کړو او سمدستي به بعضې مشکلات چه د مليت يا د پښتونوالۍ په چوکاټ کښې راځي، حل کړو او دا فرعي سوالات چه د ملت د اساسي نظريې مولود دي، لکه ملي ادب، ملي صنايع او ملي تاريخ به بل بحث ته پر بږدو، نو اوس به خپلو پنځګونو سوالونو ته وګرزو او بيا به يې تکرار کړو او جوا ب به يې واخلو.

(۱) دا جامعه دې اوسنۍ جامعي وي که پخوانۍ:

د ژوندون شرايط د مدنيت سويه انساني جوامعو ته يو خاص رنګ ورکوي او هر خومره چه دا شرايط او دا سويه سره متشابه او ورته وي، هومره انساني مختلف جوامع (دا اختلاف د زمان په لحاظ وي او که د مکان) سره متشابه او يو بل ته ورته وي. پخواني يونانيان او د جاهليت د زمانې عرب د قرون وسطی اروپايي جوامع او د ايشا پس مانده ملتونو سره ډېر شبيه وو، د دوی د فکر طرز، عادات او روايات حتی مذهبي تفکرات بدوي او ابتدايي دي.

هو! خومره چه د مدنيت سويه او يا د ژوند شرايط فرق وکړي، هومره د فکر طرز او د ژوندانه اسلوب فرق کوي، نو په دې لحاظ د بعضې پښتنو د پښتون خواهۍ آرزوګانې (تر کومه حده چه ما ته معلومې شوې دي) دا دی چه د هر پښتون ځلمي فريضه ده چه قدم په قدم دې د خپلو پلرو نيکو پسې و لاړ شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د پښتنو د دودونو دستورونو دې ډېر احترام وکړي، په ناسته ولاړه، روغ بر، اغوستنګ او فېشن کې دې د زړو پښتنو مقلدان وي، نــو دا آرزو ګــانې د دې جمعيت د اوسني توب سره مغايرې معلومېږي، ځکه نوی عصر د خپــل ځــان سره نوي مقتضيات او ايجابات، نوي آداب او نوي فکرونــه، راوړي او زاړه آداب او زاړه فکرونه د حيات زوړ طرز او د جمعيت زوړ فېشن د منځه وړي، نو دغــه آرزو چه د دې جامعې د تجدد دپاره موجــوده ده، د داســې هــدف ســره نــه جوړ ېږي.

(۲) دا جامعه دې مترقي وي که پس مانده؟

انساني ابتدايي جوامعو کښې چه حکومتونه (په تمامه معنــی) نــه و موجــود، دوی د خپل کار روزګار امنيت او ګډ ژوندون د پاره څه ابتدايي تشکيلات لرل او د خپل مدنيت د سويې سره سم يې بعضې اجتماعي موسســات درلــودل، د مثال په ډول يو د دغو اجتماعي تشکيلاتو يا موسساتو د جملــې نــه قبــايلي تشکيلات چــه پــه هغــو محيطونــو کښــې چــه دايمــي هــرج و مــرج او نــه خلاصېدونکې کشت و خون موجود و، د قبيلې تشکيل د موجــوده پوليســو او عدلي تشکيلاتو نه زيات ضروري و، هغه وخت افراد د کورنيو په سيوري کښې او کورنيو د عشايرو په چوکاټ کښې د خپل معيشت د ادامې دپــاره محتــاج و (او يا د اصطلاح سره سم) د غلو د وېرې کور او کلی شوی و، کــوم وخــت چــه مدنيت ترقي وکړه او اجتماعي علاقې زياتې شوې او قوي حکومتونه مــنځ تــه رالل، دغه ټول تشکيلات ورو ورو د منځه لاړل او يا ضعيف شول او يا په نويــو موسساتو او تشکيلاتو کښې محو شول او د يو مذهبي يا ملي سازمان په حيث تمام وظايف او اقتدار دولتونو ته منتقل شو او د ملــت مفهــوم يعنــې د لــويې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامعې صورت تحقق اختیار کړ، ترڅو چه انساني افراد و د یوې خاصې قبیلې په نامه نور یو بل نه پېژانده او یوازې د ملیت او د وطنیت چوکاټ د مشترکو منافعو یا مشترک قدر د پاره کافي وګڼل شول او د تعاون او ورورۍ روح محدودو فضاګانو نه اوچته شوه او په لویه فضا کښې یې په الوتلو شروع وکړه او د همکارۍ او معاونت روح په لویه ساحه او په یو غټ تشکیل باندې منځ ته راغله، نو که قبیلوي حساب د پښتو ممیزه وي او که دا قبایل او عشایر په دې لوی چوکاټ کښې د ننوتلو نه وروسته د پښتنوالۍ څخه ووځي، نو د مترقي جامعې آرزو به د پښتنو د پاره یوازې هم د دې مخالف واقع شي.

(۳) دا جمعیت دې موړ وي که وږی؟

ماړه جمعیتونه د وږو جمعیتونو نه په خوی بوی او دود دستور کښې څه لږ ډېر فرق لري. اقتصادي اوضاع د قوم پر کلتور د ژوندانه په رنګ او اسلوب ډېر ښکاره تاثیر لري، د قوم د اقتصادي حالت ښه کېدل په زراعت او تجارت او صنعت بنا دي او د دې سره د اقتصادي بناګانو انکشاف په ماشین او عصري تجهیزاتو پورې اړه لري، ماشین او عصري تجهیزات ځان سره څه نوي ایجابات او مخصوص مقتضیات لري او په دې اجتماعي مؤسساتو کښې تطور او تحول پېښوي، نو کوم وخت چه دا جمعیت موړ شي بیا به ستاسو په اصطلاح هغه د مړې ګېډې پاړسي هم وایي او داسې پښتانه چه دا نن دي او یا پرون ؤ ضرور به نه وي، نو که تاسې نه غواړئ چه پښتانه دې د خپل موجوده پښتني موقف نه اعتزال وکړي، نو د دوی د مړېدلو آرزو ستاسو د هدف سره منافات لري.

(۴) دا جمعیت دې آزادي دوست وي که اقتدار پسند؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اقتدار پسندۍ جرثوم په فاميلي تربيت کښې پروت دی او ترڅو چه پــلار د زوی او زوی د کشر ورور د پټو سترګو اطاعت غواړي او ترڅو چه مېړه پر ښځه د بادار او مالک په څېر حکمروايي کوي او ترڅو چې د کلي مشران او د اولــس سپين ږيري کشرانو ته په خپلو کورنيو او يا اجتماعي چارو کښې د رايې حــق نه ورکوي، تر هغه وخته د آزادي پسندۍ دعوې بې فايدې او بې اساســه ده او تر هغه وخته چه کشران او واړه د مشرانو او د زړو پــه مقابــل کــې اطاعــت او تسليم (په حقه وي که په ناحقه) خپله اخلاقي فريضه او ملي آداب ګڼــي، تــر هغه وخته د آزادي پسندۍ روح منځ ته نه راځي. دا لا څــه کــوئ چــه آزادي پسندي يوازې د اقتدار په مقابل کښې نه، بلکې د نورو علايقــو او عوايقــو پــه مقابل کښې زياته ضروري ده. ډېر اجتماعي او عنعنوي قيود شته، ډېر خرافات او اوهام شته، ډېرې وېرې او ملاحظې شته چه افراد د ځنځير په شــان چــاپېر دي، نو که پښتون د دې قيودو په مقابل کښې د آزادۍ بېرغ اوچت کــړي، کــه پښتانه د عنعناتو او روايــاتو، د اوهــامو او خرافــاتو ځنځيرونــه وشــلوي او د احساساتو په عوض منطق ته متوصل شي او دېخوا په مقابل آينده ته ســترګې ونيسي، آيا بيا هم تاسې دا پښتانه پښتانه ګڼئ که يې ګڼئ، نو په رښتيا تاســو د دې جمعيت دپاره آزادي پسندي خوښوئ او که نه اقتدار پسند جمعيت مــو په کار و، خو زمانې د رنه آزادي پسند کړو او په خپله آرزو کښې ناکامه ياست.

(۵) دا جمعېت دې عالم وي که جاهل؟

دا جمعيت دې ضرور عالم وي او عالم ضرور د جاهــل ســره فــرق لــري، کــه بېسوادي او ناپوهي د دې جمعيت له منځه ورکه شي، له دې اولس نه بــه ډېــر ښه او باصلاحيته جمعيت جوړ شي، د دې اولس طبيعي او قدرتي استعداد بــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېره ښه مجرى پيدا کړي، مګر افسوس بيا به ورته تاسې ملا واياست او پښتنو به يې نه ګڼئ.

نو راځئ په دې سوالونو باندې په سړه سينه غور وکړئ او بيــا د هغــې جــواب ووايئ. دا جواب ما ته مه واياست، دا جواب خپل ځانته، خپلو کشرانو ته، خپلو همکارانو ته، د يو اجتماعي هدف په حيث ووايئ او يا يې اقلاً پــه خپــل لــوح ضمير کښې نقش کړئ، اما په ياد لرئ او دا خبره مه هېروئ چه د تحول قانون او د تطور جريان ستاسو تابع نه دی او هغه خپل کار کــوي تحــول او تطــور د جماعاتو نه همېشه بل څه جوړوي او بل ځای ته يې بيــايي، ستاســو بــه يــوه ستر ګه خاندي او بله به مو ژاړي، مګر د دې جريان سره بــه ځــئ منتهــا د دې قانون دوه وجهې معلومې دي، يوه دا چه يوه بدوي جامعه، لکه تخم نشو او نما کوي او د تخم په نشو ونما کښې د وړې ذرې نه ونه جوړ ېږي، ښاخونه او نيلــې يې هرې خواته غز ېږي، مېوې او ګلونــه يــې هــره خــوا رژ ېــږي، پيوندونــه او تصرفات په کښې کېږي.

خو نوم او هويت يې نه بدلېږي او کله دا تحول او تطور په بــل صــورت کښــې راښکاره شي چه د قوم نه، لکه مواد خام د حياتي شرايطو په ظروفو او د زمانې د انقلاباتو په اور کښې صابون جوړ کړي، هغه وخت هويت هم له منځه ځــي او د پخواني څيز په عوض يو بل نوی شی منځ ته راځي چه يوازې اوتوميســتان1 هغه پېژني او بس.

نو ای خدايه! ته ښه پوهېږې چه د پښتنو نه به څه جــوړ ېږي، دوی تــه خيــر کړې- لا علم لنا الا ما علمتنا انک انت السميع العليم.

---

اوتوميست د اتوم پوهان. ١

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تاریخ په خواوشا کښې

ګمان کوم د انسان د انسانیت حقیقت چه تر کوم حده پــه حافظــه پــورې اړه لري، هومره به د ده په نورو نفسیاتي کیفیاتو پورې تړلی نه وي. د انســان پــه تعریف کښې د حیوان ناطق فکر کوونکی حیوان جملــه مســلم تعریــف ګڼــل شوی دی، که مونږ هم دا تعریف قبول کړو، نو بیا هم د حافظې تــاثیر د ده پــه فکر او منطق باندې دومره څرګند معلومېږي چه بې د هغې له وجوده انســان د دې خاصې (نطق او منطق) خاوند کېدی نه شي.

که انسان د حافظې نه محروم پیدا شوی وای، د ده فکر به څه رنګ د جزئیــاتو نه کلیاتو ته منتقل کېدای؟ او څه رنګ به یې د کلیاتو نه جزئیــه اســتنتاجات کولای شوای؟ که د خاطراتو په تخته کښې څه مسلم او بدیهیه قضایا ثبــت او محفوظ نه وای، ده به څه رنګه په هغو قضایاؤ نور قضایا متفرع کــولای؟ او لــه هغو نه به یې نوي معلومات او تازه فکر حاصلولای؟

که د انسان حافظه نه وای، ده به څه رنګه د نورو تجاربو نه استفاده کــولای او په څه شان به یې د زرګونو کلونو انساني علمي میراث د پلار نه زوی او له زوی نه لمسي ته پرېښودلای؟

که دا د پلرونو نیکونو د تجربو ماحصل مونږ ته سینه پــه ســینه نــه رامنتقــل کېدای، هغه وخت به هر څوک نوې تجربې او نوې مطالعې ته محتاج وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیت یا خودي د (زه) او (من) مفهوم د حافظې له بر کته محقق دی.

شخصیت د خاطراتو تسلسل دی، د ژوندانه د جریان مختلفې خواوې، وړوکتوب، لویوالی، د ناپوهۍ دوره، د پوهې دولت، غم او ښادي، پرون او نن ټول په حافظه کښې راغونډ شي او زه او ته ترې جوړ شوي یو.

دا د حیات تغیر او تحول د حافظې له بر کته په شخصیت کښې تغیر نه راولي او که نه هغه د اولې ورځې پیدا وړوکی د ګور په غاړو ولاړ زاړه سره هیڅ شباهت نه لری، که د حافظې او خاطراتو د تسلسل کومک نه وای، دې شخصیت به هېڅکله نه ویلای چې هغه وخت وړ وم او اوس زوړ یم.

ژوندون پخپله یو بهیر (جریان) یا عملیه او یو حرکت یا تکامل دی.

د دې جریان مبدا ماضي او غایه یې مستقبل دی.

دا جریان د شخصیت په سواحلو کښې رابند شوی او د حافظې په کارګاه کښې د هغې سینما فوتوګرافي شوې ده او د معرفت او احساس سیند ترې جوړ شوی دی.

که دا لوی بهیر په دې واړه فلم کښې نه وای ضبط شوی، مونږ به هېڅکله د ژوندانه د سیند موجودیت ته ملتفت نه وای او په حیرانتیا او لالهندتیا به مو شپې ورځې تېرولای.

نه! زه تېروتم، حیرانتیا هم د فکر مظهر او تعجب هم د عقل مولود دی، فکر چه خپل نارسائي او عجز ته ملتفت شي، حیرانتیا ده او چه کله د خپلو خاطراتو په خزینه کښې د یوه مظهر ساری پیدا نه کړي، تعجب دی.

که حافظه نه وای، زه حیران یم مونږ به د حیرانتیا په عوض څه لرلای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا ؤ د یو فرد ضرورت حافظې ته! همدارنګ انسان په مجموعي هیئت چه جمعیت باله شي، تاریخ ته د حافظې په څېر احتیاج لري. څومره چه د شخصیت مفهوم بې د حافظې له وجوده ناممکن دی، همدارنګه د اجتماعي موجودیت په تاریخ او تاریخي روایاتو باندې بناء دی.**

**همدا سبب دی چه له ډېرې پخوا راهیسې، لکه انسانی افراد چه حافظه لري، انساني جوامعو تاریخ درلوده او دا علم یا دا اجتماعي مظهر د یو څو نورو لومړنو او ضروریه علومو او اجتماعي خواصو په قطار کښې ډېر زوړ او قدیمي باله شي.**

**کوم وخت چه لا د خط اختراع نه وه شوې، کوم وخت چه انسان د خښتې او پوټکي نه د کاغذ کار اخست، هغه وخت تاریخ موجود ؤ او دا تاریخ د افرادو په سینه کښې د شعر په پیرایه کښې د زړې دنیا په خاطره کښې محفوظ ؤ، د پلار نه زوی او د زوی نه لمسي ته، لکه نور متروکت میراث پاتې کېده.**

**دا تاریخ په شعر او قصو کښې، په افسانو او ډرامو کښې لکه دیني مراسم په احترام ساتل کېده.**

**هغه وخت تاریخ سره دیني رنګ موجود ؤ، د خرافاتو او عنعناتو سره ککړ ؤ.**

**په روایاتو او عنعناتو کښې د انسان د اجتماعي خواصو درې مهمې خواوې څرګندې دي:**

**اول د انسان د اجداد پرستئ خاصه.**

**دوهم د انسان د جنګجوئي خاصه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دریم د انسان د قدامت پسندۍ خاصه.

که مونږ د تاریخ د تکوین په فلسفه غور وکړو، دا درې عامله پکښې بېدخله نه معلومېږي، په دې ترتیب:

۱- هرکله چې انسان د مدنیت په دغو ابتدائي مراحلو کښې د مذهب په لحاظ اجدادپرست، دوی به خپلو پلرو، نېکونو ته د تقدیس په سترگه کتل او دوی به ئې اسماني او ملکوتي موجودات (مخصوصا له مرگه وروسته) بلل.

د تاریخ په ترتیب او تکوین کښې یو عامل د انسان د ا روحیه وه چه بایـد د دغو درنو او محترمو مشرانو او پیشوایانو گفتـار او کـردار، ژونـد او گـوزران، کارنامې او واقعې ثبت او حفظ کړي.

۲- انسان د بدویت په مرحله کښې جنگجـوئي او توریـالیتوب تـه لـه نـورو فضایلو نه زیات اهمیت ورکاوه او همدا سبب ؤ چـه دوی بـه د خپلـو اسـلافو جنگي کارنامې، د دوو قبیلو ترمنځ شخړې او د تاخت او تـاز واقعـې پـه ډېـر شوق او افتخار پېړۍ پېړۍ زوتولې او هغه به یې د اجتماع پـه مدرسـه کښـې گردانولې او د دې واقعاتو یادولو، گردانولو د تاریخ حیثیت درلود او د دې قصو زده کوونکي یا جوړوونکي مورخین وو.

که تاسې ښه ځېر شئ، و به وینئ چه د انسان دا روحیه د هغه وخت په شعر او ادب کښې په آرت او صنعت کښې ډېره ښکاره او څرگند مظهر لري، رزمـي او حماسي رنگ غالب معلومېږي. همدارنگ دې مظهر په تاریخ نگارۍ کښې (که تاریخ نگاري ورته وویلای شو) هم ځان ښوده او تـاریخ بـه زیـات د جنگـي کارنامو داستان او د رزمي واقعاتو ډرامه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د قدامت پسندۍ روح لړو ډېر د هر انسان سره شته او نن هــم دا روحيــه ښه ښکاره او څرګنده ده.

ډېر څېزونه دي چه اوس ئې هم مونږ محض د قدامت په لحاظ عــزت ســاتو او ډېر مظاهر په مونږ کښې شته چه د عنعناتو په زور حکومت کوي.

مګر د علم د تجديد (رنسانس) د دورې نه راپه دېخوا انسان تر ډېره حــده دا روحيه بايللې ده او د ماضي په عوض مستقبل ته زيات امېد وار معلــومېږي او اوس هر شي ته په دې لحاظ په درنه نه ګوري چه ګوندې دا پخوانو ويلی او يــا ئې کړی دی.

په علومو کښې د پخوانيو افکارو ته محض د علم او د تــاريخ پــه لحــاظ ارزش ورکوي او د علمي استفادې په لحاظ نويو نظرياتو ته هــر څــومره چــه زيــات وروستی وي، په زيات اهميت قايلېږي.

مګر د هغه وخت انسان د اجدادپرستۍ په ترڅ کښې د ماضي پرستۍ په مرض هم اخته ؤ.

دوی ګمان کاوه چه زړه زمانه د نوې زمانې نه بختوره وه، دوی تصور کاوه چه د انساني طلائي دوره د ايام حاليه په تررمیو کښې ورکه ده، دوی فکر کاوه چــه ګوندې فضيلت او عدالت، پوهه او لياقت په پخوانۍ زمانه کښــې د هغــوی د ز مانې نه ډېر ؤ، نو دا دريم عامل هم د تاريخ په ترتيب او تکوين کې بې تــاثيره نه ؤ.

دوی غوښتل چه د دغې بختورې زمانې خبرې واورې او د تېرو شويو خلکــو د يادولو نه خوند واخلي او د خپل تريخ ژوند انه بدبختي لږ ساعت هېره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانو لوستونکو! تاریخ هم تاریخ لري او لکـه نـور اجتمـاعي مظـاهر دا هـم همېشه په یو شان نه دی پاتې شوی.

تاریخ د سینو نه لوحو ته او د لوحو نه پوټکو ته او د پوټکـو نـه کاغـذونو تـه رامنتقل شو او د دې تبدیل انتقال سره د تاریخ بڼه هم بدلېده، یعنې یـوازې د تاریخ په ظرف کښې فرق نه راته، بلکه مظروف هم تغیر کېده او تاریخ د ارباب الانواعو د روایاتو نه د انساني جوامعو واقعاتو ته راوګرځېد، ځان ئې و ځانده او خپلې زړې بڼې یې وغوړولې، د خرافاتو نه لږ لږ لرې کېده او د افسانې نه زیات حقیقت ته راوړاندې کېده.

دا وخت د دولتونو واقعاتو جنګي پېښې، د حکمرانانو تغییر او تبدیل په دقـت سره قید شول او د نورو ملتونو په سرګذشت کښې هم تاریخ نګارانو تحقیقات شروع کړل.

په دې دورې کښې ګویا تاریخ د محلي روایاتو د سیمې نه او د جنګي کارنـامو د دائرې نه راووت، مګر بیا هم د تاریخ په مخکښې د تحول او تکامل مزل پاتې ؤ او تقدیر د ده په تندي کښې څه نور تغییرات هم ښکلي وو.

په دې منځنۍ مرحله کښې د عربو پوهان او د اسلام د مدنیت پېشقدمان پـه ایران افغانستان او نورو ځایونو کښې ډېر دخل او برخه لري، مګر لا هم تـاریخ د ملتونو د اجتماعي حالاتو د څېړلو دپاره کومه د ستاینې وړ توجه نه وه کړې او د تاریخ فروعو ته چه دا اوس هره ورځ،لکـه تنکـۍ څـانګې زرغـونېږي او لوئېږي، د چا پام شوی نه ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسنۍ زمانه کښې سربېره په دې چه د مدنيت تاريخ او د سياست تاريخ، د دې تاريخ او د هغې تاريخ مدون او مرتب شو او يو لوی او عظـيم لټريچـر يـې جوړ کړ، د هر شي ذکر چه کېږي او يا هره موضوع چه ليکل کېږي، د موضوع د تعريف سره سم د مبحث عنه تاريخچه هم ليکي او بيا اصل مطلب ته ورځي.

همدا سبب دی چه دا تاريخونه او تـاريخچې دومـره ډېـرې دي چـه د هغـو فهرست ترتيبول پخپله لوی لټرېچر کېدی شي.

د فلسفې سره د فلسفي تاريخ او د اقتصاد سره د اقتصاد تاريخ مل دی، مگـر د موجوده تاريخ نگارۍ په اسلوب کښې د ملتونو او قومونو د اجتماعي مظاهرو خواته زياته توجه د ډېر قدر وړ ده.

د يـو ملـت د احـوال او سرگذشـت مطالعـه د دوی ادب او تهـذيب، د دوی اجتماعي تشکيلات او مؤسسـات، د دوی اقتصـادي او بـدني حالـت، د دوی معاشرت او د فکر راز، د دوی روزانه مشاغل او ناسته ولاړه په اهميت او ارزش کښې د دوی د سياسي واقعاتو او دولتي جرياناتو نه زياته ده او پخپله د تاريخ نه د تاريخي فلسفې سره زيات قرابت لري او د فکـر د انکشـاف او د خونـد او لذت په لحاظ ډېر قېمت او اهميت لري.

دا ؤ د تاريخ تاريخ!

پاتې شو د تاريخ اسلوب چه هغه هم يو ځانله مبحث دی او په دې چه تاريخ د اسلوب په لحاظ څه طريقې غوره کړي او يا پـه کومـه لار روان دی، د تـاريخ منطق څه قواعد او مقررات لري، ډېر اوږد بحث او څېړنه غواړي، دا اسـلوبونه چه تاريخ د تاريخ طبيعي او انتراپيولوجي او اتنالوجي او ارکيـالوجي پـه رڼـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښنې لیکل کېږي اویا تاریخ او د تاریخ فلسفه سره څه رنګ اوړده په اوږده روانېږي یا د تاریخ مختلف شقوق او فروع تجزیه کېږي او څه رنګ تحلیلېږي، ډېرې خبرې او ډېر کاغذونه تورول غواړي، مګر زه دلته تاسې یوې نکتې ته ملتفت کول غواړم او تاریخ ته د یوې بلې زاویې نه ګورم او غواړم تاسې هم له دغې زاویې نه د هغې تماشا وکړئ.

تاریخ له درو عناصرو نه جوړېږي او یا له درو خامو موادو نه په لاس راځي او یا درې جزونه د تاریخ دپاره د جود د علت حیثیت لري او هغه درې عناصر دادي:

۱- تاوده واقعات.

۲- ساړه واقعات.

۳- غیر مرئي واقعات.

(۱) تاوده او ساړه واقعات:

تاسې به دا د ساړه جنګ او تاوده جنګ اصطلاح اورېدلې وي، زه هم د دې اصطلاح نه الهام اخلم او د خپلو مصطلحاتو دپاره هغه استعمالوم.

شخړې ته تود جنګ او تبلیغ او پروپاګنډ ته سوړ جنګ وایه شي. واقعات هم دغه سره او توده خوا لري او دا تودې سړې دي چه د تاریخ په تکوین او د جوامعو په سرنوشت کښې دخل لري.

تاریخي واقعاتو ته د عمومي تاریخ او اساسي تاریخ په لحاظ تاوده واقعات او د مدني او اجتماعي تاریخ په لحاظ ساړه واقعات ویلی شو، په بل عبارت هغه واقعات چه د یو جمعیت په سرنوشت باندې په ښکاره لوبې کوي او د یوه حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه يې بل حال ته بدلوي، لکه جنګونه، فتوحات د رژيمونــو تغييــر او تبــديل، ديني او مذهبي انقلابات. دا ټول تاوده واقعات دي، اما د دې ســره يــو شــمېر ساړه واقعات هم روان وي چه د يو ملت د سرنوشت په تغيير کښــې تــر ټولــو واقعاتو زيات مؤثر دي، مګر څوک ورته په اول کښې ښه ملتفت کېږي نه، مثلا: په يورپ کښې يو خوا جنګونه روان وو او ملي حکومتونه منځ تــه راتلــل او د طوائف الملوکيو نه متمرکزو حکومتونو ته د سياســت روش تغييــر کــاوه او دا وقعات ډېر تاوده او مؤثر ګڼل کېدل، مګر له بلې خوا يو بې نومه او بــې نشــانه انسان په يو کونج کښې د مطبعې د لومړنۍ اختراع په تطبيق بوخــت ؤ، مګــر دې بې نومه سړي ته چه وروسته وپېژندل شو، هغه وخت څوک ملتفت نه شو چه څه کوي؟ او د هغه وخت خلک او يا لويان چه په دولتي ادارو او يا جنګــي سازمانونو کښې مشغول وو، له دغه سړي او د ده د اختراع نــه هــډو خبــر نــه شول، مګر د ده اختراع د دنيا ښه وګرځوله، د علم او تعليم د پيشرفت دپــاره، د دنيا د يو بل سره د نژدې کېدو دپاره او د يو بــل نــه دخبر پــدو دپــاره د ده اختراع هغه کار وکړ چه د دنيا يو فاتح هم نه ؤ کړی. همدا شان په افغانســتان کښې له يوې خوا چنګېز راروان او د وينو او د اوښکو سېلاب بهېــده، ښــارونه روانېده او بندونه نړېده او دا واقعه ډېره توده او مؤثره وه، مګر د بلې خوا نــه د دنيا په يو بل ګوټ کښې يو حرکت روان ؤ چه هغــه د چنګېــز د واقعــې نــه د افغانستان د خرابۍ دپاره ډېر مؤثر ؤ، مګر څوک ورته نه ملتفت کېدل.

دا واقعه د کشتي رانۍ پيشرفت او د بحرونو د لارو ګودرونو زياته پوهه وه، چه ځينې مملکتونو ته په لاس ورتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دنيا کښې تجارت او معامله د ممالکو په منځ کښې د وچې د لارو نه د کاروان په وسيله ډېره معموله وه، افغانستان د دې کاروان په لار کښې واقع ؤ، د افغانستان ترقي او پېشرفت، د لويو ښارونو وجود او دارو مدار ټول په دې موقوف ؤ.

کوم وخت چه دا د وچې تجارت لمدې ته منتقل شو او افغانستان نور د شمال او جنوب او د شرق او غرب د اتصال جنکشن پاتې نه شو، ښارونه وران، خلک بېوزلي، ملک د انزوا په حالت کښې پرېووت، د نورې مدني دنيا سره ارتباط وشلېد او د دې ارتباط د شلېدو په سبب ذهنونه محدود، فکرونه کوتاه او اقتصادي حالت ابتر شو.

دا آفت په مونږ چنګېز نه شو راوستلای، بلخ ډېره لږه موده پس ودانېدلای شو، ليکن شرط داؤ چه تراوسه د ترکستان کاروان هندوستان ته په دغه لار تللای.

د نادر افشار سره مونږ هم هندوستان ته تللي وو او د بېرته راګرځېدو په وخت کښې مو ځان سره څه جنګي غنائم راوړل، مګر زما په ګمان لومړنی (قره کلي) مېږه چه په شمالي افغانستان کښې لنګېده، هېڅوک پرې خبر نه شو، مګر د هغې تاثير په دې مملکت کښې د دغو غنايمو نه زيات ؤ، لومړنی واقعه توده او دوهمه يې سړه ده.

اوس خو زما د تودو او سړو واقعاتو په اصطلاح ښه پوه شوئ، نو راځئ چه اوس د تاريخ په دريم عنصر باندې خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- غیر مرئي واقعات**

**سربېره په سرو واقعاتو تاریخ څه نامرئي واقعات هم لري او دا نامرئي واقعات د سرو او تودو واقعاتو په جریان او حرکت کښې که په تغییر او تبدیل کښې دخل او تاثیر لري، یعنې له یوې خوا سیاسي تاریخ او له بلې خوا مدني تاریخ، له یوې خوا واقعات او له بلې خوا اجتماعي جریانات متاثر کوي، دا نامرئي واقعات د کلوپاترا پوزه ده.**

**تاسې به ووایاست د کلوپاترا پوزه به لا څه بلا وي؟**

**کلوپاترا د مصر ملکه وه او د دې ملکې یوه پوزه وه، پوزه یې لا څه کوې چه نوره هم ډېره ښکلې وه.**

**د روم یو فاتح مصر ته لاړ او په دې ښځه مین شو، د دې معاشقې او مینتوب څخه یو سلسله مهم او لوی واقعات پیدا شول چه د پخواني مصر او زاړه روم په کورنیو معاملاتو او یو د بل سره د ارتباط په جریاناتو کښې ئې تاثیرات لرل.**

**د یورپ یو لیکوال وایي: «که د کلوپاترا پوزه یوه سانتي اوږده او یا لنډه وای، د دنیا د تاریخ مجری به بدله شوې وای.»**

**یعنې کلوپاترا به بدرنګه وای او رومي فاتح به په هغې مین شوای نه وای او وروستني واقعات به چه په دې مینتیا بنا وو، هېڅ منځ ته راغلي نه وای.**

**دا د کلوپاترا پوزه د تاریخ نامرئي خوا یا د تقدیر لویه یا متافزیکي جنبه ده چه د تاریخ په جوړېدو او د واقعاتو په جریان کښې د هر ملت په سرنوشت او د هر قام په ژوندون کښې ډېر دخل او لوی مقام لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پخپله د دې پوزو د ليدلو سره ډېره علاقه لرم او دا مــې شــوق دی چــه دا شان واقعات تر غور او مطالعې لاندې ونيسم، د تاريخ هر موقف په يو چارراهي کښې فرض کړم او له ورايه څلور واړو لارو ته وګورم او د ا تصور وکړم، که دا د حوادثو عرابه د کوم اتفاق په بنا په دا بله لار ښويېدلی وای، نو له دغه حرکتــه به څه نتايج لاس ته راغلي وای؟

فرويد، يو نفسياتي عالم او په نفسياتو کښې د يو خاص مکتب خاوند دی، دی پخپلو نفسياتي نظرياتو کښې د تحت الشعور تر عنــوان لانــدې يــوه نظريــه وړاندې کوي او په دې نظريه ډېرې خبرې لري او په هغو ډېرې فرضيې بنا کوي (دا چه د ده تحقيقات او تبليغات تر کومه حده منل شوي او صحيح دي او تــر کومه رد شوي او غلط دي، په ځای دې پاتې وي.)

د تحت الشعور په ترڅ کښې وايي چه: د انسان د ژوندانه واقعات او مخصوصــاً د وړکتوب پېښې د شخصيت په تکامل او تکوين کښې ډېر تاثير لري. پــه دې صورت چه د کوچني توب خاطرات،لکــه کومــه وېــره، کومــه خطــره، کومــه خوشالتيا او کوم خپګان کومه پاتې شوې آرزو او سرته نه رسېدلی آرمــان يــا کوم کرت د پلا راو مور مداخلت او ممانعت د لوبو، وشتو په کار کښې د کوچني په تحت الشعور کښې د يو غير مرئي انتباه په صورت پاتې کېږي او دا ذخيــره شوي انتباهات په تحت الشعور کښې په راتلونکي عمر کښې پــه بلــه بڼــه يــا پيرايه څرګندېږي او د انسان په شخصيت او اخلاقــو، د انســان پــه صــحت او اعصابو ډېر ښکاره او اهم تاثيرات لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارنګه هم اجتماعي تحت الشعور کښې څه دا قبيل پټ شوي انتباهات ذخيره کېږي او د ملتونو په آينده او د قومونو په راتلونکي ماهيت باندې لــوی تــاثير لري.

نو راځئ؟ چه په دې راز واقعاتو پسې پيلــوزې او ډېــوې راواخلــو، د تــاريخ د خاطراتو د تحليل او د کلوپاترا پوزه ومومو.

دا مطالعه به ډېره خوندوره او دلچسپه وي.

زه به په پای کښې د خپل بحث لنډ شان تکرار او خپل پېشنهاد لوستونکو ته وړاندې کړم، هغه دا چه:

تاريخ د اجتماع حافظه ده او د حافظې اهميت ته مو په سر کښې اشاره وکــړه، تاريخ تاريخ لري او د تحول او تکامل مراحل يې تېر کړي او تېروي يې.

په تاريخ کښې د اجتماع او تمدن تاريخ، د جنګي واقعــاتو او سياســي تــاريخ څخه زيات مهم او دلچسپ دی.

اول ته مو ساړه او دوهم ته مو تاوده واقعات وويل. د دې واقعاتو ســره ســره د تقدير لوبه هم روانه ده او هغه باندې د انسان کنتــرول او اختيــار نــه شــته او کلوپاترا د مور له ګېډې د خپلې پوزې سره هرومرو راځي، نو راځئ د ښکــاري وختونه د قصو او افسانو د لوستلو نه زيات تاريخ ته وقف کړو او په تاريخ کښې د سړو واقعاتو په مطالعه کښې زيات بوخت شو، زيات څه پرې ولولــو او زيــات څه پرې وليکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تاريخ د نامرئي واقعاتو غور او تحليل د يو شطرنج د پــروبلم او يــا د معمــا د حل كولو نه زيات دلچسپ او خوندور دى، كه دا معماګانې مو وخېږلې، مــونږ او تاسو به هم استفاده وكړو او نور به هم مستفيد كړاى شو.**

**په پاى كې زما مشوره د احتراماتو سره قبوله كړئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د علم په باب کې

ګورئ؟ دا ګمان ونه کړئ چه زه د علم په فضیلت کښې کومــه موعظــه کــوم، ځکه علم د دې څخه بې نیازه دی چه په فضیلت کښې یــې څــه وویــل شــي (افتاب آمده دلیل آفتاب) او انسان هم (زمونږ په شمول ان شاءالله تعالی) هــم له دې مرحلې څخه تېر شوی چه هغه ته د علم د فضیلت په حقله څــه وویــل شي. دا تصور هم مه کوئ چه ګوندې زه د علم په حقیقت کښې څه وایم، نه دا هم نه! ځکه د علم حقیقت باندې څه ویل ما غوندې سړي تــه ګــران کــار دی. ډېره موده کېږي چه د فلسفې د قلمرو نه ټول علوم (د تجربــې د طریقــې پــه بناء) وتلي دي او استقلال یې غوره کړی دی، یوازې څه چه فلسفې تــه پــاتې شوي، هغه الهیات، اخلاق، او اپستیمالوجي یعنې د علم پر حقیقت باندې بحث دی چه د هغې د افادې دپــاره ډېــر دقیــق نظــر او صــلاحیت پــه کــار دی او سمدستي د دې مقالې له نظر اندازه هم بهــر دی، نــو راځــئ چــه د علــم پــه سرګذشت باندې خبرې وکړو او د علم داستان یا د علــم تــاریخ بانــدې ځــان مشغول کړو، مګر افسوس، د علم قصه هم دومره اوږده او دومره پېچلې ده چه له هره قلمه او له هرې خولې د هغې لیکل او ویل پوره نه دي، خو که ستاســې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازه وي، زه به لږ ډېر د علم د تطور د تاریخ لنډیز یا د علم د تطــور خلاصــه تاسو ته وړاندې کړم او هغه دا چه «حاصل عمرم سه سخن بیش نیست

خام بدم، پخته شدم، سوختم»

نو راځئ چه د علم تماشا هم په دې درې واړو مرحلو کښې وکړو.

یو وخت خلکو ګمان کاوه چه د یونان په خواوشا کښې او د بابل په ښار کښـــې چرته یو برج دی او په دې برج کښې علم او معلومات او مغیبات ذخیره شـــوي دي، په کوم طلسم او چل ول بعضې خلک ورننوزي او له هغه ځایــه د کاینــاتو اسرار او د اشیاء حقایق ځان ته معلومه وي. علم او پوهه، اختراع او ابتکار ټول د دغه برج څخه د نیک بختو لاس ته ورځي. د تکامل د نظریې نــه رادې خــوا انسان په دې پوه شو چه هیڅ یو اجتماعي مظهر د تکامل د قانون د احاطې نه بهر نه دی او علم هم د نورو ځیزونو په څېر تغییر او تبدیل، حرکت او ســکون، آغاز او انجام لري او دا هم، لکه دا نور اجتماعي مؤسسات د یو خاص بدایت نــه دې نهایت ته (پرزېدلی غورزېدلی خوزېدلی) رارسېدلی دی. یعنې علم هــم د تکامل او تطور په لاس کښې لوبېږي او لوبېدلی دی.

ګویا دا نظریه هغه شاعرانه مفکوره چه خامې او پختیا او رژېدل د عمر حاصل ګڼي، رښتینی بولي.

هو! لکه هرڅه چه بې د خدای له ذاته (جل و علی شانه) متغیر او متبدل وي او د تکامل د سیر په قدمونو د یو ابتدایي ناقص صورت نه یو جامع او کامل شکل ته اوړي را اوړي، دا رنګ د انسان ټول اجتماعي تاسیسات هم متغیر اومتبــدل دي. د ده علم، د ده پوهې، د ده فلسفې او دد ه فکر د تطور مراحل حــل تېــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او تېروي يې. د دې نظريې په بنا علم هم تاريخ لري او د دې تاريخ په رڼا کښې علم دومره اوږ ېدونکی او اوښتونکی او غورزېدونکی او پرمخ تلونکی ښکاري، لکه طفل چه د مور د غيږې راوزي او د حيات مراحل طی کوي. موږ وويل چه علم هم د انسان د نورو اجتماعي موسساتو په شان د تکامل د قانون تابع دی او د انسان په اجتماعي موسساتو کښې يو هم دولت (حکومت) دی، که مونږ علم د دولت سره مقايسه او مشابه کړو، زيات به مناسب وي، ځکه دولت د انسان په څټ او علم د انسان پر مغزو حکم فرمايي کړې ده، د دولت د اوامرو او نواهيو انقياد د قانون په نامه او د علم د احکامو د قواعدو په نامه پيروي شوې ده، دا دواړه د قوت او دسلطې خاوندان دي، نو ځکه يو بل ته سره ورته او مشابه دي.

دولت د خپل تکامل په مزله کښې درې دورې درلودې:

(۱) د پلار او د کورنۍ د مشرانو حکومت چه په پای کښې قبيلوي طوائف الملوکۍ ته منجر شوی.

(۲) متمرکزه او قوي حکومتونه چه په پای کښې ترې جهان شموله امپايرونه (شاهنشاهۍ) جوړې شوي.

(۳) ملي حکومتونه چه دموکراسي او د عوامو حکومت د هغې نتيجه او خاصه ده.

اوله مرحله د هرج و مرج او د انارکۍ دوره ده. دوهمه دوره کښې په انساني جوامعو کښې اداره په ډېر قوت سره ليدل کېږي او د سپلين د اندازې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زياتيږي، د اقتدار خاوندانو ته سرونه ټيټيږي او اطاعت يې کېږي. پــه دريمــه مرحله کښې قانون د مقتدرينو ځای نيسي او جمعيت قوي کېږي.

اوس که مونږ علم د دولت سره مقايسه او تطبيق کړو، علم هم دا درې مرحلې لري چه دلته به پر هره مرحله بېله بېله پېښنه وکړو او لږه لږه به يې وڅېړو:

(۱) د هرج و مرج يا انارکی دوره:

په دې دوره کښې هر سړی د علم ادعا کوي او هيڅوک عالم نــه دی. پــه دې مرحله کښې انسان لا د تقسيم عمل سويې ته (لکه څرنګ چه ښايي) نــه دی رسېدلی، نو هر سړی هر کار کوي او هېڅوک هېڅ کار کښې (لکه څرنګ چــه ښايي) استعداد او لياقت نه لري، هر سړی هر څه چه کري، هغه ريبي او هغــه خوري، د خپلو ساتلو شويو حيواناتو نه ځان ته جامې او غذا اخلي، تجارت پــه ډېر ابتدايي مراحلو کښې ښکاري، هر څوک خپل مازاد توليدات خپل د زيــات شوي مال سره جنس په جنس بدلوي او د تاجر په نامه کومه خاصه طبقــه نــه مونډله کېږي، هره کورنی يا قبيله د خپلو رمو او ګلــو او ورشــو او څــر ســيمو حاکمه ده او د هغې د حافظت دپاره د نورو تجاوزو نه په خپل سره دفاع کــوي او د امنيې او پوليس په نامه څه نه ښکاري، د حــاکم او د قاضــی پــه حيثيــت څوک منځ ته نه راځي، داسې هم لا د علم او د پوهې خاونــدانو کومــه خاصــه طبقه نه ده جوړه کړې او د هرچا هر څه زده دي او د مکتب په نامه کوم خــاص مرکز د علم دپاره نشته، په دې مرحله کښــې دســتاره شناســي معلومــات د زراعت او مالداری په اطرافو کښې پوهه، د علاج او طبابت په نامــه ټــوټکې، د هرچا سره شته او هر سړی د خپلې زمانې دايره المعارف دی. هر سړی پــه دې وخت کښې د خپل کور يا کورنی مدرسه کښې د خپلې زمــانې راټــول شــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومات زده کوي، دا معلومات یا مفاهیم د مورنۍ ژبې سره سم د هر فرد مغزو ته د جمعیت نه منتقل کیږي. تاسې خو پوهېږئ چه ژبه په خپله د ډېرو افکارو او مفاهیمو حامله او د ډېرو حقایقو ناقله ده، د هر چا د علم افق د هر چا د فکر قالب د هغه مورنۍ ژبه او یا زده کړې فرهنګ دی (له فرهنګه مطلب د لغاتو مجموعه ده) او همدا وجه ده چه د علماوو ژبه وسیعه او دبې علمه خلکو ژبه محدوده ده. په دې دوره کښې علم د خرافاتو سره د کوډو او ټوټکو سره ګډوډ او لړلی دی او د علم او د جادو د علم او د افسانې په منځ کښې توپیر نه لیدل کېږي، د حساب او ریاضي او ستاره شناسۍ سره ساحرانه ذهنیتونه او د طب او د زراعت سره د خرافات پسندۍ فکرونه یو ځای او تړلي دي.

په دې دوره کښې د علت او د معلول په سلسله کښې بې ربطي موجوده ده. د طبیعت ډېرو پیچېده علایمو او پېښو ته ساده سببونه او ډېرو ساده او ښکاره مظاهرو ته کاږه واږه علتونه پیدا کوي او خپل ځان غولوي، مثلاً د سپوږمۍ د تورېدلو نه د کوډګرو په نیولو تعبیر کیږي او د جاذبې د قانون په ځای د زمکې د مدار دپاره د غوایي ښکر په فکرونو کښې ګرځي. دا سبب دی چه مونږ دا دوره د هرج و مرج او د انارکیزم دوره وګڼله.

(۲) د تمرکز او اقتدار مرحله:

په دې دوره کښې د تقسیم عمل په وجه په انساني جوامعو کښې طبقات لیدل کېږي او یوه طبقه هم د علماوو په نامه منځ ته راځي. علم د بدویت د مرحلې نه راوتلی او څه ناڅه پرمخ تګ یې کړی دی. دې مرحلې کښې که څه هم ټول علوم په یوه ځای کښې او یا یو فکر کښې راغونډ دي، مګر ساحه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لويه او نظر انداز يې وسيع دى. علم او فلسفه،لکه سور لال د ايرونه راوتلى دى او د علماوو په پټکي کښې له ورايه بر ېښي کوي او معلومېږي.

په دې دوره کښې،لکه چه د اقتدار خاوندان د چا مشوره نه منـــي او يـا يـوې طبقې ته د نورو خلکو نه ځان بل شان ښکاري او د اشرافو خطاب لري، علم هم د خپله اقتداره کار اخلي او د چا خبرې ته غوږ نه ږدي، د عالم او د جاهـل پـه منځ کښې د بېلتون کنده دومره ژوره او ارته ده چه پر هغې بانـدې د ارتبـاط پول نه ايښودل کېږي، لکه څومره چه حاکم له محکومه جدا دى، لکه څـومره چه د هغه او د ده په ذهنيت کښې فرق دى، هومره د عالم او د جاهل په مـنځ کښې افتراق او اختلاف موجود دى. په دې مرحله کښې د عـالم وينـا، لکـه د حاکم فرمان بې اعتراضه منل کېږي او په دې نامه چه فلاني عالم ويلي، د علم فرامين چليږي او په هغې کښې بحث ته مجال نه ورکول کېږي، د ې نظرياتو د نه منلو په وجه خلکو ته سزا ورکول کېږي او د جمعيت ځني شړل کيـږي. پـه دې مرحله کښې د سقراط او د افلاطون او د ارسطو نظريـات پېـړۍ پېـړۍ د انسان په مغزو بې قيده او شرطه حکومت کوي او د هغې مخالف که د ګـاليلي غوندې سړى هم پيدا شي، د قاضي مخې ته يې د محاکمې دپاره راکاږي.

په دې مرحله او د صلاحيت پر خاوندانو انتقاد ګناه ده. له عوامو سره د انتقـاد قوت خو نه و چه د دې نظرياتو پر حقاينت او غير حقانيت باندې بحث وکړي او خواصو هم د تقليد افيونو دومره سست کړي و چه د انتقاد او د ابتکـار قـدرت پکښې پيدا کېده نه. علماء هم،لکه اشراف په خپلو خيالي قصرونو کښې ناست وو او له پاسه به يې د عوامو ټيټې سطحې ته کتل. دا کتل به زيـات د نفـرت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله د رحم او شفقت وو. دوی هم د پېروۍ او د تقلید د طلسم څخه نه شو وتلای.

٣- د علم د دموکراسي دوره:

په دې مرحله کښې علم هم،لکه سیاست او حکومت د عوامو لاس ته راځي او د علم د پوهې او د نشر په سبب په هر چـا کښـې د خپـل نظـر د ښـکارولو صلاحیت پیدا کیږي. په دې مرحله کښې د زړې زمانې د علمي اقتدار طلسـم ماتیږي او پر فلسفه او سیانس او په افلاطون او په ارسـطو بانـدې اعتـراض او انتقاد رواج پیدا کوي. په دې مرحلـه کښـې علمـي انجمنونـه او جمعیتونـه دپارلمان غوندې صلاحیت د یوې محدودې طبقې د لاسه اخلـي او د تتبـع او استقراء طریقه د قیاس برهاني نه معتبره ګڼل کېږي او د استقراء جزئیات، لکه رای عامه د علمي مسایلو د تائید دپاره د نظر لاندې نیول کېږي. په دې مرحله کښې د طبیعت د مظاهرو طبقه بندي تحلیل او تجزیه، په ډېر دقت سره کیږي او د طبیعت د ټولو مظاهرو دپاره خاص قوانین منل کیږي چه د هغو قوانینو په برکت ډېرې مشکلې مسئلې او سوالات حل کېـږي. پـه دې مرحلـه کښـې د طبیعت د میکانیزم مفکوره منځ ته راځي او خودسري او خودرایي خپل ځـای په علومو کښې هم قوانینو او ترتیب ته پرېږدي. لویه خبـره داده چـه پـه دې مرحله کښې انسان د خپل فکـر تصـور او نارسـائي تـه ملتفـت کیـږي او د ماوراءالطبیعه د سرګمۍ مشوړې نه حیاتي مسایلو ته توجه کوي، ګویا انسـان دې صداقت او حقیقت ته رسي چه د انسان فکر د کائناتو د اسرارو د حل کولو او د وجود د ماهیت ته د رسېدلو دپاره نه دی برابر، باید دا فکر د حیات د بقـا دپاره په کار واچول شي او خپل روزمره ژوندون د نظر لاندې ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې مرحله کښې مافوق الطبيعه په زړه، طبيعت او په دماغ کښې ځای پيدا کوي، يعنې د واجب د تصديق دپاره مينــې او اخــلاص او د ممکــن د تســخير دپاره عقل او فکر ته خلک متوسل کيږي. په دې مرحلــه کښــې د تجربــې او تجزئې طريقه په اکثرو علومو کښې رواج پيدا کوي او د حيوان او د نبــات او د مائع او د ګاز او د هغې او د دې حتی د ذرې ګېډه ســپړل کېــږي او د هغــې د ترکيب او د ترتيب نه خلک ځان خبروي، علم نور د بلنــدپروازۍ د آســمانه د حيات او د تطبيق ځمکې ته راکوزېږي او د صنعت د پيشرفت په لاره کښــې د انسان سره مرسته کوي.

د دې دورې خصوصيت په دې الفاظو کې لنډېدلی شي چه علــم نــه يــوازې د علم دپاره تر نظر لاندې نيول کېږي، بلکه د سعې د افاديت او د په کار راتللــو خواته اعتنا کوي، د انسان د فکر محصول او د هرچا رايــې تــه د احتــرام پــه سترګه کتل کېږي، تعصبات او تنګ نظري له هرې ناحيې چه وي، د علــم پــه ساحه کښې ورکيږي، علم او دولت سربېره په دې مشابهتونو يو بــل مشــابهت هم سره لري او هغه جنګ او جګړه ده، د علومو په منځ کښــې هــم جګــړه او مشاجره، لکه چه د دولتونو په منځ کې پېښېږي، پېښه شوې ده. ډېر علمونــه دي چه د يو بل سره يې ناسازي او خواشينې ښکاره کړې ده، ډېر علوم دي چه يو د بل له سرحده تيريږي او د بل په قلمرو کښې تصرفات کــوي، ډېــر علــوم شته چه د سرحد د اشغال په وجه د دوی په منځ کښــې ســرحدي پېښــې او واقعات پيدا کېږي، د دې مشاجراتو د رفعې دپاره کار شوی او کــار کېــږي او د ګډ ژوند (د زيست باهمې) پاليسي دلته هم منل شوې او منل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بله خبره د یادولو وړ ده او هغه دا چه دې دورو ته د زمانې تعیین ممکن نه دی. داسې آثار او مظاهر د انسان په ټولنه کښې اوس هم لیدل کېږي چه د اولې دورې سره څه لږو ډېر مشابهت لري او یا کټ مټ د هغې زمانې یادګار او میراث حسابیږي او داسې علایم او آثار اوس هم سترګو ته راځي چه د دویمې دورې صبغه لري. هرڅ چه وي، وي به، ولې د علم روش د علم آینده او د علم اسلوب د دریمې دورې په پالیسۍ بنا شوي او پرمخ روان دي، علم د تجربې او مثبتیت په ساحه کښې حسابي او یا ریاضي کېږي، علم د هرڅه دپاره یوه سلسله اوزان او مقادیر طبقه بندي او مقیاسات ټاکي او اوس اوس یې د هرڅه نه زیات ذرې ته د امېد سترګې نیولي دي، خدای دې کاندې چه دا د دوهمې دورې باقیات یعنې د اقتدار خاوندان او یا د امپریالیزم شوقیان ذره د خپلو شومو اغراضو دپاره استخدام نه کړي او علماء پر بېړدي چه د بشر د خیر او سعادت دپاره د انسان د مشترک کور دپاره خدمت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توضیح

ښاغلی الفت صاحب!

ما سوال کړی و چې پښتانه دې څرنګ پښتانه وي؟

دې سوال څه غلط فهمي ګانې پېښې کړې او بعضې دوستان یې راځینې مرور شانتې کړل. د هغې جملې نه تاسو هم د هغې جواب د کابل په ۴۱۳ ګڼه کښــې وکړ. زما په دغه مضمون کښې د هېڅ چا پر شخصي افکارو او آمــالو اعتــراض غرض نه و او زما نیت پر چا باندې انتقاد نه و، نه پوهېږم چه ولې هغــه نظریــه بده و منل شوه، حق ویل او حق اورېدل ډېر ښه خوی دی او د خدای وعده ده چه انسان د دې خاصې په برکت له زیان او تاوانــه ســاتي. پښــتنو هــم د دې تحمل او فراخ دلی امتحان ورکړی او د خوشحال خټک سپورې ســتوغې یــې تراوسه پخپل پښتني لټریچر کښې ساتلې دي. نه پوهېږم هغه پښتانه نــور وو او دا څه نور شول. زه ښه پوه نه شوم، بعضې ولې رانه مانې جن شول او تــا پــه خپل مضمون کښې څه غوښتل، تر ډېره حده ستاسو جــواب زمــا د مضــمون تشریح او تفسیر و او تر ډېره حده زه له تا سره اتفــاق لــرم، معلومــه شــوه د مضمون د لنډوالي له کبله غلط فهمي پېښه شوې او څه چه تا وویل، مــا ونــه ویلی شول، مګر بیا هم څه لږ ډېر د نظر اختلاف به هــم موجــود وي، د نظــر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلاف قضاوت به زمانې او راتلونکي نسل ته پر ېږدو، خو که ستا اجــازه وي، د غلط فهمۍ د لرې کولو دپاره به زه د خپل سوال لږ ډېر توضيح وکړم.

زما په مضمون کښې کوم عمده مطالب چه پراته وو او په پنځه ګونــو ســوالاتو کښې وړاندې شوي وو، په درې عنوانو خلاصه کېداى شي:

( 1 ) اجتماعي تحول او تطور.

( 2 ) د عنعناتو او دودونو څرنګوالى.

( 3 ) قبيلوي تشکيلاتو ته اشاره.

دا درې واړه مطلبوه به بيا وڅېړو چه زما مطلب ښه څرګند شي.

(۱) د تکامل او د تطور قانون:

دا د اجتماع ډېر ساده او بسيط بحث دى، دا قانون ډېر روڼ او روښــانه دى، دا قانون ډېر ثابت او مستحکم دى، پرون هم ورته لږ او ډېر خلک ملتفت وو او نن يې د مکتب واړه هلکان هم پېژني، ماته ضرور نه ښکارېده چه په هغې مطــول بحث وکړم او اوس هم ډېره ضروري نه ده د هغې ټولې امثلې ستاسو لوستونکو ته وړاندې کړم.

زمونږ د پېشوايانو توصيه ده چه ستاسو زامن پيدا خو نن دي، مګر تعلــق تــر صبا پورې لري، دوى د سبا دپاره تربيه کړئ، معلومه ده چه د نن او د ســبا پــه ايجاباتو کښې فرق شته، د حادث او د متغير کليې ته تا هم اشاره کړې وه او په دې کښې دې راسره اتفاق ښکاره کړى دى، نو نه پوهېږم چه اختلاف په کــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کښېږ دی؟ د زمانې پردې خیرې کړې، د زمکــې ګېــډه وســپړئ او د دې (حفریاتو) له کړکۍ نه زړې دنیا ته وګورئ، د تحول د قانون مظاهر به مــو پــه ډېر وضوح سترګو ته درشي. د لوی سکندر د راتلو نه مخ کښې دې ملک یــوه جامعه او یو مدنیت او یو کلچر درلود، هغه څه شو؟ دا ملــک ســکندر لانــدې یوست، د ده باز مانده ګانو ډېره موده حکمروایي وکړه او یوناني مــدنیت ډېــر نوي څیزونه افغانستان ته راوړل او ډېر پخواني یې ترې وایستل، د یونــان او د باختر د مدنیتو د اختلاط نه یو نوی مولود او بله جامعه پیــدا شــوه، مګــر اوس هغه هم نشته، بودیزم په دې ملک کښې تلی شخی کړی او پر زړو، رنګونو یې بل رنګ وخیژاوه، مګر د حوادثو بادو باران دا رنګ هم محو کړ. د اسلام رڼا دې ملک ته راننوتله او پردې ټولو رنګونو یې بل رنګ واړاوه، دا خدایي او اســماني رنګ زمونږ ښه یې وګرځوله او زمونږ څېره بدله کــړه. و مــن احســن مــن الله صبغة. دا رنګ مستحکم او ثابت وو، عصــري او نــوی و، د راتلــونکې زمــانو د سعادت ضامن او حامل و، د مغرب سلطه د افغانستان د پوالونو ته راورســېد، د دې قلا د چاودونو او دروازو نه راتېره شوه، د عسکري او سیاســي ســلطې پــه مقابل کښې پښتنو پهلوانانو متې وغښتلې او د استعمار عفریت یې څو قدمــه په شا کړ،مګر د تهذیبي او کلتوري نفوذ مخه څه رنګ چه ښایي ونه نیول شوه (ذالک تقدیر العزیز العلیم)، مګر دا ټول تغیرونه او تبدیلونه د عوارضو په شان په یوه جسم یا جوهر باندې راتله او هغه پښتني جامعه وه.

زما بحث په دې عوارضو کښې دی او د جوهر د مقولې ما هډو یادښت نــه دی کړی، پښتانه پښتانه وو او پښتانه بــه وي او د دوی د کلچــر د ښــو څیزونــو د ساتلو ضامن د بقای اصلح قانون کوي، که د چا سره ښه او د کار څیــز موجــود وي، هغه په آسانۍ د لاسه نه ورکوي او که د بل سره کوم قېمتي او ښه فایــده

(c) ketabton.com: The Digital Library

من شی پیداشي، هغه ترې زر اخلي، هم دا سبب دی چه مونږ د غربیانو علم (سیانس )او تکنالوجي واخستله، په اداري تشکیلاتو او سیاسي کښې مو د دوی پیروي لږه ډېره وکړه، اما دین او اخلاقي فلسفه مو تر ډېره حده خپله وساتله، پخپله یورپین په دې قایل دي چه د عیسوي مبلغینو هلې ځلې مسلمانانو په منځ کښې د ناکامۍ سره مخ شوې، د دې وجه دا وه چه عیسویت د اسلام سره مقابله او سیالي نشی کولای. زه بیا په تکرار وایم چه د دې ټولو تاریخي مظاهرو دپاسه علم او تربیت د اقتصادي حالت بدلون د قوم په روزګار او د قوم په کردار او ګفتار او د جمعیت په کړه وړه تاثیر لري، د یو عالم اخلاقي مسلماتو او معاشرتي مقررات د فکر طرز او د وینا آهنګ د یوه بې علمه سره ډېر توپیر لري، مړښت څخه خاص اقتضاآت او تحولات راولي او ستا خبره کله کله ترې اغېز او زما په قول لوی بدلون ترې پېښېږي، د دې تاثیراتو نه حتی هیڅ جمعیت په امان نشي پاتې کېدلای، ستا اشعار او زما آثار د دې سېلاب په مقابل کښې د شګو بند هم نه شي کېدلای.

ښه! نو زمونږ تکلیف د دې قانون په مقابل کښې څه دی؟

پردې به وروسته تردې بل عنوان لاندې بحث وکړو.

(۲) عنعنات او دودونه:

پښتون خو یو ملت دی او هر ملت څه خاص دود او دستور، روایات او عنعنات، اخلاقیات او خصوصیات لري، ما نه دي ویلي چه زمونږ ټول دودونه بد دي، زمونږ ټول دستورونه کرغېړن دي، ما ویل ډېر عنعنات شته، ډېر اوهام او خرافات شته... آخر ډېر او ټول خو د معنی به لحاظ فرق لري او دوه بېل لغتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دي (لغوي څېړنه ستا کار دی، زه به خپل بحث د پښتونولۍ په خواوشا کښې تعقیب کړم).**

**مونږ په دې څیزونوکښې ډېر څیزونه لرو چه پر دوهم د هغې تحسین کړی او ډېر بد هم لرو چه خپلو مو هم هغه د ګلي دي او د خوشحال نه رانیولې تر تا پورې د هغې له لاسه ژاړي، نو ښه دا بدې خواوې به څرنګ معلوموو او د دې معلومولو دپاره به کوم معیار او محک ته متوصل کیږو؟ زه فکر کوم چه مونږ خپل عنعنات په درو مقولاتو ووېشو او په دې کښې د فقهي مصطلحاتو نه استفاده وکړو، کار به ډېر آسان شي او هغه دا چه یو کار به یا واجب او یا حرام او یا مباح وي2. مونږ به هم خپل دودونه درې قسمه فرض کړو:**

**(۱) ښه او ضروري.**

**(۲) بد او ناوړه.**

**(۳) غیر ضروري.**

**د اول قسم د وجایبو په مقابل کښې زمونږ فرض دادی چه هغه په دواړو لاسو ټینګ ونیسو او څو مو دلاسه پوره ده، هغه وساتو او که د تحول قانون هغه اضطرار زمونږ نه واخلي، مونږ به د هغوی مسئوول نه یو، ځکه مسئوولیت د اختیار په مقابل کښې راځي.**

---

۲ په دې تقسیم کښې زما مطلب د اصول فقهي مامور په منهي عنه او مسکوت عنه ته اشاره ده. په دې اساس فرض، واجب او سنت یوه سلسله او حرام مکروه، تحریمی او مفسدات بله کړی ده او مباح ځانله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) بد او ناوړه دودونه باید دا نن ایسته وغورزوو او ځان د هغې د شره خلاص کړو.

(۳) که څه هم بد نه دي، خو ضروري نه دي. که زمانه یې زمونږ د لاسه واخلي او یا علمي او اقتصادي عوامل هغه له منځ وړي، سر به پسې نه ګرزوو او ژاړو به پسې نه.

د دې دریو مقولو لاندې ټول عنعنات راغونډول د عنعناتو انسایکلوپیډیا جوړول غواړي او که د نظر اختلاف پیدا کیږي، ځای یې هم دا دی څوک به یو عنوان په یو باب کښې او څوک به یې په بل باب کښې ثبتول تجویز کوي، خو د دې دپاره هم علاج شته، که تاسو داسې دایره المعارف جوړ او له یوه محک نه کار واخلئ او هر دود او هر دستور په دې محک ووهئ، کره او کوټه به یې معلومه شي او د تبویب کار به آسان شي، محک دین او انساني مشترک اخلاق او د افادیت خوا ده که یو شی د اخلاقي مسلماتو نه خلاف ؤ، که یو عمل بې فایدې یا مضر ؤ، هغه بد او که نه ؤ، ښه دی.

زه دا طبقه بندي اوس نه کوم او په روغ سر داغونه نه ږدم، مګر یو شی ته دا اوس مختصر اشاره مناسب ګڼم او هغه د تشریع او تقنین خوا ده، یعنې تر کومه حده چه زموږ دودونه تشریعي ماهیت او حقوقي جنبه لري، هغه کښې څه وایاست؟

زما په ګمان خو هغه د عامیانه ادب او عامیانه روایاتو ادب او عامیانه روایاتو فولکلور او فوک سانګ قېمت لري ، دا ادب او روایات د ستایلو او ساتل خو دي، مګر زمونږ د کلاسیک ادب او پیشرفته علومو سره د مقابلې کولو او د سیالۍ نه دی، د خوشحال او د رحمان د دېوان سره د هغې مقایسه پر ادب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظلم دی او د دې زمانې د افسانه نویس او ډرامه نګار په مقابل کښې هغه قصې طفلانه دي، داسې قانون هم نن او پرون په ډېره لوړه او عمیقه فلسفه بنـا دي او جلا علم او ګوښی فن ترې جوړ شوی دی او که د پردي او د خپل قانون پـه منځ کښې مجادله وي، سرړی هرو مرو خپلو قوانینو او مقرراتو بانـدې ټینګـار کوي، مګر که د پښتنو شوروي (پارلمان) قانون وضع کړي (او هرو مرو بـه دې کښې دیني مقررات او ملي تعاملات نظر لاندې نیول کیـږي) او د پښـتو ملـي حکومت هغه پر خلکو تطبیق او نافذ کړي، ولـې همـدې تـه پښـتونولي نـه وایاست؟ او په دې کښې نور څه بحث موجود دی؟ یعنې نور د بـورې بـدنامي حل او فصل د بدی او دښمنۍ رفعه دفعه شـریعت او قـانون تـه پر ېـږدئ (اذا تنازعتم فی شيئ فردوه الی الله و رسوله) ګواکې ثابته شـوه چـه دا څیزونـه یوازې د دود او دستور د حیات د طرز او طریقې ماهیت لري او کومـه اخلاقـي فلسفه او یا کوم خاص مشرب نه دی چه سړی ووایي، د هغې مثل اعلی شـته، خو مونږ هغه ته نه یو رسېدلی.

(۳) قبیله او عشیره:

انسان اجتماعي حیوان دی او فرد اجتمـاع تـه محتـاج دی، انسـاني حیـات انساني فلسفه،انساني اخلاق هم دا دوه خوا لري، معنی فردیت او اجتماع؛ پـه فرد کښې د بحث ګنجایش نه شته، زید زید او عمر عمر دی، مګر اجتماع څـه شی دی، فامیل کورنۍ ده که قبیله ده؟ که ملت دی؟ کورنۍ خو نـه ده، ځکـه کورنۍ د فرد او اجتماع په منځ کښې یوه بلـه طبیعـي او قـدرتي کـړی ده او اجتماع سیاسي او مدني ټولنه ده، قبیله او په ملت کښې هرې یـوې تـه چـه خپله اجتماع وایي، اختیار لرئ، مګر اجتماعات د مشـترکو منـافعو مشـترکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبېمتونو يا قدرونو په بنا جوړېږي، په زړه زمانه کښې قبيلوي منافع مشترک او په دې زمانه کښې ملي منافع مشترک ښکاري، قبيلو خپل ځای ملتونو ته پرېښی او يوازې ملي حکومتونه د دې مختلفو قبيلو د کشش او د جذب مرکز او وطن د هغې مقناطيسي ساحه ده. زه وايم دا ټول قبايل او عشاير دې د افغان په نامه کښې شامل او د وطن ځامن شي. که څوک يې په بل زي او خېل تجزيه کوي، نو يې ورسره نه زمانه مني او نه يې پښتون منلو ته تيار دی، پښتانه نور د غلجي دراني په نامه يو د بل ځنې نه پردی کېږي، پښتانه نور په دې نومونو يو د بل مخ نه شوکوي، د افغانستان نه بهر پښتانه نور د يوسف زي او ترکانې په نامه بېل نه ساتل کيږي، دوی هم د يو ملي مشترک مرکز په هڅه کښې دي، دا ټول ذرات يو مرکز ته تمايل ښکاره کوي او يو ملي او اجتماعي لوی جسم او موجوديت جوړوي، دوی له دې تجزيې او تفرقې نه ډېر ضررونه ليدلي او ډېرې سختۍ پرې تېرې شوې دي، د خوشحال نه راواخله تر تا پورې ټولو دوی ته هم دا سرزنش کړی او هم دا پيغور يې ورکړی دی. د ميرويس ميراث او د احمدشاه کور هم په دې وجه د دوی د لاسه تللی دی.

زما په عقيده د کورنيو اختلافاتو منبع هم دا قبيلوي تعصبات و چه د افغان د تجزيې او د انحطاط علل يې منځ ته راوړل. منم پر دوهم دې اور ته ډېره لمن وهلې، خو که دا اور نه وای، چا به څه لمن ورته وهله، زما په گمان که د امير دوست محمد خان برکت او د امير عبدالرحمن خان قوت نه وی، مونږ ته به ميرويس او د احمدشاه د متروکې نه دا لږ څه پاتې نه وای، نو راځئ چه پښتنو ته د لوی افغان او ملي حدت سندرې ووايو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفت صاحب! تا د احساساتو او منطق مقابله منځ تــه راورغوزولــه، مــنم چــه انسان د احساساتو او منطق د دواړو نه مرکب دی، منم که پــه انســان کښــې عقل شته، احسا س لمړی شته، که فکر شته، غریزه هم شته، کــه ســنجش او حساب شته، عاطفه هم شته، منم انسان اول حیوان او بیا نــاطق دی، مګــر دا راسره ومنه چه انسان ته په حیواني لحاظ احساس او غرایز د عقل او د شــعور نه ډېر سکه او ډېر نژدې دي. د احساس د ورکېدو او کم زورېدو خطر کــم او د عقل او د منطق زیات دی، عقل ویرزړی او محجوب اولاد او حساس، ګستاخ او سپین سترګی زوی دی، عقل پس رفته او احســاس نــازولی دی، نــو راځــه دا نازولی او سپین سترګی او ګستاخ اولاد لږ ورته او هغه بل ته هم په غبږ کښــې ځای ورکړه، ګوندې د دماغ په حجرو کښې د بعضې نورو نظریاتو ځای هم پیدا شي، پاتې شو د پښتنو خویندو میندو سوال تر کومه حده چه پــه دوی پــورې مربوطه ده، ډېرې ښې بیبیانې او ښې میندې دي. دوی د پښتون بچي په رزولو او د وطن په دفاع او د نارینه سره په کار کښې ګډون کړی او کوي يې، مګر تــر کومه حده چه په نارینه پورې مربوطه ده (زما او ستا په منځ کښــې دي پــاتې وي)

ظالم يې هم وهي هم يې ژړا ته نه پرېږدي

من آنچه شرط بلاغ است با تو میگویم

تو خواه از سخنم پند ګیر خواه ملال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر او جامعه یا رحمان بابا او پښتانه

پخواني یونانیان د علم او ادب ډېر شوقیان و، د نورو معلوماتو په تــرڅ کښــې يې د خپلې ژبې، ادب او ګرامر ته ډېر اهمیت ورکاوه او د هر چا قدر او منزلــت د ده د علم او د ده د فصاحت په اندازه و. د دې ضرورت په بنا یو ســړی کومــه ورځ یو فیلسوف ته ورغی او د هغه نه یــې وغوښــتل چــه ده تــه د ادب درس ورکړي، فیلسوف استاذ هغه ته درس شروع کړ او په لمړي سبق یــې داشــان پیل وکړ:

شعر او ادبي کلام په دوه قسمه دی:

اول: نثر.

دویم: نظم.

(نثر هغه ته وایي چه وزن او قافیه ونه لري، لکه عادي او رواني خبرې چه زه او ته يې سره کوو او نظم...)

شاګرد وویل: استاذه! دا خبرې چه زه کوم، دا هم نثر دی؟

استاذ: هو!

شاګرد: نثر هم په ادبي تقسیماتو کښې شامل دی څه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**استاذ: شامل لا څه چه ډېر مهم رکن دی.**

**شاګرد: نو زه خو اديب يم او ادبي کلام وايم، حاجت مې لوستلو او زده کړلو ته څه پاته شو، په خدای سپارلي.**

**سړی لاړ او استاذ په خندا شو.**

**ګرانو لوستونکو! ګوندې تاسې له هم خندا درغله؟ مګــر مــه خانــدئ او هغــه يوناني خوارکی مه غندئ، زما په ګمان هغه يو لوی حقيقت ته اشاره کړې ده او هغه حقيقت دادی چه واقعاً هر سړی اديب او هر سړی شاعر دی، څوک بې لــه دې چه ګرامر ولولي، خپلې خبرې د ګرامر قواعدو سره سمې کوي او هر سړی بې له دې چه منطق ووايي، د سليم عقل په برکت هوښيار او مستدل ګڼــل کېږي. داسی هم بې له دې چه سړی د علم الجمال فلســفه لوســتي وي، د ښــکلا او ښايست نه خوند اخلي او په خپل ژوندانه کښې لږ يا ډېر د ښــکلا او ښايســت دپاره کارو خدمت کوي، د عالم او عامي په مينځ کښې فرق دومره دی چه هغه څه چه څوک وايي (ژبه) او هغه څه چه څوک خوښــوي (ښايســت)، د ګرامــر پوهان او د علم الجمال ماهران د هغه قواعد او ضوابط راغونــډوي او د انســاني ميل او روش مجری او اسلوب معلوموي او ځان پرې ملا کوي او بيا دا خبرې په مونږ او تاسې په ډېر آب او تاب د يوې نظريې په نامه په ډېرو نخرو خرڅــوي او يا په هغه د يو مستقل علم عنوان ږدي او هغې تــه فلانــی پوهــه او (بســتاني لوژي) وايي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر انسان په ښکلا مين او د ښايست ساتندوی دی، هر سړی د ښکلا تږی او د ښايست وږی دی، هر څوک د دنيا د کار او بار په توده هنګامه کښې کله کلــه عالي مباديو ته مخ اړوي او د کايناتو په اسرارو او رموزو کښې چورت وهــي. دا مشاغل او دا ناوزګارتياوې چه د ژوندانه سره ملګري دي، نشي کولی چه سړی دې د عالي مباديو نه، لکه اخلاق او جمــال حقيقــت او غايــه همېشــه غافــل وساتي، هر سړی د رياليزم د وچو او کلکو حقايقو نــه ايــډياليزم د تصــوري او خيالي دنيا شنو او زرغونو باغونو ته پناه وړي، هرڅوک سره د دې چه ظواهر د ده سترګو ته نبغ نبغ کېږي او د ده ټول فکر ذکر په دې ظواهرو بوخت دی، خو بيا هم د باطن عالم د ده په مغزو او د ده په سينه کښــې ورتــه پورتــه کېږي. د دې خبرو حاصل دادی چه هر سړی يوه فلسفه لري، هر سړی شــاعر دی او يوه معشوقه لري او هر سړی (خدای مې دې غاړه نه بنــدوي) د تصــوف صبغه لري.

انسان د هرڅه نه لمړی شاعر دی، غوږ کېږدۀ، زه به د دې فرضــيې د ثبــوت دپاره تاسو ته خپل دلايل وړاندې کړم، په هر قام کښې هومران د سقراطانو نه مخ کښې دنيا ته راغلي دي، يعنې د انسان د کلچر په ابتدايي مراحلــو کښــې هغه وخت چه عالم او فيلسوف لا نه و پيدا، شاعر موجــود و، د ده وينــا او د ده شعر د ده نظرياتو او د ده خيالاتو، د انساني جامعې په تکوين او تکميل کښــې لويه برخه درلوده، دوی د ټولنې روايات راغونــډول، دوی د انســاني جمــاعتو اساطير (متالوژي) په شعر کښې داخلول او نظــم کــول، دوی د خپلــې زمــانې پوهه او معارف د خپلې زمانې او د خپل ولس مفاخر او فضايل په خپلو اشــعارو کښې ذخيره کول او هغه يې ساتل او بيا يې دا ټول بل نسل ته سپارل يا يې بل جمعيت ته نقلول، دوی د ژبې د روزنې او ساتنې وظيفه په غــاړه اخســتې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوی د ژبې د تکامل او ښایسته کولو ذمه واري لرله، د دوی له برکته ژبــې لــه بدوي حالته متکامل او عالي مرتبو ته رسېدلي او له فنا او له زواله ساتل شوې دي، دوی د انساني جماعاتو د نورو ضروریاتو دپاره غټ غټ خدمتونه او لــویې کارنامې ښودلې دي، که انسان جنګ تــه ضــرورت لاره، دوی ورتــه حماســي سندرې ویلې دي او د دوی سندرو د تورو نه زیات زلمي مــرګ تــه ورکــړي او زیات خلک یې وژلي دي. آهنګر تورې او ده اشعار جوړول، خو د هغه مصــنوع د ده د موزون سره مقابله نشوه کولی، که بنیادم کله په خپل نفس کښــې ســر ښکته کړي او د فکر او طمانیت دنیا یې لټولې ده، بیــا هــم دوی د هغــه ســره کومک کړی او د روح د طمانیت او د عالم د حقیقت فلسفه یې ورته پــه شــعر کښې ویلې ده، یوازې هومر له سقراطه مخ کښې نه دی، په هره جامعه کښــې داسې مثالونه موندلی شي، د اسلام د ظهور نه لمړی د بیت الحرام په کتابخانه کښې یوازې (سبعه معلقات) ایښود شوی و او عربو د هــر کتابــه مخکښــې دا کتابونه لرل.**

**دا و د اجتماع تاریخ، راشئ چه اوس د فرد سوانحو ته مراجعه وکړو. د فرد پــه حیث هم د هر انسان په سوانح حیات کښې یو دوه درې بیته یا لنډۍ یادول یا خو طفلانه مقفی او مسجعې جملې زده کول د کسب او کار او علم او پــوهې د یادونو نه لمړی دی، د برګو کوډنو او ښایسته تیرو او مریو، شنو زرغونــو ښکــو رواج د اطفالو په مینځ کښې د سرو او سپینو د سکو د رواج نه لمــړی شــروع کیږي، نو اوس خو مو راسره ومنله! چه انسان د هرڅه نه لمړی شاعر دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان خپله دا شاعري او جمال پرستي په دوه توګه څرګندوي او د دې خاصې د ظهور قانون په دې ډول دی:

که ښکلا کمال ته رسي، انسان بې اختیاره د هغې ستاینه کوي او د هغې ثنا او صفت وایي او شعر او موسیقي ترې جوړه شي، انسان ښکلا ته لا کله کله خوشامندي کوي او ورته پورته پورته غورزي، نو د نڅا او اتڼ نوم پرې ږدي او که ښکلا د جلال قبا واغوندي انسان د هغې په مقابل کښې د احترام سر ټیټوي او د عبودیت سجده ورته ویله شي، هم دا سبب دی چه مونږ د جمال مطلق دربار ته (جل و علی شانه) همېشه د نیاز سجدې وړاندې کوو او د هغې نه خوند اخلو، اوس پوه شوئ چه هم دا د جمال دوستی تنده ده چه مونږ یې په شعر ماتوو او هم دا د آرزوګانو د لمبو نه ډکه سینه ده چه په دې روانو اوبو یې سړوو؟

کله چه سړی د شعر دېوان ببرته کړي او د کوم لوی استاذ اشعارو ته مخ واړوي، دی ګمان کوي چه هغه د ده د زړه خبرې کوي، دی هله پوه شي چه هغه مرموز کیفیات چه د ده د سینې په پنجره کښې لکه بندي مرغۍ همېشه دانګونه وهي او وزر پړقوي، ناڅاپه د الوتلو فضا پیدا کړي او د جولان ساحه ومومي، دی هغه مبهم او ناقابل تفسیر خیالات چه همېشه یې لکه نازېږېدلی جنین د مغزو په رحم کښې ګرزوي، ناڅاپه د دې قابلې (شاعر) په برکت د حیات په ساحه کښې داخل او شامل ووینې او هغه پیدا شوی مولود ورو ورو وده وکړي او د قطرې نه دریاب جوړ شي.

دی د خپلو فکرونو او چورتونو دپاره چه د عالم په اسرارو کښې یې لري، روښانه او واضح تعبیر د هغه له خولې واوري، دی د خپلو صوفیانه خیالاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاره چه، لکه روح مجرد د ده په مخیله کښې پراته وو او نه یې خولې ته راتله او نه یې پرې لاس لګېده، په دې شعر کښې تن او قالب بیـا مـومي او د ده پـه مخکښې مجسمه شي.

لنډه دا چه دا سړی د خپلو ټولو دردونو، غمونو دپاره نوي شکلونه سـمبولونه پیدا کړي او یا د خپلو مزو او خوندونو دپاره تازه او بکر تعبیرونه لاس ته راولي او د خپلو آرزوګانو او هوسونو د پاره پـه زړه پـورې مجسـم مثالونـه ووینـي، ګواکې دی د شاعر په آئینه کښې ځان وګوري او د خپل ځان د لیدو نه خوندي واخلي، خپل سر او صورت د دې آئینې له مخې جوړ کړي او خپلـې آرزوګـانې پالش او ارایش کړي. دی د دې آئینې په برکت د عقل سترګې تورې او د خیال شونډې سرې کړي او د خپـل شخصـیت لـه مخـه نـاوړه داغونـه ووینځـي، هوښیارانو ویلي چه د زرو قدر په زرګر وي او رښتیا یې هم ویلي، نـو کـه پـه انسان کښې د زرګرۍ قریحه او د شاعرۍ صبغه نه وي، ده بـه هیڅکلـه د دې زرو قدر نه کولی، همدا سبب دی چه مونږ تاسې ټول شاعران او د ښکلا مینان یو، نو ځکه د رحمان غوندې خلکو قدر کوو او د هغه ویناوې، لکه: د سـرو زرو په شان په مونږ کښې رواج پیدا کوي.

وګورئ! څوک چه ستاسې د زړه خبره کوي او لسان الغیب یې بـولئ، پـه چـا کښې چه: تاسې خپل ځان وینئ او بیا هغه ته رحمان وایئ، د کومې آئینې لـه برکته چه تاسو ځان سینګاروئ او د مهذب انسان حیثیت اختیاروئ، د چا لـه خبرو چه تاسې خوند اخلئ او د دنیا غمونه پرې هېروئ، څوک چه تاسو د دنیا د دې زوړ له کړاوه د یو عالي مبدا قلارې تـه بیـایي، کـوم سـړی چـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسې ارواح د جمال محراب او د ښکلا کوټګي تــه رســوي، انصــاف وکــړئ، داسې کسان به په تاسې څومره حق لري؟!

نو رحمان بابا هم په تاسې دا ټول حقونه لري او پښتانه ښه کوي چه کــال پــه کال د حمل په اولو ورځو کښې د پښتونخوا په هره برخه کښې هغه يادوي او د هغه په يادو مجلسونه کوي، پښتانه حق لري چه د ده دېوان په هر کاله کښــې لا څه چه په هر زړه کښې محفوظ وساتي او رحمان حق لري چه پښتانه ورتــه بابا وايي او د ده په مزار د زړه له کومې دعا او ثنا ولولي. رحمة الله تعالى عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د وړو شعر

عنوان که د وړو په نامه دی، خو خبره لویه ده. د وړو شعر یا د وړو دپاره شــعر یعنې څه؟ تاسو داسې شعر کله اورېــدلای یــا ویــلای دی؟ یقینــاً بــه ځینــو لوستونکو ته زما خبره ټوکه، مسخره ښکاره شي، ځکه چه له دې عنوان ســره د پښتني دنیا شعر او ادب ډېر آشنا نه ښکاري، اما زه ټوکې مسخرې نه کــوم، جدي ګړېږم.

ښه غوږ کښېږدئ، مخصوصا اې پښتنو اديبانو تاسې!

آبله ورځ مې د کابل مجلې په(۸) ګڼه کښې د (پښتو اولسي ادب) تــر عنــوان لاندې یو مضمون ولوست، دا مضمون ښــاغلي لايــق ليکلــی دی او د عاميانــه ادب، چوپاني سندرو يا کليوالي شعرونو څخه بحث کوي. تاسو هرڅه چه ورته وايئ، منګر دا مقاله دپښتو په پخواني ساده ادب باندې بحث کوي او د داســې اشعارو څه نمونې يې هم اخستي دي. د نمونې په ترڅ کښې ده د فراهي حافظ عبدالعزيز په نامه د يو شاعر يوه چاربيته د مثال په توګه راوړې ده. په حاشــيه کښې ليکي چه دا شاعر ړوند و او د فراه په خلکو کښې اوس هم ښــه شــهرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. معلومه شوه، دا هم لکه (هومر) (ابوالمعلی) او د خپل هم وطن (ابو نصــر) په شان ړوند و، زه دې شعر جلب کړم، د هغې سر دا دی:

غوړ ونيسئ يارانو دی عجب شيرين ګفتار  شروع مې کړ غزل
وينا زما خوږه ده وايم تاسې ته اشعار  سوری مې سو کوګل
ما رتبې نيولي کشپ چای ورجو شولې چونګښې په مستی کښې خپلې سترګې تورولې
ولاړه چرمښکی وه افسانې به يې ويلې ماهي پرې راولاړ شو که چپه يې سماوار
الخ...

ماته واړه او د وړو احساسات او د وړو دنيا ناځاپه تر سترګو شــوه. مــا فکر کاوه که دا مضمون واړه واوري، څومره به يې خوښ کړي او څومره دانګونه به ورته ووهي او څه اتڼ به ورته واچوي.

زه په دې فکر کښې ولوېدم چه د دنيا په ټولو ژبو کښې د وړو دپاره شعرونه، د وړو دپاره قصې شته، پرون لا د پارسي په ادب کښې د موش او ګربــه غونــدې کتاب ليکل کېده. د وړو ماشومانو دپاره تر هغې خوږه او دلکشه لوبه يــا قصــه بله نه وه، دا د پښتو په ادب کښې تر دې عنوان لاندې ولې څه نه ليدل کېږي. مغربي عالم خو د وړو دپاره مخصوص شــاعران لــري، د وړو دپــاره خصوصــي جريدې او مجلې وباسي. د وړو دپاره مصور، ښکلي ښکلي د لنډو قصو کتابونه شايع کوي. نو موږ دا کار ولې نه کوو؟ زمونږ ګوندې په خپلو صغيرانو رحــم نــه راځي او مينه ورسره نه لرو؟ رشتيا مونږ د خپلو مشرانو څه قدر وکړ چه پــاتې شو صغيران. د پښتنو لوی لوی رجال تر پرونه د ګمنامۍ او مقيدۍ پــه زاويــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېږي پراته وو چه نن ورته نوی نسل ورو ورو ملتفت کېږي. څومره نـور بـه لا تراوسه زموږ تر یاد لاندې نه وي راغلي. د دنیا د تاریخ په صـحنه بانـدې دا د شپو او ورځو تورې او سپینې پردې راکوزې شي، د معاصـرو تماشـابینانو لـه سترګو هرڅه پناه کړي. دا د تاریخ نګار قوي لاسونه غواړي چه دا پردې پورته کوي او بیا خلک د تاریخ د ډرامې د پهلوانانو غـورزې پـرزې ووینـي. خبـره اوږدیږي، لوی به پر پېړدو زموږ دعا په وړو کښې ده.

هلته په مغرب کښې (هر چرته او هرځای) عظیمې کارخـانې لګیـا دي، د وړو ماشومانو د پاره د لوبو او مشغولا سامانونه جوړوي. هغې یو خوا لوی او عظـیم ټانکونه د یو پیکره بمبارډ جټونه جوړوي چه د دوی لویان پرې دنیا ورانه کړي، خو د بلې خوا د هغې وړوکي موډل د خپلو کوچنیانو په لاس کښې هم ورکـوي چه لوبې وشتې پرې وکړي، منګر موږ په خپلو صغیرانو رحم نه کوو.

ښه د صنعت څخه خو موږ بې بهرې یو او کله موږ خپل نور ضـروریات پـوره کړه چه پاتې شو د وړو سامان. مګر د شاعر، د پښتون شاعر په دنیا کښې ولې د وړو برخه نشته او دی د هغوی دپاره څه نه جوړوي؟ د پښتنو شـاعران ولـې دوی دپاره کله کومه لوبه، کوم غزل، کوم نظم او کومه قصه نه وایـي؟ ګونـدې شاعران لوی خلک دي، جدي خلک دي او خپل ګـران وخـت د وړو سـره نـه ضایع کوي، مګر نه! شعر خو یوازې جدیت نه دی، شعر خو یوازې لـوېې لـوېې خبرې نه دي، شعر د بشري احساساتو آئینه ده.

د روحي تاثراتو اظهار دی، شعر د خیال او د تصور د جهاز سرګذشت دی چه د دې دنیا د لویو او وړو پېښو بیان کوي، نو د شـاعر پـه عواطفـو کښـې د ده د خیال او د تصور په دنیا کښې کومه لمحه هم د طفل او طفولیـت د یـادګیرنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاره نشته څه؟ ولې؟ راځئ يو بل حساب وکړو. که مونږ د شاعر عمـر شـريف پنځوس کاله فرض کړو (که پنځوس کاله تاسو ته کم ښکاري خفه کېږئ، مه د مثال دپاره وايم)، په دې پنځوس کاله عمر کښې اول طفوليت او بيا د ځوانۍ او بيا د پخوالي او زړښت دوره ده، په دې پنځوس کاله عمر کښې څه پـه لوبـو او په غفلت؟ څه په عشق او په مستۍ او څه د کور او کهول په سـازولو تېر بـږي، په دې پنځوس کاله عمر کښې زما په ګمان که سړی د ډېرې پر شورې عشقي ماجرا سره مخامخ شي، هم ګمان نه کوم تر پنځو کالو او يا تر لسو کـالو زيـات دوام وکړي، دا باقي عمر خو سړی کور شي او عايله تشکيل کـړي او د اطفـالو ماشومانو سره تر مرګه روزګار تير بږي او د هغوی روزنه او تربيه، ګټه وټه ده ته ورپه غاړه وي.

په لومړني عمر کښې خو دی پخپله طفل او ماشوم و او د هغې خاطرات هم تـر ډېره حد، د ده په شعور او تحت الشعور کښې ژوندي دي. نـو دا د شـعر دنيـا څرنګ يوازې د ځوانۍ او د مستۍ د دغه پنځو يا لسو کالو د وارداتو دپاره وقف شوی او د زلف او کاکل خط و خال، وصل او هجر خبرې کوي او د وړوکتـوب د خاطراتو هيڅ انعکاس پکښې نه ليدل کېږی. زه نه وايم جمال دوستي ګونـدې د شعر کار نه دی او يا بېځايه خبرې دي. زما په عقيده خو شعر پيـدا شـوی د دې کار دپاره دی، دا نور څه خو شاعران، لکه د بيکار پيټی پر ده اچـوي. خـو آخر په طفل کښې ډېره ښکلا او ډېر کښښ شته او د طفوليت په دنيـا کښـې خو ډېر رموز او واردات شته چه د شعر دپاره د الهام ښه منبع کېدای شي او د شاعر دپاره بله لويه نه تمامېدونکې د مضمون ذخيره موجوده ده، نو دا زمـونږ شاعران ولې د دې منبع نه الهام نه اخلي او ولې د دې ذخيرې څخه اسـتفاده نه کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه چه مونږ او تاسو له خوږو نغمو او شعري تخیلاتو څخه خوند اخلو، لکه چه مونږ او تاسو کښې د جمال دوستۍ تنده پرته ده او دا تنده په شعر او د هنر په نورو مظاهرو ماتوو، دغسې اطفال هم شعر ته، موزون کلام تــه، ســور شــین او برګ کاڼي کالي ته د اشتیاق په سترګه ګوري او هغې ته احتیــا ج لــري او لــه هغې نه لذت اخلي. تاسو به د وړو د لوبو ټوکو په وخت کښې د دوی له خــولې ډېر مقفی (مګر بیمعنی) جملې اورېدلې وي، دا د دوی د شعر دوستۍ ژونــدی مثال دی، دوی قصې ډېرې خوښوي، دوی د نیا او د مور خولې ته چه په قصــه مشغولې وي، په ډېر دقت او اشتیاق ګوري. نو رشتیا مونږ او تاسې هغه وخــت چه شعر لیکو، هغه وخت چې رمان جوړوو، هغه وخت چه ډرامه سازوو، آیا کله مو هم د دوی دپاره څه لیکلي دي؟ هو! ما لیکلي دي، په تمام عمر کښــې دوه پارچې چه یو یې نثر او بل یې د بلبلو د زیارت په نامه باندې نظم دی، چه هغــه ما دوی ته اهداء کړی دی، اوس ستاسې وار دی ملګرو، بسم الله!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیک

**ګرانه رشتین صاحب!**

**خدای دې و کا صحت دې ښه وي، یو شعر مې دلته ویلی و، در وامې ستاوه، امېد دی د کابل مجله کښې شایع کړې او زه به خوشحاله اوسم چه زما علایق د دغې درنې مجلې سره لا شته دي، دا شعر د بحر الهام دی او زه یې خپل هغو ګرانو وطنوالو ته اهداء کوم چه د خدای له دې لوی نعمته محروم دي، ستاسې مجله را رسي او نوي چاپ شوي کتابونه هم رارسېدلي دي. تشکر. سید شمس الدین مجروح**

**سمندر**

**زړه مې راته ووې د دریاب تماشه غواړمه**

**ووتم له خونې د ساحل غاړې ته لاړمه**

**زړه ویل نڅا کوم موجونه په نڅا دي ټول**

**سترګو ویل اوښکې دي دا زه ورسره ژاړمه**

**سترګو زړه ترمنځه زما فکر شو حیران پاتې**

**سترګې د حیرت شولې په لوري د آسمان پاتې**

**وویل آسمان، دوهم آسمان دی دا زما په شان**

**ځمکې غبرګ کښې ونیو چه جهان دی دا زما په شان**

**لمر په لړزېدو او ډوبېدو کښې راته وویل**

**سور افق ته ګوره سور نیران دی دا زما په شان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګه يې له غبرګې نه سپوږمۍ شوه ويل دا درياب

لوی منبع د ژوند دی مور او پلار دی د هرڅا درياب

عقل راته وويل ژور دی لکه ما غوندې

روڼ لکه ښيښه او منور دی لکه ما غوندې

عشق وويل نه! توره تياره ده او خطر لري

دا درياب بې باکه زړه ور دی لکه ما غوندې

پاتې شوم حيران د دې جنجال او د دعوې ترمنځ

حق او د باطل ترمنځ، د دروغو د رښتيا ترمنځ

لاړمه مجلس د مشورې د انسانانو ته

د ا خبرې ټولې مې کړې وړاندې هوښيارانو ته

پوه مې په مطلب کړئ قضاوت ور پکښې وکاندئ

دا مشکل مې وړاندې کړلو ډلې د قاضيانو ته

زوږ شو ر او غوغا شوه په مجلس د انسانانو کښې

هيڅ اتفاق نه ؤ قضاوت د هوښيارانو کښې

يو ويل عسکر يمه، تور زن يمه، مارشال يمه

ښه خبر خو زه د سمندر په حال احوال يمه

دا اوبه سرې کړې ما په وينو باندې څو کرت

ډېر جنګونه وړي ما، په خپل بري خوشحال يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فتحې د دنيا او استعمار د دې جهان لره**

**حکم په درياب باندې په کار دی حکمران لره**

**بل ويل تاجر يم، کړي ما ډېر سفرونه دي**

**ښه راته معلوم د ګټې وټې چال چلونه دي**

**شته غواړې که مال غواړې، فايده غواړې ورګډ شه ته**

**دا خو اوبه نه دي مرغلرې مرجانونه دي**

**ته سينه درياب کړه که څه سود سودا کول غواړې**

**ډکه دې کشتۍ کړه که جېبونه تشول غواړې**

**خوږ آواز مې واورېد د شاعر د خولې وينا ده دا**

**زړه ته لري لاره او د غوږ سره آشنا ده دا**

**وويل شاعر درياب جمال دی هم جلال پکښې**

**جوش دی، هم سکون دی هم ژړا ده هم خندا ده دا**

**کله په قلار شي چپه خوله د فلسفې په شان**

**کله زګ په خوله غورزنګ کوي د لېونې په شان**

**کله عاشقانو ته د لمر سپوږمۍ پيغام وايي**

**خپل پاسته نسيم کښې د جانان د خولې سلام وايي**

**شور او په غوغا او په چپو او په موجونو کښې**

**مستو ته خبرې صراحي يا خو د جام وايي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

غېږې کښې لغړې جونې نيسي چه لمبا کوي
دی ورسره خاندي نازنينې چه خندا کوي
کله شي په قهر ببړۍ ډوبه د انسان کاندې
کار کښې خپل حيران د کشتۍ خلک او کښتي وان کاندې
ډکه وي ببړۍ او زړونه ډک وي په آرزو باندې
دی د نپتون3 په آستانه باندې قربان کاندې
لويه کشتۍ وغورځوي يو خوا ته او بل خواته
ماتې تختې يوسي تشې تورې د ساحل خواته
دلته شاعر غلی شو زه غلی شوم حيران ومه
ناست وم لاس تر زنې بې خبره له جهان ومه
نورې سودا کمې وې چه دا سودا پيدا شوله
هرڅه نه بېزار ومه بېزار له خپل ځان ومه
راغی ماهيګير ويل کم بخته غم د ځان وخوره
پاڅه چرته لاړ شه ښه ښه تازه تازه مايان وخوره

---

د بحر رب النوع.۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له شعر نه څه غواړئ؟

شلمه صدۍ ده او په دې پېړۍ هر څوک د خپل ذوقه سره برابر نومونــه ږدي. دا منم چه دا نومونه به چا بې موجبه نه وي ایښي، دې نومونو کښې به ضرور د دې عصر د ښکاره او ممتازو خصوصیاتو نه الهام اخیستی شوی وي، مثلا څوک یې د برق زمانه بولي او چا ورته د سرعت قرن ویلی. دا لا څه کوې نــن پــرون اتوم منځ ته راغلی او د دې پېړۍ نسبت خلک غواړي د دې صدۍ دې شــاندار مگر خطرناک مولود ته وکاندي.

خبره چې لږه لاندې باندې شي، نو اوس خلک اتوم د سړي مخ ته وغورزوي او وایي د اتوم عصر دی، داسې کار نه دی په کار (سل په لالي پورې دا یوه یــې د بنگړو)، نو تاسې څه اعتراض لرئ، که زه دې عصر ته (د کار پېړۍ) ووایم او یــا پرې (د مادیت صدۍ) نوم کښېږدم.

مادیت او کار همېشه او هر کله په دنیا کې و او د دې قرن کوم ابتکــار نــه دی، خو دومره راسره ومنئ چې کار په دې پېړۍ کې ډېر شوی او ډېر کار کېــږي او مادیت هم خپل معراج او لوړ مقام ته رسېدلی، چې په تېره زمانه کــې بــه دې اندازې ته نه وی رسېدلی، د پراگماتیزم فلسفه او حسي تجربوي سیانس چــې په دې زمانه کې گرم بازار لري، مخ کې یې نه درلود، نو که پــه دې دلایلــو مــو قناعت وکړ، نو به دا د نوم ایښودل راسره ومنئ، ښه نو که مو دا راســره قبولــه کړه، نو د دې دا مطلب نه دی چه څه ډېزې او خوشحالتیا دې پرې وشــي او یــا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې کومه مېلمستیا جوړه شي او د نامه د ایښودو جایزه او افتخار دې هم زمـا په نصیب شي، مطلب په دې مقدمه کې دا دی چې د دې عصر دا خصوصـیات که راسره ومنئ، نو څه آثار او نتایج چې په اجتماعي ژوندون کې او یا د انسان په خلق او رویه کې پیدا شوي، هغه به هم راسره ومنئ، کار ولې زیات شوی؟ او مادیت ولې غلبه کړې ده؟ علت دا دی چې د ابتدایي انسان احتیاجـات لـږ او ضروریات یې محدود وو، نو د هغو لږو احتیاجاتو او محدودو ضروریاتو دپاره په هم هغه پیمانه کار کېده، نن د انســان احتیاجــات ډېـر شــوي او د مــدنیت د پرمختګ سره نوي ضروریات منځ ته راغلي دي، چې یو مدني انسان هغــه تــه ځان دومره محتاج ګڼي، چه یو ابتدایي او بدوي انسان خوراک او څکاک ته هم ځان دومره اړ نه ګاڼه، ځکه هغه ساده انسان، هغه د طبیعت او مبادیو ته نژدې مخلوق چې به د ورځې یو کرت په مړه ګېډه خوراک وکړ، نو د سبا به ورســره دومره زیاته سودا نه وه، د لوږې او تندې مقابله به یې هم تـر ډېـرو ســاعتونو کولای شوه.

منګر مونږ او تاسو ته که د ورځې څو کرت خوراک، چای او قهــوه، ســګرټ او مېوه را ونه رسېږي، نو ډېر متاثر معلومېږو او لویه نیمګړتیا محسوسوو.

انسانانو په خپلو هغه ابتدایي او نارسا وسایلو خپل احتیاجات پوره کــول، خــو اوس دا لوی او دېو پیکره ماشینونه چې د کیسو نکلو د دېوانو پېریانو نــه هــم زیات او زر کار کوي، هم د دې زمانې د انسان د احتیاجاتو او خواهشاتو د پوره کولو نه کله کله عاجز شي او دا ګرده د انسان له خولې نه د «هــل مــن مزیــد» چیغې وزي، نو د کار زیاتبدل او په بیړه کار کول، انسان تــه د لتــې او کــلارۍ فرصت نه ورکوي، دا دومره زیات کارونه او دا دومره ډېر احتیاجات، دا بې سرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بې پايه فنون او معلومات له انسان نه هــم ورو ورو ماشــين جــوړوي، ځکــه د معقول او د منقول جامع کېدلو دپاره اوس د انسان عمر کفايت نه کــوي او پــه ټولو کارونو باندې د چا پوهه او احاطه نه راځي، نو کار هم تعميمېږي او علوم او فنون هم اختصاصي رنګ پيدا کوي او طبعاً يوه انساني اوسنۍ اجتمــاع د يــو ماشين سره زيات شباهت لري او د (الناس على دين ملــوکهم) پــه مصــداق د ماشين حکومت په جامعه کې خپل آثار بخښي، ماشين ســره د دغــو خوارقــو چې يې لري، روح نه لري، فکرونه نه وهي او د ذوق له مرضه بې غمه دي، نو په ماشيني جامعه کې دې هم بايد روح مړ شي او ذوق سره دې وداع وکړي.**

**په داسې محيط کې چې د کاروبار له هنګامو ډک وي او د حيات ځوګ ځــوګ يې له هره ګوټه خېژي، د شاعر او د صوفي د پاره ګمان کوم دلته وړ او مناسب ځای نه پيدا کېږي، هغه ته د غزل سرايي او د ه ته د تفکر کولو او چرت وهلــو موقع نه ورکوي. هم دا سبب دی چې نن د ې دوو کسانو ته څوک په ډېره درنه سترګه نه ګوري، که کوم يو د دوی نه راپيدا شي، نو د ملامت او توبيخ اوازونــه (هئ) له هرې خوا را اوچتېږي، څوک به وايي، مونږ فلانی احتياج لرو او بستانی کار مو په مخ کې پروت دی او ته په څه لګيا يې، بــل بــه وايــي مــونږ فلانــۍ نيمګړتيا او بستانی ضرورت لرو، چې بايد هغه ترسره کړو او تاسو پــه خوشــو خبرو او چرتونو وقت ضايع کوئ، ومو ويل د شاعر دپاره دا د دې زمانې اجتماع مساعده نه ده. د اقبال خبره ده خدای دې وبخښي، د نسترن په زر او د ګلابــو په اشرفيو په بازار کې ډوډۍ نه اخيستل کېږي، نو شاعر ګني په فنــا محکــوم دی؟ او له دې دنيا دې ووزي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او که نه ځان دې اصلاح کړي او د محیط سره دې تطابق اختیار کا؟ تاسې څه وایاست؟ د پادشاهانو د مدحې په ځای دې د ماشین او فابریکې په نامه قصیدې جوړوي؟ او د یار د مخ د پلوشو په عوض دې د برق ستاینه کوي؟ او د خط و خال په عوض دې اتم او نامریي وړانګو په خواوشا کې نازک مضمونه پیدا کړي؟ نه!

یوه به هم نه کوي او که راپورې نه خاندئ او لېونی راته نه وایئ، شاعر به د نر غوندې په دې دنیا کې ژوند کوي او خپلې غزلې به وایي، بې حوصلې کېږئ مه، دلیل به یې په راتلونکو کرښو کې پیدا کړئ.

په داسې محافلو کې چې د شعر بر له یا بر علیه خبرې شوي، یو دا مبحث دی چې ادب یا شعر وسیله ده که غایه؟

زما دا عقیده ده چې ادب په خپله غایه ده او بعضې ملګرو هغه د نورو شیانو دپاره وسیله ګڼله غایه څه؟ او وسیله څه شیز دی؟ په دې دواړو کلماتو کې کوم اوږد او مفصل تعریف ته ضرورت نه لرو او نه هغه کوم علمي تعریف ته چې په اصطلاح سره جامع او مانع وي، څه دومره ډېر احتیاج لرو. زه په یوه مثال کې لوستونکو ته د دواړو نمونه وړاندې کړم. تاسې فرض کړئ، زه یوه بهرنۍ ژبه مثلاً فرانسوي یادوم، د دې ژبې د یادولو نه زما دا مطلب دی، چې په فرانسوي کې هر کله چې علمي او فني شیان ډېر موجود دي، نو به زما دپاره د علم د تحصیل امکانات ډېر شي او زما پرمخ به د علم یوه دروازه برسېره شي او یا به د سیرو سفر په وخت کې د هغې ځنې په ناسته ولاړه هوټل او بازار کې استفاده وکړم. معلومه شوه، ما دا ژبه د څه نورو اغراضو دپاره وسیله کړې ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما دلته زمونږ په کورسونو کې هلته یو سړی لګیا دی پښتو زده کــوي، مګــر د هغه منظور د پښتو دیادولو نه د پښتو یادول دي او کومه عملي استفاده مثلاً د هغه په نظر کې نشته. هغه وایي: زه پښتون یم او دا د پښتنو ملي ژبه ده او زما دا ژبه نه ده زده، باید زه یې یاده کړم، دلته د ژبې زده کول په خپلــه غایــه ده، هو! د دې ملي ژبې په یادولو څه آثار او نتایج مرتبېږي، مګــر دا ســړی (هغــه آثارو ته ملتفت یا غیر ملتفت) محض په خپله د ژبې د یادولو او یا د دې ارمان د سره کولو دپاره بوخت دی، نو هېڅ څوک نه شي کولای پــه خپلــو منطقــي تحلیلاتو سره دغې ژبې ته د دغه سړي په مورد کې د وسیلې رنګ ورکړي، نو راځئ وګورو چې شعر غایه ده که وسیله؟ دا په خاطر کې ساتئ چــې پــه یــوه معین څیز کې لکه شعر د دې دواړو وجهو تشخیص غور او دقت غواړي او لکــه نفسي کیفیات چې کله سره څو څیزونه ډېر ګډ او مخلوط وي، چې بېلول او یا لمړنی اغېزه معلومول یې ګران وي. دلته هم دا مشکلات موجودېږي، شــعر او ادب په دنیا کې ډېر لوی رول لوبولی دی او لوبوي یې، د حماسې په صورت کې یې د جګړې هنګامه توده کړې او ځوانان یې چړو او تورو ته ورکړي دي، چــې فلسفي رنګ یې اختیار کړی، نو فکري انقلابونه یې په عالم کې پیدا کــړي دي او که یوازې د خوش ګذرانۍ او معاشقې سندرې یې غږولي، نــو یــې انســان د عیاشۍ او بې مبالاتۍ په ګړنګ غورزولی دی، تراژدي یې ډېرې سترګې په ژړا سرې کړې دي او کمېډي یې ډېر تشي په خندا چولي دي، نو پــه دې مــواردو کې خو شعر د وسیلې په څېر څرګندېږي او معلومېږي د څه نورو غایاتو دپاره، شعر او ادب استخدام شوی دی. منګر خیر داسې لنډه فیصله به نه کوو، راځئ د انسان په ژوندانه کې ښه ځیر شو او د ده ســلوک او رویــه د ژورې مطــالعې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې ونیسو او څه لږ نور تحلیلات وکړو او مثالونــه راوړو، بیــا حکــم کــول او فیصله صادرول څه دومره ګران کار نه دی.

مونږ د ژوندون د ساتنې دپاره خوراک، څکاک، اغوســتن او پوشــاک او یــوې کوډلې او سرپناه ته په اوله درجه کې احتیاج لرو، چې مو ګېــډه مــړه شــوه او بدن مو پټ شو او د خپل کار روزګــاره وزګــار شــو او پــه خپلــه کوډلــه کــې کښېناستو او ځان مو د لوږې، تندې او تودوخې او د سړو او د غله او د لېوانو نه په امن کې ولید، نو بیا که مو شوق کېده، سندرې به وایو، منګر دلته یو ســوال منځ ته راځي، چې لوږه خو په وچه یا لمده ډوډۍ رفــع کېــږي، نــو د دومــره رنګارنګ طعامونو ته څه ضرورت دی؟ په طعام کې د خوشبويۍ او خوشخورۍ کیفیت پیدا کول حتی هغه کې د رنګ او نمایش په لحاظ اعتنا کولــو تــه څــه احتیاج دی؟

دا ښکلي چینایي لوښي، پاک او ستره دسترخوان، ډېرین مېزونــه، بخملــي او پالش شوې کرسۍ، د ډوډۍ د خوړلو په خونه کې د لوږې دفعه کولو دپاره څــه رول لوبوي؟ دا ښکلې صراحي، هغه بلورین ګیلاس، د تندې د رفع کولو دپــاره څه خدمت کوي؟ اوبه د هر لوښي نه چې راوزي، خپل خاصــیت لــري او تنـــده ماتوي، نو ولې وايي اوبه د لوښي له رویه چېښل کېږي؟ یوه جامه کې چې تاسې خپل ځان ونغاړئ، د تودوخې د بندولو او د سړو نه پرې خلاصــېږئ، منګــر دا برګ برګ کالي د تودوخې د بندولو او د سړو په لرې کولو کې څه دخل لــري؟ کوم مزیت په دې لحاظ په ریښم کې شته چې په شــړۍ کــې نشــته؟ دا چــې فلانی خیاط ښه کالي ګنډي او ډېرې پیسې (اجوره) ورکوي، د هغه د ســکښلو (برش) طریقه تاسې د سړو او تودوخې نه زیــات محفــوظ ســاتي؟ د افریقــا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدویانو په کوډلو کې هم شپه تېرېږي، نو دا لوړ لوړ قصرونه او مجللې بنګلې د څه دپاره جوړېږي؟ ډېرین خو ځکه دي چې بنا مستحکمه او قوي وي او زر نه ورانېږي.

ښه منم، خو دا ډېرې دومره ولې مړي رامړي او صیقل کوي یې؟ مرمر او رخام او دا د غره نورې ګټې خو به د کلکوالي په لحاظ دومره توپیر نه لري، نو څه دلیل موجود دی چې دا ګټې په دومره لوړ قېمت رانیسي او په خپله بنګله کې یې لګوي؟ دا رنګ او روغن چې تاسې خپل کاله ته له بهر او له دننه خوا ورکړی، دا نو ساړه او تاوده ښه نیسي، دا نو عمارت ټینګوي؟ د دې په معنی خو هیڅ پوه نه شوم، دا نو څه معما ده، دا خبرې ټولې معماوې دي، معما خو ځکه دی چې په خوراک کې، پوشاک کې، مېنه کې، انسان غواړي، ښکلا او جمال پیدا کړي او د خپلو د دې اولي ضروریاتو په ترڅ کې خپل ذوق هم تسکین کاندي، نو ښکلا یوه معما ده او د هغې تعبیر او تعریف او حدود ټاکل د یوې معما نه زیات فکر او دقت غواړي، وګورئ په دې څیزونو کې چې ښکاره په ډاګ پراته د ژوندان د دوام وسایل او د انسان ذوق او د بدیع حس دومره اغېزه کړې چې دغه حیاتي وسایل یې هم تسخیر کړي او جمال خپل حکومت او پادشاهي د نورو په قلمرو کې هم کوي او د دغې وسیلې سره سم جمال د یوې غایې په څېر څرګندېږي: نو د شعر او د موزیک او د رسامۍ دنیا خو د جمال او د ذوق خپل ملک او بلا منازع او مدعی محروسه ده، نو څوک څه حق لري چې دی د خپله ملکه وباسي؟ نه! څوک دا زور او قوت هم نه لري، ځکه هغه په هر چا قوي دی او په هر ځای کې د هغه فرمان چلېږي، که تاسو د تلو او مسافرت زحمت په ځان قبول کړئ، زه به تاسې ته د هغه د حکومت اغېزه په یو نو کې هم در وښیم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې مو وويل چې شعر د حيات په مختلفو صحنو کې استخدام شوی او خپل رول يې لوبولی دی، دا د جمال مظهر او د حسن مداح و، د ده آواز ته هر چا غوږ ايښود او د ده آواز هر زړه ته لار لرله، نو خلکو د خپلو اغراضو دپاره دی استخدام کړی دی، دا اغراض به کله ښه وو او کله بد، منګر په دې نو شعر د خپل آسماني او ملکوتي مقامه نه راپرېوزي او چا دا نه دي ويلي چې شعر به ګوندې له دې غرضه بل کار نه کوي او يا دې خپله اصلي وظيفه پرېږدي، موسيقي باندې نن پرون ډاکټران د مريضانو علاجونه کوي، مګر څوک حق نه لري هغه ته دارو درمل او يا د علاج وسيله ووايي.

په دې شلمه صدۍ کې چې د سرعت او د کار او د برق او د ماديت قرن مو ورته ووايه، اوس هم د حسن او د جمال معابد اوچت ولاړ دي، د دې معابدو زايرين ډېر دي، د سينما او تياتر او نقاشخانو په دروازو کې د دفتر او ادارو او مارکېټونه کم خلک نه ليدل کېږي، هغه امريکا چې د اتوم بم يې جوړ کړی او هيروشيما يې پرې ورانه کړې ده، د بيټهنګ بيوتې فلم هم جوړوي او د زړونو خونې پرې ورانوي، په لابراتوارونو کې که د اشياوو او انواعو په مطالعه بوخت دي، هلته هاليوډ کې هم څه فعاليت جاري دی، د هغه د ښارونو په کوڅو کې او د باغونو په خيابانونو کې څه مجسمې ليدلې کېږي چې نه د کوم قهرمان يادګار او نه د کوم معبود (باطل) بت دی، هغه محض د جمال او د ښکلا نمايندګي کوي، نو ما حق لاره که نه چې ما ويل شاعر به اوس هم شعر وايي؟

د ذوق او د ښکلا عشق او د شعر سره علاقه د يو متمدن انسان او د يو صحرايي او بدوي بنيادم سره يو راز شته، فرق دومره دی چې د بدوي قومونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر هم ساده او صنعت او آرت يې ابتدايي او غير مهــذب وي، واړه ماشــومان څه مقفی او موزون الفاظ او کلمات لري او هغه په کوچنيتوب کــې غــږوي او د هغې نه حظ او نشاط مومي. دا د ماشومانو اشعار په هره ژبه کې شته، ظاهراً څه معنی نه لري، خو د وړو خوښيږي، د اطفالو ذوق په دغه سن کــې يــوازې پــه قافيه او وزن باندې هم قناعت کوي، ليکن لويان او مشران بيا له شعر نــه نــور څه هم غواړي، نو تر کومه وخته چې په انسان کې دا ذوق او حس موجــود وي، شاعر به هم موجودي وي او خپلې سندرې به د دغه ذوق د تأمين دپاره وايــي، د ماشين آواز د ده آواز نه شي چپولای او د کار خلک ده تــه وزګــار نــه شــي ويلای.

هغه کسان چې شعر محض د شعر په حيث نــه خوښــوي او وايــي، دا دې پــه اجتماعي خدماتو کې استخدام شي او د علم او د تهذيب په لاره کې دې تــرې کار واخسته شي، دا يوه ډله ده، بله ډله هغه خلک دي چې شعر هڅو خوښــوي نه او غواړي د شاعر په مری ګوتې کښېږدي. زه به د دې دواړو ډلو سره ځان له ځان له وغږېږم.

اولې ډلې ته وايم، زه دا نه وايم چې شاعر يو آسماني موجود دی او دی د دنيــا او د محيط سره هيڅ کار نه لري، نه! شاعر د خپل محــيط موجــود دی، هغــه د خپل ماحول نه هرومرو متأثر کېږي، ښه ته به ښه او بد ته به بد وايي، کله به د يو روحي مربي په حيث زمونږ تداوي کوي او کله به د يو واعظ په څېر راته وينا کوي، خو تاسو د شعر نه دا مه غواړئ چې هغه دې ضرور تاســو تــه د رياضــي فارمولې در وښيي او (دوه دوه څلور دې) په شعر کې راوړي او يا دې د ساينس درسونه او د اقتصاد نظريې په نظم کې ننه باسي او يا دې شاعر غنم او وربشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ملک کې ډېر کړي، علم خپل ځای لري او شعر او ادب خپل مقام لري، علــم د دې نه مستغني دی چې هغه د شعر په زور په خلکو قبول کړو، هغه د پاره بل قوت او زور په کار دی، چې هغه ته دليل او برهــان وايــي، د قــومي اصــلاحاتو دپاره د تبليغ او تنقيد ډېرې لارې موجودې دي، البته په هغه کې يــوه لار دا د شعر او ادب لار هم ده، د دې اسلحې نه به سړی د خرافاتو د مقابلې او د قومي اصلاحاتو د تعميم دپاره کار اخلي، منګر د شعر روح به نه وژني او چــا چــې د شعر په غرض وايه، هغه به د مرۍ څخه نه نيسئ، کار به هــم کــوو او د ذوق او صنعت نه به هم سترګې نه پټوو، که مونږ دا اجتماعي ماسکې دمخه لرې کــړو او يوه شپه او ورځ،لکه څرنګه چې يو، هم هغسې ځان خلکو ته وښيو، عجيبــه تماشا به جوړه شي. مونږ چې کله د ځــان ســره څــه فکرونــه وهــو او بعضــې هوسونه کوو، هغه چاته نه وايو، کوم وخت چې مونږ يوه نــه تنفــر او د بــل پــه نسبت په زړه کې علاقه مندي پيدا کړو، هغه دواړه راباندې نه خبر ېږي، مــونږ هم د خپل خيال په دنيا کې ډېر قصــرونه آبــادوو او ورانــوو، ډېــرې مېلــې او مشغولې جوړوو، ليکن څوک پرې نه خبر ېږي، اما د شاعر د احساساتو ريکارډ (سره د دې چې اکثره خودداري او رياکاري هم کوي) په شعر کې پاتې کېــږي، نو يوازې هغه مه ملامتوئ او د انسان د طبيعت په لحاظ دی معذور وګڼئ!

اوس هغه ډله چې بالکل شعر نه مني، د هغو په خدمت کې عرض کوم چې پــه دې صدۍ کې کار ډېر، احتياجات زيات دي، ستومانتيا هــم زياتــه ده، پــه دې جنجالي او پر آشوبه دنيا کې تشويش او سودا هم ډېره ده، نو د دې ستومانتيا او آلامو دپاره د دې تشويشونو او اضطرابونو دپاره به د شاعر ملکوتي اواز (زما په ګمان) د تسکين او راحت ښه وسيله وي او په بنيادم کې به د اســتوګنې او مقابلې قوه په دغه دنيا کې زياته پيدا کړي، هغه وخت چې تاسو يوازې ناســت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د کار او روزګار نه وزګار یاست او مستقبل مو سترګو تــه تــورتم او تاریــک معلوم شي او تاسې دغه تاریکي او ترږمۍ مشوش کاندي، که شعر ستاسې پــه شونډو کې یو د تبسم برېښنا پیدا کړه، نو دغه تورتم به ستاسې د سترګو نــه ورک شي، نو دغه ځای دی چې شعر خپله وظیفه سرته رسولې ده، هغه وخت چې تاسې د منطق په زور خپل مشکلات حل نه کړل او د نا امېدۍ پــه دریــاب کې ډوب شوئ او سا مو لنډه لنډه کېده، نو که شعر د یو تنفس قدر تسکین او آرایش تاسو له درکړي، ګویا خپله وظیفه یې ادا کړې ده، هغه وخت چې تاســو د عناد او بدبینۍ په تیارو کې روان یاست، که شعر تاسو د څو لمحو دپــاره لــه دغه عالمه بېګانه کړي او د ځان سره مو مشغول کړي، یوه مقدسه وظیفه یــې سرته رسولې ده، هغه وخت چې په دې پر آشوبه او طوفاني دنیا کې چې بحرو بر کې یې د خونریزۍ میدان ګرم دی او په ځنګلو او صحراګانو کې یې درنــده حیوانات سړي ته پناه نه ورکوي، که تاسو یــوه ګــړۍ د شــعر او موزیــک پــه څانګونو د ځمکو له کرې اوچت شئ او د وریځو له ما ورا نه د ځمکې دا ښکلې او ښایسته منظره او دورنما د ورایه ووینئ او د نیا مو په سترګو کې عزیز شــي، دا لویه خبره ده او شعر لوی کار کړی دی. هو! دا اعتراض پاتــه کېــږي چــې د شعر او آرت دښمنان به یې په ما وکړي، هغه دا دی چې مونږ وروسته پاته یو او یوروپین او امریکایان مخ کې تللي دي، هغــوی د پــاره د ذوق د تامینولــه او د هنر د قدرانۍ فرصت شته، اما مونږه باید اول ګېده مړه او تن پــټ کــړو، دلتــه باید دا ووایم چې د آرت او د هنر تکامل، د شعر او د موســیقۍ وجــود د کــوم ټاکلي پروګرام او تقسیم انحصار دمخ نه نه کېږي او نــه شــوی دی، اقوامــو او ملتونو داسې نه دي کړي چې څو سوه کاله اول یې د خپلو حیــاتي ضــروریاتو کار کړی وي او بیا یې دې خوا مخ راګرزولــی وي، د بشــر د پیدایښــت ســره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوځای د مذهب او مدنيت د تکامل سره ځنګ په ځنګ او د حيـات پـه هـره صحنه او ساحه کې ذوق او هنـر يـو ځـای روان دی او د تکامـل او پيشـرفت مزلونه کوي، دا د هنر تکامل د جماعت د نورو کمالاتو نمايندګي کوي. هو! پـه يوه جامعه کې بايد تمام مدني مظاهر ټول ضروريات د خپل حد او اندازې سره سم او برابر تکامل وکاندي او که يوه خوا مهمله پر پښوده شوه او بله خوا ډېـره ترقي وکړي، يو راز عدم توازن ترې پيدا کېږي چې هغه د يوه جمعيت د پـاره خطرناک دی. زه د توازن طرفدار يم او د افراط مخالفت کوم او افـراط د يـوې ردې ملکې په حيث پېژنم، خو تاسې هم د تفريط خوا مـه نيسـئ او راځـئ د شاعر او هنر پېشه سره صلح وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د زلميانو حيثيت او وظيفه په جامعه کې

ښاغلی بېنوا!

تاسې د ويښو زلميانو په خواوشا کې مضامين غونډوئ او کم کتاب جوړوئ، په دې خوان کرم مو ماته هم ست کړی، منګر څه حيران يم دې کــې څــه برخــه واخلم او کوم مضمون وليکم، د زلميانو تعريف او خصوصيات، د زلميانو وظائف، زلميان او دين يا د زلميانو دين، زلميان او حکومت يا د زلمو حکومت؟ کــم يــو لمړی کړم او څه وليکم؟ ګمان کوم ليکوالو به پر دې ټولو خواوو پام کړی وي او څه به يې پرې ښکلي وي. نو ماته دا سودا پېښه شــوې چــې ګنــې ماتــه بــه مضمون نه وي پاتې، خو خير! د شاعر دا بيت مې زړه ور کوي چې وايي:

يک عمر ميتوان سخن از زلف يار گفت

در بند آن مباش که مضمون نمانده است

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو وروره! زه به د ځلمو حیثیت درته په یوه انساني جامعه کې در وښیم.

یوه جامعه د درې طبقو نه جوړه ده: زوړ او ځوان او وړوکی؛ زاړه تېرې زمانې پورې مربوط دي او ماضي ته ګوري او واړه راتلونکی نسل دی او مستقبل د هغوی دی، ځلمي د اوس دي او اوس (حال) د دوی دی او یوازې حال دی چې سړی هغه ته په موجودیت او فعلیت قایلېدای شي. ګویا زوړ (پرون) دی او ووړ (سبا) او ځلمی (نن) دی. بله تشبیه به هم وکړم: زاړه د (مفاخرو او روایاتو) حیثیت لري او واړه (امېد او آرزو) ده، او ځلمي (فعل او عمل) دی. یو بله لا هم واورئ: زاړه د دې اجتماعي وجدان فکر او حافظه ده، واړه د پټو استعداداتو (امکاني قواوو) مثال لري او ځلمي د دې پیکر قوي بازو او د کار او عمل لاس او پښې دي.

ومو ویل زوړ، لکه پرون دی، اما د پرون ورځې خاطرات، پرونۍ ویاړنې او افتخارات له مغزو څخه نه وزي او د هغوی یادونه په سړي کې مناعت، د نفس عزت او ملي غرور پیدا کوي، نو ځلمي به سپین ږیرو ته د عزت په سترګه ګوري. مونږ زړو ته د حافظې او فکر مقام ورکړ، بې له فکر او حافظې هېڅ پروګرام نه جوړېږي او هېڅ عمل سر نه نیسي، واړه مو د آینده آرزوګانو سره تشبیه کړه او آینده خوږې آرزوګانې په سړي کې د عمل قوت او جرأت پیدا کوي او د خوش بینۍ قریحه په سړي کې زیاتوي، نو واړه د اجتماعي ژوندانه د سلسلې همغه حلقه ده، خو یو ځای ځلمي دي چې فکر او آرزو، تېر مفاخر او د سبا خوش بیني به ټول په خپلو مغزو کې یوځای کوي او د ځان نه به یو معجون مرکب جوړوي او دا د حیات څرخونه به ګرزوي. تېر مفاخر او د سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library

امېد به روح خوشالوي، منګر تن نه پټوي او ګېډه نه مړوي، بايد ســړی د حــال نه استفاده وکړي او د (اوس) په قلمرو کې ځان له ځای پيدا کړي، هم دا سبب دی چې شاعران تېره مړه بولي او راتلونکي ته نازېږېدلی وايي او يــوازې اوس ته په موجوديت قايلېږي او د وقت د اهميت او د ضرورت په خــوا کــې نعــرې وهي او غلبلې کوي چې:

نګهدار فرصت که عالمی دمی است

دمی پيش دانا به از عالمی است

نو زلمی، د حال پورې تړلی او د حال د صحنې بازيګر دی، د حيات تماشــا پــه ده توره ده، د ماضي او د مستقبل د ارتباط دپاره کمه کړۍ د اتصال وي، هغــه هم دا زلمی دی، زلمی!! فرصت، وقت يا دغه دقيق او باريک (اوس) په فکــر او سودا کې، په تماشا کې، په خوب کې هم تېرېږي، که زلمی کــار نــه کــوي او د تېرې زمانې سودا وړی وي، زلمی نه دی، که د سبا په امېد ناست دی، زلمی نه دی، که ويده وي، زلمی څه چې ژوندی نه دی، زلمی به کاريګر، فعال، چــالاک او ويښ وي، نو به هله يوه جامعه د حال څښتنه شي او خپل پخواني مفــاخر او راتلونکی نېک بختي سره مربوطې کړي او يو به د بل سره وګنــډي، کــه نــه د تباهي او د فنا او د بدبختۍ سېلاب به دغه جامعه له دنيا محوه کوي.

ښه نو زلمی به څه کوي؟ کارونه ډېر او نيمګړتياوې زياتې دي، هر څوک چــې يوې نيمګړتيا ته ملتفت شي او هغه ورته د ټولو نه اهمه ښکاره شي، نو طبيعي ده چې ځلمی به اول هغې ته رابلي، خو زه د ټولو نه اول يو کار دوی ته ښــيم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه زما په فکر ډېر ضرور دی او په مونږ کې د هغې ډېره نیمګړتیا ده، هغه څه شی دی؟ ښه اخلاق او سجیه!

راپورې خاندئ مه! دا د هغه واعظ خبره نه ده چې یې ویل: ښه کوئ بد مه کوئ. دا محض خبره نه ده! دا زمونږ د ژوندانه حساسه نقطه ده، دا زمونږ لویه نیمګړتیا ده، دا زمونږ د راتلونکي موجودیت او د اوس د بهبود او د اصلاح د تهداب ګټه ده؟ غوږ کېږدئ، زه به دې کې تفصیلات هم درکړ.

خدای ته وګورئ! راځئ نوره ریاکاري بس کړو او ځان جهان په دې ونه غولوو چې مونږ پښتانه یو، مونږ د ښو سجایاوو او لوړو اخلاقو خاوندان یو، زمونږ ژبه، ژبه ده او زمونږ قول قول دی، مروت او شجاعت مو د پلار میراث دی او... مونږ هرڅه لرو، خو اخلاق نه لرو. زما په عقیده زمونږ اقتصادي نیمګړتیا دومره نه ده، لکه چې زمونږ اخلاقي کمزوري دي. زمونږ علمي فقر دومره نه دی زیات، لکه چې مونږ د سجایاوو او نېکو ملکاتو نه خلاص یو. د دنیا د تاریخ پاڼې واړوئ راواړوئ، داسې به درمعلومه شي چې یو قوم کوم وخت چې د اخلاقو او د سجیې قوت موندلی، هغه په دنیا کې د خپل قوت او موجودیت سکه وهي، منګر همدغه قوم بل وخت د دې دولت د محرومېدلو له کبله له پښو لوېدلی او علم او مال او نورو حیاتي عناصرو د دوی د فنا کېدو مخه نه ده نیولې.

لرې به نه ځو، د عربو تاریخ د اسلام نهضت د دې نظریې بهترین ګواه دی او دا د دې دپاره انتخابوم، که یو مسلمان هرومرو لږ ډېر د اسلام د تاریخ سره آشنا دی، د لمړنو مسلمانانو نهضت د اخلاقو په زور او د سجایاوو په قوت و، علم او دولت وروسته راغلل او کم وخت چې علم او دولت د ترقۍ او ډېرښت په لوړه پایه کې و، د بغداد خلافت د تاتارو د ګذارونو په مقابله کې له پښو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولوېد، هو! هلاکو چې بغداد ته ننوت، هلتــه څــه و چــې نــه و؟ طــلا، جــواهر، تزئینات، لوړ لوړ عمارات، ډېر مال او منال، ډک بازارونه، مدرسې، کتابخــانې، د یونان فلسفه، د هند تصوف، د ایران صنعت او آرت، دا ټول په بغداد کې و، امــا هلته یو شی نه و او د هغه شي کمبود په وجه دا بلا پېښه شوه، هغه څه شی و؟ هغه علت پیدا کړئ؟ او له بلا ځان وژغورئ.

زمونږ دا اخلاقي نیمګړتیا دومره زیاته او ډېره ده چې زه په دې څو پاڼو کې نه شم کولای چې د هغو ټولو نیمګړتیاوو په خوا او شا کې بحث وکړم او مقایسوي او تطبیقي جنبه یې در وښیم. دا یو جلا کتاب غواړي او دا لوی دفتر دی، منګر دومره وایم چې علم او ثروت دواړه په دې پسې راځي، منګر دا دومره ډېر پــه چا پسې نه ځي، د علم نه تربیت په حیات کې ډېر په کار بېږي او دمال نــه ښــه اخلاق او لوړه سجیه د انسان سره زیات کمک کوي، نو د زلمو اوله وظیفه دا ده چې د مغزو بتخانې ورانې کړي، مداهنه او مجامله، خیانت او دروغ، بدعهدي او بې وفایي، تنبلي او مفت خوري، اختلاس او ارتشــاء، خودنمــایي او تظــاهر او داسې نورو قبایحو سره مبارزه وکړي، چې دا په حقیقت کــې د تــاریکو مغــزو مواد او د بت پرستۍ لوی ارکان دي، بتان خو یوازې د ګټــو ختــو نــه وي کلــه بنیادمان، کله آرزوګانې، کله فکرونه د بتانو ځای نیسي. د هغه شي سره چې د انسان د سعادت دپاره نه په کار بېږي چې په دنیا، آخرت کې په درد ونه خوري، چې عملي قیمت نه لري، عشق او علاقه ساتل او په هغې کلک نښتل او د هغې نه دفاع کول بت پرستي ده، ځلمیان به دا دین ورکوي (حتی لا تکــون فتنــة)، زلمیان باید خپل ځان د ښه خلق او لوړې سجیې نمونه کاندي، چې نور د دوی پیروي وکړي، که دی ویښ وي، که دوی فعــال وي، کــه دوی د اخلاقــو او درد

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوندان شي، دوی به په خپله خپله وظيفه وپېژني، د کارونو په اصلاحاتو کـــې به متردد نه شي، غيبي تاييدات به د دوی ملګرتيا وکړي.

دا د زلمو وظيفه ده، چې د ريا پردې څيرې کړي چې سپينې ســپينې ووايــي، قوم خپلو معائبو ته ملتفت کاندي، پښتون ته د ده عيبونه دردونه ور وښيي او د هغې په رفع او اصلاح کې عملاً برخه واخلي. دې بې برخې پښتون ته چې کم اخلاق د پلار نيکه ورپاته و او يا هغه تعليم چې اسلام ورکړی و، هغــه يــې لــه لاسه وتلی دی او د نورو مباديو سره لا نه دي آشنا شوي، د ايثــار معنــی يــې هېره کړې، خپل شخصي منافع د ملي منافعو دپاره قربانولو باندې نه پوهېږي، دوی اجتماعي مفکوره د کورو کلي په خواوشا کې څرخي او چې له ځان ســره مجرد شي او جګه اجتماعي آرزو او فکر وکړي، هغه فقط د قبيلې په خواوشــا کې وي، د لوی پښتون مفکوره له منځه تللې او مليت په هغه معنی سره چــې لازم دی، نه پېژني، دا د زلمي وظيفه ده چې پښتون ته د مرکزيــت معنــی ور وښيي او د لوی پښتون د تشکيل درس ورکړي او د ايثار او فداکارۍ خلعت ور واغوندي.

هو! ظلم کول ګناه ده، اما ظلم قبلول او ظلم ته تن ايښودل پســتي ده، يقينــاً هغه سړی چې په حيوان يا په هغه انسان چې د دې په قــدرت او اختيــار کــې وي، ظلم کوي، يقيناً هغه د بل ظلم ته هم تن ږدي او دا ورته يو مســلم قــانون ښکاري. هغه چې د بل مال خوري، ناروا کوي، اما خپل به هم په چا نه خــوري، اما د بې انتظامي او ريا او د بې عدالتۍ محيط د دې دواړو خــواوو اهميــت لــه منځه وړي، هغه چې د بل په خوړو پستو خبرو غولېږي او خوشحالېږي، دی بل ته هم غوړه مالي کوي او په پستو او خوړو خبرو يې تېر باســي، نــو دا د زلمــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وظيفه ده چې د دې افراط او تفريط مخه ونيسي او په دماغو کې د هرڅــه نــه مخکې د ايمان قوت پيدا کړي، تنبلي او مفت خوري بد خوی او خصــلت دی او د دې نه فقر او فلاکت پيدا کېږي، موهوم پرستي يوه روې ملکه ده او ددې نــه جهل او ناداني روزنه مومي، نو که زمونږ زلمي د بدو اخلاقــو پــه مبــارزه کــې کامياب شو، نو تاسې څه ګمان کوئ، علم او ثروت به د ارمغــان پــه څېــر دې جامعې ته يا د يو جايزې په توګه د اخلاقو د مکتب شاګردانو تــه وړانــدې نــه کړي؟هو، دا دواړه رحمته به خدای (جل وعلی شانه) په دې جامعــه ولــوروي، منګر هله چې دوی په نېکو اخلاقو متخلق شي او د هر څه نه لمړی د ضمير او وجدان مناعت او سرافت خاوندان شي. په پای کې د ځلمو وظيفه د داده چــې هی کار وکړئ او کار؟ نه لکه چې ما غوندې خبرې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ګل پاچا الفت يادونه

الفت ( خداى ج ) دې و بخښي زما د ډېرې مودې آشنا ؤ.

زما او د ده په منځ کښې آشنايي د ځلمي توب د و خته شروع شوې وه او د ده ترمړينې يې په همهغه تودښته دوام وکړ او اوس هم زما په زړه کښــې د هغــه مينه او احترام هماغسې ځاى لري. دا بې پروا او زړور شاعر چې اشعار يې پــه انتقاد اوسپينه وينا ډک دي ډېر محجوب سړى ؤ.

دغه شاعر او وينا کوونکى چې تراوسه مونږ سره د شعر په ژبه ګړ ېږي ډېــر کم ګويه او خاموش سړى ؤ، بې ضرورته خبرې يې نه کولې اوهمېشه به يې د بــل خبرو ته غوږ ايښود. ډېره ظريفه طبعه يې لرله، ښې د مزې ټوقې به يې کــولې خو د ده په ټوقو او ټقالوکښې هم ادبي نکات پراته وه اوزياتره يې ادبي طنــز ؤ. (هغه عاميانه او سپکې ټوقې مسخرې نه وې) د ده تحصيل پــه دينــي علومــو کښې په فقه کښې وه او په صرف اونحو او منطق کښې يې هم تحصيل کړى ؤ. په ځوانۍ کښې يې شعر نه وايه او د ادب خوا ته يې توجه نه وه مګر د تحصيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه وروسته ورته ناڅاپه د شاعرۍ جذبه پیدا شوه او دا قریحه یې را ژوندۍ شوه او داسې را ژوندۍ شوه چې د سیلاب غوندې روانه شوه.

ده چې به کوم شعر ولیکه د چاپ دمخه به یې ماته ولوستو او زما نظر به یې پکښې غوښته او ما به غیر د تحسین او آفرین نه بل نظر نه لرلو.

د ده شعرپه پنځو برخو ( حداقل) وېشلای شو:

(۱) زیاته برخه یې سیاسي او اجتماعي انتقادونه دي چې په محیط کښې د اجتماع د وېرې او د قدرت د خاوندانو د وېرې چا غږ نه شوکولای، ده په ډېره ازادي خپل اوازجګ کړی ؤ.

(۲) دوهمه برخه یې د بې وزلو، مسکینانو اویتیمانو سره همدردي او په شتمنوانتقاد دی چې د دوی د حاله بې خبره دي. پدې برخه کښې دومره د سوزه ډک آوازونه شته چې سړی ژړوي او دخپلې اجتماع په بې عدالتي سړی قانع کوي.

(۳)دریمه برخه یې د ریا کاره زاهدانو او ملایانوغندنه ده او پر هغوی هم په ډېره بې پروایي انتقاد کوي او په هغوی پورې په ډېره بېباکۍ خاندي.

(۴) څلورمه برخه یې حمد، نعمت او دیني او مذهبي احساسات دي چې ځای په ځای څرګندېږي او دا جذ به خو د ده په نهاد کښې دومره ښخه پرته وه چې دغه نورې برخې یې زیات غوندې کار ښکاري.

(۵) پنځمه برخه یې عشق او جمال دی چې دا خوا که په کې لږ ده، مګر ډېره خوږه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده سترګې ډېرې تېزبينه وې او په ډېرو وړو شيانو کښــې يــې غټــه معنــی پيداکوله. د ده سترګې ډېرې مړې وې او هېڅ طمعه او توقع يې د چا څخه نــه لرله اوهم دخپلې ګټې وټې په فکر کښې نه ؤ.

د ده ثبات او استقامت په اخلاقي خواکښې اوهم په ناســته اوولاړه او اشــنايي کښې دومره ناقابل تغيير ؤ چې د طالب العلمۍ د وخته رانيولې تر وزارته پورې هم هغه يوشان سړی ؤ.

د ده د پاره په ژوندون کښې د سلوک اورفتار معيار او داخلاقو مثالي (ايډيالي) معيار او د شعر معيار دا دی چې دی يې پخپل دې شعر کښې ښکاره کوي:

# کوم شعر ښه او څوک ښه شاعر دی؟

انسان دوه خواوې لري، يوه خوا عقل او منطق او بله خوا يې عواطف او جذبات دي . د علم، صنعت، ساينس او ټکنالوژۍ منبع ناطقه قوه ده. يعنې پر عقــل او منطقو اتکا لري او شعر او هنر د مخيله قوې نه الهام اخلي او دهغه پر تخيل او جذباتو بنا ده. شاعر دانسان عواطفو او روحي وارداتو نماينده دی، نو ځکه دی د بل انسان عواطف او احساسات راپاروي او متاثر کوي يې.

انسان يوازې له نورو حيواناتو نه د ناطقه قوې په لرلو سره امتياز نه لري، بلکې ژړا او خندا هم کوي او نور حيوانات له ژړا او خندا نه محروم دي، نــو شــاعر د ژړا او خندا له جهان سره ارتباط لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخيل او جذبات خوا تړلنيز قيود نه مني او تر هېڅ امـر او قاعـدې لادې نـه راځي، نو ځکه زه شاعر د هر چا نه زيات انقلابي ګڼم. شاعر داجتماعي قيـودو او ادابو پر خلاف ګرېږي او خپل عواطف او جذبات ازاد بيانوي. شاعر د رياکارۍ پردې او درياکارانو ګرېوان شلوي. دی په ښکاره سورې وهي، چې خوله يې راکړه. شاعر د ښکلا او جمال مداح دی، دی د جمـال پـه ربـاب کـې خپلـې قصيدې وايي.

پر دې سربېره شاعر د ژبې په انکشاف او ښايسته کولو کې کومک کوي او د ده ابتکارات، تشبيهات او استعارات د ژبې ذخيره زياتوي. شاعر د تخيل پر بنـا د فيلسوف سره شباهت لري، ځکه فيلسوف هم د تخيل په زور د کايناتو پردې شلوي او حقايق راڅرګندوي او شاعر هم د تخيل پـه قـوت د تحـت الشـعور پردې څيري او دانسان روحي حقايق ښکاره کوي. همدا وجـه ده، چـې اکثـر فلاسفه شاعران هم وو. په مشرق کې بو علي سينا او حکيم عمـر خيـام عـم شاعران او هم فيلسوفان وو او په مغرب کې ګويتي او نيچيي هـم شـاعران او هم فيلسوفان وو. د ا فهرست ډېر اوږد دی او اوس يې هم په دنيا کـې ژونـدي مثالونه شته. که شعر په رښتيا سره د عواطفو بيـانګر وي او د بـل احساسـات بيان کړي، ښه شعر او ويونکی يې ښه شاعر دی.

نو پر دې بنا ما د جهاني په اشعارو کې دا صفت وليـده او زه يـې متـاثر کـړم. جهاني په خپلو سندرو کې د وطن په غم کې په زار زار ژړلي دي او هم يې پـه خپله تخيلي ميخانه کې پـه کـټ کـټ خنـدلي دي. دې د اراکوزيـا د ميـرو اوسېدونکي د شعر په بحر کې د درياب سفر کړی او د خيال په اسمان کې يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزرې خورې کړې دي. زه ويلای شم چې جهاني د شعر په قلمرو کې ځانته ښه مقام پيدا کړی او د شاعرانو په محفل کې يې ښه درنه کرسۍ نيولې ده.

# دريیم څپرکی

# د سيدشمس الدين مجروح د ادبي مقالو ځانګړنې

د سيد شمس الدين مجروح په ادبي مقالو باندې يوڅه ليکل هغه هم د نوموړي د مقالو په دوو اړخونو (منځپانګې او ژبې) يو مهم مګر سخت کار دی. خو دلته د مقالو له محتوا ډکې کربښې سرې ته قوت وربښي چې په يادو دواړو اړخونو د پام وړ څه وليکي نو همدغې موخې ته د رسيدو لپاره لازمه بولم چې لـومړی د راټولو کړو مقالو په منځپانګه (ښيګڼو اوبد ګڼو) او بيا ورپسې يې پــه ليکنــۍ ژبه رڼا واچوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجروح ادبي مقالې په کابل مجله کې د ۱۳۲۰تر ۱۳۵۰کلونو پورې په بېلا بېلو ګڼو کې چاپ شوي چې لټون او پيدا کېدو يې پوره زيار او وخت ته اړتيا درلوده، چې له نيکه مرغه په دې کار وتوانېدم او دا دی په دې مقدمه کې هره مقاله يوپه بل پسې څېړم او په مهمو ټکو يې د خپلې پوهې تر کچې رڼاااچوم.

په دې ادبي مقالو کې په هغو مهمو او اړينو موضوعاتو بحث شوی چې هره يوه يې د نسلونو لپاره د عبرت، هوښياری، بيداری، پوهاوي او زده کړې ښه درسونه دي، هره مقاله په زړه پورې پيل موضوع په علمي توګه رانغاړي، په ځينو کې مثالونه راوړل کيږي چې د موضوع په وضاحت کې ډيره مرسته کوي، د هرې موضوع لپاره په زړه پورې سرليک غوره شوی چې لوستونکی هڅوي موضوع تر پايه پورې ولولي.

په دې مقالو کې د پورته يادو شويو ټولو ښيګڼو ترڅنګ چې لري يې دوه عمده ستونزې هم زما په اند په کې ليدل کيږي يوه دا چې ټاکلې هرې موضوع ته ليکوال اوږده مقدمه ورکړې او اوس مهال د ليکنو په څېر يې راساً(مستقيماً) په موضوع پيل نه دی کړی او له يوه اوږده بحث وروسته اصلي موضوع ته راغلی، بيا د مقالې په وروستۍ برخه کې د موضوع تشريح ته تم شوی او هغه يې واضح کړې ده، بله ستونزه دا په کې ليدل کيږي چې ليکوال د عربي ژبې تر ډير اغېز لاندې راغلی او په هره مقاله کې داسې عربي لغات او کلمې کارول شوي چې يوه عادي لوستونکي ته به ستونزمنه وي چې په معنی يې ژر پوه شي او په اسانه ترې مفهوم واخلي، نو عادي لوستونکي اړ کيږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهېدو په موخه يې کوم بل چاته مراجعه وکړي. لاندې مې په ترتيــب ســره په هره مقاله لنډه رڼا اچولې او موضوع مې له خپله انده تحليل کړې ده.

د پښتو ليکلو بشپړ او مشترک سبک تر سرليک لاندې په دې ادبي مقاله کې مجروح لومړی هڅه کړې چې سبک ته تر ډېره قانع کوونکی او پرځای تعريف پيدا کړي، هغه چې په ادبي مسايلو کې ښه بصيرت او عميق نظر درلــود نــو د سبک په اړه وايي چې سبک په نثر کې روح دی او دغه حس هغه مهــال ښــه احساس کېدای شي چې د سر د سترګو پرځای ورته د زړه په ســترګو وکتــل شي.

يعنې سبک هغه شی دی چې لغات او الفاظ د اعضا او جوارحو غوندې، صرف و نحو د ضربان قلب او د وينې د چلند په شان د هغې لپاره کار کــوي او چــې دا ټول (او پاتې نور) سره راغونډ شي، نو يو موجوديت ترې جوړ شي.

که ليکوالان له ځاني ذوق او ځان غوښتنې تېر شي نو زما په اند بــه پــورتنی تعريف د سبک لپاره قانع کوونکی او پرځای وي.

يو سړی نه شي کولی چې په يوازې ځان يو ســبک رامنځتــه کــړي او د يــوه واحد سبک مخترع وبلل شي، خو په دې برخه کې د ژبې سرلاري ليکــوالان او څېړونکي کولای شي چې د يوه ټول منلي، څرګند او معتبر سبک لپــاره لاس په کار شي او کومه موخه چې لري هغې ته ځان ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز په دې مقاله کې ټینګار شوی چې په پښتو ژبه کې دې هر څه او ډېر څه ولیکل شي خو ښه دې ولیکل شي چې له یوې خوا ژبه په هره برخه کې هرڅه ولري او له بلې خوا سبک په کې د لمر په څېر روښانه څرګند شي چې له رڼاڅخه یې نور لارویان خپله لار پیدا او مقصود منزل ته ورسیږي.

په لیکنه کې د د خپلو لغاتو او اصطلاحاتو کارول، اوډون او ښکاره کول د سبک د روح د قوت ترڅنګ د هغه ظاهري ښه داسې ښکلې کوي، لکه یو مصور چې په تابلو کې خپل استادانه مهارت کاروي.

لیکوال په دې ادبي مقاله کې په دې نظر دی چې ښه سبک کولی شي د تقلید او محافظه کارئ ګردونه لرې او په ځان بسیا لوری غوره کړي، بله دا چې کله زموږ د ژبې له لومړنۍ دورې ووزو او په مسلکي توګه وړاندې لاړ شو، نو سبک په خپله ځان څرګندوي، قوت مومي او نور ترې په غوره او بهتره ښه ګټه اخیستلی شي.

غرض دا دی چې هغه اوږدې او کږې وږې جملې ونه کارو او د مطلب ټکي ته له کږو وږو لارو رانشو، له کرغېړنو ترکیباتو نه ځان وژغورو او هغه څه چې د پښتو روح له هغې نه بېزاره دی، بېزار شو او د سلیم ذوق په لارښودنه او قضاوت عمل وکړو.

همدارنګه په دې مقاله کې پوښتنه شوې چې آیا د پښتو نثر لیکلو بشپړ او مشترک سبک لري؟ بېرته لیکوال لنډ ځواب ورکړی چې نه! نه یې لري! او په سلو کې سل کېدای هم نه شي او باید توقع یې هم ونه لرو، ځکه چې هر لیکوال خپل بېل ذوق او بېل طرز لري او هغوی ټول په یوه فکر او لاره برابرول، ستونزمن کار دی، په لنډ او ژر وخت کې یې تمه نشي کېدای ځکه چې د عربي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاثير، د فارسي اغېزه، د اردو رنګ زموږ په نثرونو کې لــه ورايــه ښــکاري او د سبک اشتراک يې وران کړی. خو ددغه سبک تکميل ممکن دی او دا کار هغه مهال شونی دی چې ټول ددې کار لپاره يوځای متې راونغاړي او په همدې هوډ رغنده ګام واخلي.

پښتانه دې څرنګ پښتانه وي تر دې سرليک لاندې ادبي مقاله کې د پښــتنو په څرنګوالي اوږدې خو په زړه پورې خبرې شوې دي دغه مقالــه د مجــروح د ډيرې خوښې وړ هم بلل شوې اروا ښاد مجروح په دې مقاله کــې پنځــو مهمــو پوښتنو ته په علمي او واقعي توګه داسې قانع کوونکي ځوابونه ويلي چــې کــه دغه ياد خصوصيات پښتانه په شعوري توګه پــه عمــومي ډول پــه ځــانونوکې رامنځته کړي،نو په دوی کې موجودې ناخوالې به د تل لپاره له دې تاريخي ټبر څخه کډه وکړي، دا ټبر به د هوسا ژوند نوې ساه واخلي او ټبرې ناخوالې به بيا په هغه لور هم ور ونه ګوري.

ليکوال هرې موضوع ته داسې لارې چارې په ګوته کوي چې هغه په علمــي او واقعي دلايلو ولاړې او په عملي کېدو يې هوساينه او پرمختګ رامنځته کيږي.

په دې موضوع کې هم نوموړي په هغه درد، احساس او آرمان رڼا اچــولې چــې اغېز يې ددې ټبر په ټولو نسلونو او قشرونو کې د لمر په څېر څرګند او ښکاره دی.

هغه دغه پنځه پوښتنې يوه په بلې پسې را اخلي او وايي چې(۱) پښــتانه دې پخوانی جمعيت وي که اوسنی (عصري)؟ (۲) مترقي وي که پــس مانــده؟ (۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماړه دې وي که وږي؟ (۴) آزاد دوست وي که اقتدار غوښتونکي (۵) باسـواده وي او که بې سواده

دې پوښتنو ته په ترتيب سره ځوابونه ويل شوي.

لومړی دا چې هرڅوک د خپـل قــوم او ملــت لپــاره ښــه او ښــېګڼه غــواړي خوشحالتيا او سعادت يې پرې لورېږي، ځينې وخت په انساني جوامعو کې يوه مخصوصه عقيده حکومت کوي او د هغې عقيدې په ترڅ کې خــاص کلمــات او مصطلحات رواج شي او ځينې وخت بعضې کلمات پر اذهانو احاطــه او ســلطه پيدا کړي چې د هغوی الفاظو ځينې بعضې عقايد زېږي او دا عقايد د جمعيتونو د بنياد (بنسټ) ګڼې شي او د هغو خوځول او لرې کول ګواکې دنيا خوځــول او ړنګول دي.

دا خبره ښکاره ده چې د ژوند شرايط او مدنيت انساني ټولنو ته يــو ځــانګړی رنګ ورکوي او هر څومره چې دا شرايط سره ورته وي، هومره انساني بېلا بېلې ټولنې سره يو بل ته ورته وي.

دويم دا چې څومره د ژوند شرايط فرق وکړي، هومره د فکر طرز او د ژوندانــه اسلوب توپير کوي موږ بايد په دې عصر کې د زړو پښتنو مقلدان ونــه وســوو، ځکه نوی عصر له خپل ځان سره نوې غوښتنې، ايجابــات، نــوي اداب او نــوي فکرونه راوړي.

اوس ددې وخت دی چې نور دې دغه ټبر له زاړه فکر او زړې برســتنې څخــه لاس په سر او له نوي فکر سره د نوي لباس په فکر کې شي او ځان دې د وخت له غوښتنې سره برابر کړي ترڅو د نوي ژوند نوی خوند واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم دا چې پښتانه دې نور په دې پراخه نړۍ کې له خپلې قبیلوي محدودې ووزي او پر ځان دې دا پراخه نړۍ د مساپر د پیوندي او شلیدلې شړۍ په څېر نه تنګوي او په دې لوی جهان کې دې په خلاصو سترګو الوت پیل او هر ګــوټ کې دې د یوه مترقي انسان په توګه فقط د انسانیت په معنا ژوند وکـړي او لــه خپلې اوسنۍ محدودې دې راووزي.

دا ثابته ده چې په نس مړې ټولنې له وږیو ټولنو څخه پــه خــوی، بــوی او دود دستور کې څرګند توپیر لري. اقتصادي اوضاع د قوم پر کلتــور د ژوندانــه پــه رنګ او اسلوب ډېر ښکاره تاثیر لري، د قوم د اقتصادي حالت ښــه کېــدل پــه زراعت، تجارت او صنعت بنا دي او له دې سره د اقتصادي بناګانو انکشاف پــه ماشین او عصري تجهیزاتو پورې اړه لري.

نو په همدې اساس که پښتانه غواړي چې له دې اوســني فقــر، خــوارۍ، بــې روزګارۍ او احتیاجۍ څخه نجات ومــومي لــه موجــودې ټکنــالوجۍ او غــوره اقتصادي او کرنیزو اغېزمنو لارو چارو دې د نورې نړۍ په څېر ګټه پورته کــړي او خپل موجوده ژوند ته دې د یوه بډایه ملیت په توګه دوام ورکړي.

څلورم دا چې آزادي د هر غیور ټبر حــق او غوښــتنه ده چــې دا غوښــتنه او خاصه بیا په پښتنو کې تر نورو که زیاته نه وي نو کمه خو هــیڅ نــه ده او ددې پدیدې د ترلاسه کولو لپاره یې ډېره قرباني هم ورکــړې ده، خــو پښــتانه دې داسې هم نه چې په پټو سترګو تر یاد چتر لانــدې د نــورو هرڅــه ومنــي او د هغوی قرباني دې شي، دوی باید تل داسې آزادي ولري چې ګټه یې څو برابــره له زیان څخه زیاته او خوندي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتنو کې ډېر اجتماعي او عنعنوي قیودات او خرافات شته، ډېرې وېرې او ملاحظې شته چې د ځنځیر په شان تــرې چـاپېر دي، نــو کــه پښــتون د دې قیوداتو په مقابل کې د آزادۍ ببرغ وچت کړي، که پښتانه د عنعناتو او روایاتو، او خرافاتو ځنځیرونه وشلوي، د احساساتو په عوض منطق ته مخه کړي نو دې قوم به هم خپله ازادي ساتلې وي او هم به یې د وخت لــه دسیســو او نــادودو سره عقلاني مقابله کړې وي.

پنځم دا چې د پښتنو لپاره چې ډېر حیاتي او اړین ده هغــه د دوی لپــاره زده کړه، پوهه او سواد دی چې په وسیله یې دوی کولی شي د ژوند لوړو پوړیو تــه ورسیږي، له دې ولس ښخه باصــلاحیته ټولنــه رامنځتــه شــي او د دې ولــس طبیعي او قدرتي استعداد به ډېر ښه مجری پیدا کړي.

د یادې مقاله له روح او منځپانگې دا جوته کیږي چې پښتانه دې د زده کــړې هوډ په خپل لوح ضمیر کې نقش کړي، ځکه زده کړه د انسان او ټولنې کچــه د تحول او بدلون خواته بیايي چې بیا تحول د چا تابع نــه شــي کبــدای نــو کــه غواړئ چې ژوند مو د زده کړې له لارې په ټولو برخو کې بدلون وکړي نو اړینه ده چې له یاد جریان سره به ځئ، خو ډاډه اوسئ چې له دې علمي تحول ســره ستاسو نوم او هویت له منځه نه ځي، بلکې لا مو د خپل نوم او هویــت پــه اړه پېژندنه او علمي پانگه نوره هم زیاتیږي، خو که خدای مه کړه له زده کړې مــو مخ واړاوه او فاصله مو ترې ونیوه نو وپوهیږئ چې په ژوند کې د نورو ناخوالو او تیارو ترڅنگ تل د سون توکو په څېر د نورو د راحت لپاره سوځېږئ چې بیابه په ډیر لږ وخت کې نوم او هویت هم ورسره له منځه لاړ شي او د تل لپــاره بــه خدای مه کړه چلپا پرې راکش شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د تاریخ په خواوشا کې تر دې سرلیک لاندې په دغه مقاله کـې لیکـوال هڅه کړې چې د تاریخ ارزښت بیان کړي او خلکو ته وښيي چې تاریخ ولـې د اهمیت وړ دی او څنګه تاریخ له پیړیو راهیسې تر دې ځایه را ورسېد.

په دغه مقاله کې مخکې له دې چې لیکـوال د تـاریخ پـه اړه خبـرې وکـړي لومړی د انسان په حافظه غږېدلی ځکه چې حافظه د تاریخ لیکلو لپـاره هغـه اصل دی چې هر څه یې په ذخیره کې د تاریخ لیکلـو لپـاره موجـود دي او د لیکلو پرمهال ترې د اړتیا وړ توکي رااخیستل کیږي او لیکل کیږي.

ده لیکلي چې که انسان له حافظې څخه محروم پیدا شوی وای،نو بیابـه ددې امکان نه و چې د ده فکر به له جزئیاتو څخه کلیاتو تـه منتقـل شـوی وای او همدارنګه که د انسان حافظه نه وای، ده ته به ډېره مشکله وای چې د نورو لـه تجربو څخه دې استفاده کړې وای او نه به و توانېـدلی چـې د زرګونـو کلونـو انساني علمي میراث له پلار نه زوی او له زوی نه لمسي ته پر ېږدي او کـه دا د پلرونو او نیکونو د تجربو محصول ته سینه په سینه تراوسه نه رامنتقل کېدای، هغه وخته به هر څوک نوې تجربې او نوې مطالعې ته محتاج وای.

ددې مقالې په یوه برخه کې لیکل شوي چې انسان تاریخ ته د حافظې په څېر احتیاج لري. همدارنګه د ټولنې موجودیت په تاریخ او تاریخي روایـاتو بانـدې بناء ده.کوم وخت چې لا د خط اختراع نه وه شوې، کوم وخـت چـې انسـان د خښتې او پوټکي نه د کاغذ کار اخیست، هغه وخت تاریخ موجود و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخ په ترتیب او تکوین کې یو عامل د انسان هغه روحیه بلل شوې ده چې باید ددوی د مشرانو او لارښوونکو کردار، ژوند، کارنامې او واقعې ثبت او حفـظ کړي. دغه راز انسان د بدویت په مرحله کې جنګ و جګړو او توریالیتوب ته له نورو موضوعاتو څخه زیات اهمیت ورکاوه او همدا لامل و چې دوی به د خپلـو مشرانو جنګي کارنامې، شخړې او د تاخت او تاز واقعې په ډېر شوق او افتخـار پېړۍ پېړۍ زوتولې.

لیکوال په دې مقاله کې قدامت خوښونې ته اشاره کړې او لیکلي دي چې روح لړو ډېر له هر انسان سره شته او نن هم دا روحیه ښه ښکاره او څرګنده ده نـو په همدې موخه په علومو کې پخوانیو افکارو ته محض د علـم او د تـاریخ پـه لحاظ ارزش ورکوي او د علمي استفادې په لحاظ نویو نظریاتو ته هـر څـومره چې زیات وروستي وي، په زیات اهمیت قایلېږي.

دا خبره ثابته ده چې تاریخ د سینو نه لوحو ته او د لوحـو نـه پوټکـو تـه او د پوټکو نه کاغذونو ته رامنتقل شوی او د دې تبدیل انتقال سره د تاریخ بڼه هم بدلېده، یعنې یوازې د تاریخ په ظرف کې فرق نه راته، بلکې مظروف هم تغیـر کېده نو په همدې اساس د وخت په تېرېدو سره تاریخ له خرافاتو څخه لـرې لـرې کېده او له افسانې څخه زیات حقیقت ته راوړاندې شو.

په دې مقاله کې تاریخ له درې عناصرو څخه جوړ بلل شوی او یا له درې خامو موادو نه په لاس راځي لومړی یې تاوده واقعات، دویـم یـې سـاړه واقعـات او دریم یې غیر مریي واقعات دي. نو دې ته په کتو چې شخړې ته تود جنـګ او تبلیغ او پروپاګنډ ته سوړ جنګ ویلی شو. واقعات هم دغه سړه او تـوده خـوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري او دا تودې سرې دي چې د تاريخ په تکوين او د جوامعو په سرنوشت کې دخل لري او دغه راز غير مريي واقعات هم جريانونه متاثره کولی شي.

دغه راز مجروح ددې مقالې په پای کې د تاريخ پر اسلوب، قواعدو او مقرراتو باندې هم رڼا اچولې او په دې اړه يې په تفصيل سره اوږدې خبرې کړې او تاريخ يې د ټولنې حافظه بللې ده.

تر پورته سرليک لاندې مقاله کې ليکوال د مقالې محتوا له پيل څخه ترپايه پورې ساتلې او د موضوع اوډون ته پوره پام شوی، خو په موضوع باندې پيل شوی بحث يو څه په اوږده مقدمه پيل شوی چې کېدای شي هغه مهال به همدغه ډول دود و.

د علم په باب مقاله کې که څه هم چې هغه د علم په اړه غړېدل له خپله وسه وتلې خبره ګڼلې خو دا يې په ډاګه کړې چې د لمر راختل په خپله د لمر دليل دی او اوس د علم په اړه نورو ته څه ويل ځکه ډېر اړين نه دي، چې د علم په ارزښت هر انسان ښه پوهيږي، اړتيا يې هر څوک ښه درک کولی شي، چا چې د علم اهميت درک کړی نو د علم له مزاياوو څخه ډېر برخمن شوي او د پرمختګ او هوساينې په حال کې دي.

د علم په حقيقيت باندې بحث ډېر دقيق نظر او صلاحيت ته اړتيا لري او دا اړتيا هغه مهال ښه پوره کېدای شي چې خبرې کوونکی په خپله په ژوره مطالعه سمبال او د علم د حاصلولو په لارو چارو کې پوخ شوی وي. د علم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسه دومره اوږده او پیچلې ده چې له هره قلمه او له هرې خولې د هغې لیکل او ویل پوره نه دي.

په دې مقاله کې په ډاګه شوې چې علم هم د نورو ځیزونو پــه څېــر تغیــر او تبدیل، حرکت او سکون، آغاز او انجام لري او انسان هم باید لــه دې حــالتونو سره بلد او ځان عیار کړي، داسې نه چې د بې علمۍ په ګرداب کې یې راګیر او د حرکت له رڼا یې بې برخې شي، چې بیا به د بې سوادۍ په تیارو کې معیــوب لاس او پښې وهي خو ګټه به ونه لري.

مجروح ددې مقالې په یوه بله برخه کې ډېر په زړه پورې لیکلي چــې علــم د انسان پر مغز حکومت کوي، نو له همدې امله د عالم ژبه ډېره وســیع او د بــې سواده تن ډېره محدود ده. د عالم او د جاهل په منځ کې د بېلتون کنده دومره ژوره او ارته ده چې پر هغې باندې د ارتباط پول نه ایښودل کېږي.

که څوک وغواړي نو علم له چا څخه مخ نه اړوي له پاچا څخه نیولې تر ګــدا او له لوی څخه تر واړه پورې ټول کولی شي چې د علم په ګاڼه ځانونه سمبال او د خپل ژوندبریمنه او هوسا لار پیدا کړي.

د توضح تر سرلیک لاندې په یوه لیک کې د هغې لیکنې وضاحت شوی چــې مجروح اروانباد الفت ته لیکلې ده.

مجروح هغه مهال ددې وضاحت اړتیا حس کړه چې کله یې تــر دې ســرلیک لاندې چې پښتانه دې څرنګ پښتانه وي؟ یوه لیکنه خپره کړه او بیا ورته پــه ډاګه شوه چې یو شمېر لیکوالو ملګرو یې داسې احساس کــړې چــې ګونــدې مجروح په دې لیکنه کې د پښتنو ټول دودونه بد ګڼلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هغه وايي چې دده له مخکنۍ ليکنې چې پښتانه دې څرنګه پښــتانه وي؟ سم تعبير نه دی شوی خو بايد هير نه کړو، چې حق ويل او حق اورېــدل ډېــر ښه خوی دی او د خدای وعده ده چې انسان د دې خاصې په برکت له زيــان او تاوانه ساتي.

د مجروح په اند، پښتون خو يو ملت دی او هر ملت څه خاص دود او دســتور، روايات او عنعنات، اخلاقيات او خصوصيات لري، ما نه دي ويلي چې زموږ ټول دودونه بد دي، زموږ ټول دستورونه کرغېړن دي، ما ويلي ډېر عنعنــات شــته، چې خرافات دي...

هغه په دې توضيح کې د پښتنو دودنه په درې ډوله ويشــلي لــومړی ښــه او اړين، دويم بد او ناوړه او دريم غير اړين دي چې لومړی ډول يې هغه دي چې بايد په هر قيمت چې وي ساتنه يې وشي او بايد له لاســه ورنــه کــړل شــي او دويم ډول يې چې ناوړه او بد دي بايد چې نور دا ټبر ترې ځان خلاص کــړي او له ناوړه پايلو يې د تل لپاره ترې خوندي پاتې شي او دريم ډول يې هم کــه د وخت او شرايطو له امله له لاسه ورکړو، نو ډير زيان يې نه وينوو.

په دې توضيح کې مجروح بيا هم په دې ټينګار کړی چې پښتانه دې له خپــل ويشنې او پښې ويشنې ځانونه خلاص کړي او نه دې بل ته دا چــانس ورکــوي چې دوی په خپلونو وويشي، بلکې پښتانه دې خپل ځانونه د يوه ازمويل شوي غيور ملت په توګه د اوږده تاريخ په رڼا لکه څرنګه چې ثابت شوي نور هم ښه ثابت او وساتي او ناوړه خپل دودونه دې له ځانه لرې وغورځوي، ترڅــو پــورې دوی د وخت او حالاتو له سم او ګټور پرمختګ سره ملګري، د خپل نوي نســل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره روښانه راتلونکی ولري او ددغسې یوې ښې هیلې د لرلو له امله باید نــه راڅخه څوک خوابدي شي او نه هم زما لیکنه ناسمه تعبیر شي.

رحمان بابا او پښتانه تر سرلیک لاندې په دې په زړه پورې مقاله کې مجروح، رحمان بابا او د هغه شاعري د نایابه مرغلې په څېر بللې او هغه یــې د پښــتنو هغه سرتاج یادکړی چې ددې ټبر او ژبې لپاره یې هغه ویاړونه ترلاســه کــړي چې اوس هم د ډېری هېوادونو پوهــان دده پــه شــاعری او شخصــیت بانــدې خبړنې کوي او د رحمان شاعري د پښتو ژبې د معنوي بډاینې لپــاره د پــام وړ پانګه بولي او وایي چې دده نظریاتو او خیالاتو، د انساني جامعې په تکمیل کې لویه برخه درلوده.

په دې مقاله کې شاعر ته اشاره شوې، چې د ټولنې روایات به یــې راغونــډول، په شعر کې به یې داخلول او نظم کول، د خپلې زمانې پوهه او معارف، د خپلې زمانې او د خپل ولس مفاخر او فضایل به یې په خپلو اشعارو کې زیرمــه کــول، هغه یې ساتل او بیا یې دا ټول بل نسل ته سپارل یا یې نقلول، دغــه راز دوی د ژبې د روزنې او ساتنې دنده پــر غــاړه اخیســتې وه، دوی د ژبــې د تکامــل او ښایسته کولو مسوولیت درلود،نو د دوی له برکته ژبې له بدوي حالت څخــه د تکامل او عالي مرتبو ته رسېدلي او له زواله ساتل شوې دي.

همدا شاعر دی چې ښکلا کمال ته رسوي، د هغې بې اختیاره ستاینه کوي چې بیا له دې ستاینې څخه توري د مریو په څېر په یوه خواږه مــوزون کــلام کــې وپیل شي،آهنګ او موسقیت پیداکړي،چې په اورېدو ان انسان په یو ناڅــاپي نڅا راولي او هر غمجن تن ته خوښي ورکــوي، نــو همــدا د جمــال او شــاعر د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستۍ تنده ده چې موړ یې په شعر ماتوو او همدا د آرزوګانو لــه لمبــو څخــه ډکه سینه ده چې په دې روانو اوبو یې سړوو.

مجروح،د رحمن بابا د شاعرۍ په اړه په ډاګه وایي چې کله سړی د هغه د شعر دیوان ببرته کړي او اشعارو ته یې مخ واړوي، دی ګومان کوي چې هغــه د ده د زړه خبرې کوي، هغه مهال سړی په دې خبره پوهیږي چې هغه مرموز کیفیات چې د ده د سینې په پنجره کې، لکه د بندي مرغۍ په څېر تل ټوپونه وهــي او وزر پړقوي او ناڅاپه یې د الوتلو فضا پیدا کړې.

رحمان بابا د ټولنې ناتفسیره شوي حــالات او خیــالات لــومړی د نازېږېــدلي جنین په څېر د مغزو په رحم کې ګرځولي، بیایې د حیات په ساحه کې داخل، ورو ورو یې ودې کړي، بالا خره پیدا او بیا یې له قطرو دریاب جوړ شوی دی.

د رحمان بابا صوفیانه خیالات او د ټولنې بېلابېل رازونه،ســتونزې او کــړه وړه دده په ذهن کې د یوې ارزښتمنې شتمنۍ په څېر پراته وو، نه یــې خــولې تــه راتلل او نه یې پرې لاس لګېده، خو یو وخت په ناڅاپي توګه د شعر پــه قالــب کې راڅرګند او د ده په مخکې مجسم شول،چې بیــا دده شــاعرۍ د ټــولنې د وګړو لپاره د یوې روښانه او څرګندې لارښوونې بڼه غوره کړه.

هوښیارانو ویلي چې د زرو قدر په زرګر وي او رښتیا یې هم ویلي، نو کــه پــه انسان کې د زرګرۍ قریحه او د شاعرۍ صبغه نه وي، ده به هیڅکله د دې زرو قدر نه کولی، نو ځکه د رحمان غوندې خلکو قدر کوو او د هغه ویناوو، لکــه: د سرو زرو په څېر په موړ کې دود موندلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې مقالې په پای کې مجروح په لنډو ټکو اشاره کړې چې څوک ستاسې د زړه خبره کوي، چې له خبرو یې تاسې خوند اخلئ او د دنیا غمونه پرې هېروئ، څوک چې تاسو د دنیا له انساني ژوند او مسوولیت او د آخرت لپاره له ارزښتمنې توښې خبروي او هغه سړی چې ستاسې ارواح د جمال محراب او د ښکلا کوټګۍ ته رسوي، نو هغه رحمان بابا دی او هغه پر موږ او تاسو حق لري چې په درنه سترګه ورته وګورو، ټول پښتانه یې باید په یاد د اوس په څېر یادغونډې جوړې او د هغه له طرز تفکر څخه راتلوونکي نسلونه خبر کړي.

د وړو شعر تر سلیک لاندې په دې مقاله کې مجروح په دې خبرې ډېره سخته نیوکه کړې چې د پښتو ژبې شاعرانو او لیکوالو د ټولنې دغه مهم او ارزښتمن قشر(ماشومان ) له یاده ایستلی او د هغوی لپاره یې نه په نثر کې کیسې او نه یې په شعري قالب کې ورته څه لیکلي، ددې ژبې لیکوالو او شاعرانو خپل ماشومان د ادب په برخه کې بیخي هیر کړي او د هیڅ په سترګه ورته کتل شوي او لا هم کتل کیږي، چې دا کار ډېر ناهیله کوونکی دی، خو په نورو ژبو او هېوادونو کې د ماشومانو حق ته لومړیتوب ورکول شوی او ورکول کیږي، د هغوی لپاره په خپله ژبه کې کیسې، داستانونه، شعرونه،او نور موړون کلامونه لیکل شوي، انځوریز کتابونه ورته چاپ شوي او ډول ډول لوبو ترڅنګ ددوی په ژبه ډرامې او فلمونه جوړ شوي دي.

په دې مقاله کې پښتانه ماشومان د وړو ادب له پلوه په دې خوار بلل شوي چې لویانو یې ورته کار نه دی کړی او د نثر او نظم په برخه کې یې ددوی د اړتیا وړ څه نه دي ورته لیکلي او نه دغه موضوع ددې تېر د تاریخ په اوږدو جدي ګڼل شوې، ماشومانو ته د وړو په سترګه کتل شوي، د هغوی اوس او سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پام کې نه دي نيول شوي او نه ارزښت ورکړل شوی،که ددې ليکنې سرليک د وړو په اړه ده خو خبره تر هغه څه لويه ده چې موږ يې په اړه فکر کوو.

په دې مقاله کې دا په ډاګه ويل شوي دا چې موږ د خپلو ماشومانو لپاره څه نه دي ليکلي په دې معنی دي چې موږ په خپلو ماشومانو بې رحمه يو او مينه نــه ورسره نه لرو او په دې برخه کې څکه ګرم نه يو چې موږ د خپلو مشرانو قدر نه دی کړی، نو د وړو به چېرته وکړو. زموږ په قوم د شپو تورې وريځې او پردې را خورې دي، چې لرې کېدل يې قوي متې او ټينګ هوډ غواړي.

ماشومان هم شعر ته، موزون کلام ته، سور شين او برګ کــانې اوکــالي تــه د مينې په سترګه ګوري، اړتيا ورته لري او لذت ترې اخلي، نو بايد زموږ ليکــوال او شاعران د دوی له عمر سره سم دکيسې، شعر او نورو ادبي ژانرونو يو بډايــه ادبي ماشومانه چاپيريال رامنځ ته کړي، څو دوی هم د نورو ژبو د ماشومان پــه څېر په خپله ژبه کې له هرڅه برخمن وي.

راغلی ليک، دا هغه ليک دی چې ارواښاد مجروح د مصر له پلازمېنې قــاهرې څخه د هېواد وتلي ليکوال او څېړونکي رښتين ته له يوه شعر سره راليږلــی و ترڅو دواړه په کابل مجله کې خپاره کړي.

هغه، ددې ليک او شعر د ليږلو موخه دا په ګوته کــړې چــې وښــيي تراوســه پورې زه له دې مجلې سره علاقه لرم او غواړم چې اړيکه مې د مخکې په څېــر ورسره ټينګه وي ترڅو ددې مجلې له نورو مطالبو ګټه پورته کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په هېواد کې اوسېدل ستر نعمت ګڼلی او له هېواد څخه لرې اوسېدل یې د خدای له دې لوی نعمت څخه بې برخې کېدل ګڼلي.

له شعر نه څه غواړئ؟ تر دې سرلیک لاندې مقاله کې لـومړی د دې اوسـني عصر په اړه خبره شوې چې ځینو ورته د اتوم زماني نوم ورکړی، ځینې یـې د برق زمانه بولي او چا ورته د سرعت قرن ویلی، دا نومونه هر چا پـه خپـل ذوق ایښي دي، خو مجروح دا عصر د کار او مادیاتو بللی، ځکه چې په دې عصر کې هم ډېر کار شوی او لا هم کیږي او دغه راز مادیات هم خپل اوج تـه رسـیدلي چې په تېره زمانه کې دې اندازې ته نه و رسیدلي، په داسې محیط کې چـې د کاروبار له هنګامو ډک وي او د حیات زوږ یې له هره ګوټه خېژي، د شـاعر او د صوفي د پاره ګمان کوم دلته وړ او مناسب ځای نه پیدا کېږي، هغه ته د غـزل سرایي او د ه ته د تفکر کولو او چرت وهلو موقع نه ورکوي. نو دا په دې معنـی نه ده چې شاعر دې د پادشاهانو مدحې وکړي، یا دې د خط او خال پرځای پـه شعر کې د فابریکې، ماشین او برق ستاینه وکړي، نه! یوه بـه هـم نـه کـوي او شاعر به د نر غوندې په دې دنیا کې ژوند کوي او خپلې غزلې به وایي.

شعر او ادب په دنیا کې ډېر لوی رول لوبولی دی او لوبوي یې، د حماسـې پـه صورت کې یې د جګړې هنګامه توده کړې او ځوانـان یـې چـړو او تـورو تـه ورکړي، چې فلسفي رنګ یې اختیار کړی، فکري انقلابونه یې په عالم کې پیدا کړي، نو شعر، موزیک او د رسامۍ دنیـا خـو د جمـال او ذوق خپـل رنګینـه چاپیریال او ملک لري، نو څوک څه حق لري چې شاعر او شعر د خپلـه ملکـه وباسي؟ نه! څوک دا زور او قوت هم نه لري، ځکه هغه په هر چا قوي دی او پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ځای کې د هغه فرمان چلېږي، که تاسو د تلو او مسافرت زحمت پــه ځــان قبول کړئ، زه به تاسې ته د هغه د حکومت اغېزه په یو نو کې هم در وښیم.

مخکې مو وویل چې شعر د حیات په مختلفو صحنو کــې اســتخدام شــوی او خپل رول یې لوبولی دی. نو شعر د خپل آسماني او ملکوتي مقامه نه راپرېوزي او چا دا نه دي ویلي چې شعر به ګوندې له دې غرضه بل کار نه کوي او یــا دې خپله اصلي وظیفه پرېږدي.

شاعر د خپل محیط موجود دی، هغه د خپل ماحول نه هرومرو متــأثر کېــږي، ښه ته به ښه او بد ته به بد وایي، کله به د یو روحي مربي په حیث زموږ تداوي کوي او کله به د یو واعظ په څېر راته وینا کوي، خــو تاســو د شــعر نــه دا مــه غواړئ چې هغه دې ضرور تاسو ته د ریاضــي فــارمولې در وښــیي او (دوه دوه څلور دي) په شعر کې راوړي او یا دې د ساینس درسونه او د اقتصاد نظریې په نظم کې ننه باسي او یا دې شاعر غنم او وربشې په ملک کې ډېر کړي.

مجروح ددې مقالې په پای کې وایي: د شاعر ملکوتي آواز (زما په ګمان) بــه د تسکین او راحت ښه وسیله وي او په بنیادم کې به د استوګنې او مقابلې قــوه په دغه دنیا کې زیاته پیدا کړئ. که شعر تاسو د څو لمحو دپاره له دغه عالمــه بېګانه کړئ او د ځان سره مو مشغول کړئ، یــوه مقدســه وظیفــه یــې ســرته رسولې ده.

د زلمیانو حیثیت او وظیفه په جامعه کې تر دې سرلیک لاندې مقالــه کــې د ځوان نسل قوت، اهمیت، وړتیا او د ټولنې اړتیا ورته په ګوته شوي، ځوان فعل او عمل بلل شوی او هغه د ټــولنې هغــه پــوړ پــه ګوتــه شــوی چــې ســتړیا،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتې،ناسته، خوب، سستي او ناهیلي نــه پېژنــي، بلکــې پرمختــګ، نوښــت، کارکول، او ځان د ژوند لوړو پوړیو ته رسول غواړي.

په دې مقاله کې ځوان مسوولیت لرونکی او ټــولنې تــه وده ورکــوونکی بلــل شوی او هغه ته د ویښ انسان خطاب شوی ځکه چــې د ټــولنې ســترګې هــم همدغه ځوان قشر ته دي او له همدې قشر څخه د ځه کولو هیله هم لري.

دغه مقاله له پوره مفهوم او اهمیت څخه برخمنه ده، د ځوان قشر مســوولیت او مقام ښه په کې په ګوته شوی او هغه راتلوونکي ته متوجه شوی.

همدارنګه په دې مقاله کې ځوان کهول زغم ته رابلل شوی او ورتــه پــه ډاګــه ویل شوي چې ځوانان دې په عمر له پخو مشرانو څخه ښه تجربه شوي کارونه راواخلي او د هغوی کړه وړ دې د خپلې راتلونکې په موخه یوځلې له ځغلنــده نظره تېر کړي،څو له اغېزمنو او مثبتو ټکو یې ګټه واخیستل شي.

دغه یوه یادونه اړینه بولم چې پر دوه مقــالو (د کــل پاچــا الفــت یادونــه او د جهاني جهان ) باندې رڼا نه ده اچولې او نه مې دي تحلیل کړي او لامل یې دا و چې د کتاب د چاپ په وروستیو مراحلو کې مې ترلاسه کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مجروح د ادبي مقالو ليکنی او ژبنی اړخ

په هره ليکنه کې د منځپانګې، پيغام، او پوره مفهوم ترځنګ د هغې ليکنې ژبنی اړخ هم ډير مهم او د پام وړ دی.

ډيری ليکوالان د ليکنې موضوع په زړه پورې او د وخت له غوښتنې او د چاپيريال له اړتيا سره سمه ټاکي، خو ليکنی او ژبنی اړخ يې بيا ډير کمزوری او نيمګړی وي، چې ان زياتره وخت د موضوع مفهوم په کې له لاسه ورکوي، چې لامل يې د نامعياري ژبې کارونه ده.

د معياري ژبې د کارونې ترځنګ چې تر ډيره په املا ولاړه ده، انشا( ليک نښې) هم مهم ځای لري او همدا ليک نښې کره ليکنه له نا کره څخه بېلوي.

دغه راز هغه لغات او کلمات هم په ژبني اړخ کې راځي چې عام فهمه، د معتبر علمي ارګان له خوا منل شوي او د ژبې ټولو ويوونکو ته يو ډول مفهوم وړاندې کړي.

په دغه کتاب کې ما د سيدشمس الدين مجروح راټولې کړې مقالې په دقت سره له ژبني اړخه څېړلي او مطالعه کړې مې دي چې ژبه يې روانه، خوږه او عام فهمه ده، ليک نښې په پوره توګه په کې په دقيق ډول سره مراعات شوي او لازم پام ورته شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ادبي مقالو کې د ژبې روان والي ته د پام ترڅنګ ليکوال هڅه کړې چې ژبه عام فهمه او سوچه وکاروي، خو فکر کوم چې ليکوال په عربي ژبـه کـې د زيات پوهېدو له امله ددغې ژبې تر اغېزې لاندې راغلی او مقالې يې له عربـي ژبې څخه متاثره دي. په دې مقالو کې ځينې ځايونه لوستونکی له داسې عربي لغاتو او کلمو سره مخ کيږي چې پوهېدل ورته يو څه ستونزمن وي.

زه ليکوال تر ډېره حده په دې ځکه نه ملامتوم چې هغه مهال خو يو زده کړې تر ډېره پورې په دوديزه بڼه د کلي د جومات له امام او ياهم په مدرسو کې تـر سره کېدې او که يونيم سړي ته به په بهر کې د زده کړو چانس برابر شو، نـو د هغو مخه به هم عربي هېوادونو ته وه چې بيا دغه ډول ليکوالان حتماً د عربـي ژبې تر اغېز لاندې راتلل نو ارواښاد مجروح هم يو له همدغې ډلـې ليکوالانـو څخه و چې هغه مهال يې په کلي ولس او هېواد کې ټولې زده کړې پـه دينـي برخه کې کړې دي او له عربي ژبې په پوره توګه متاثر دی.

غواړم چې په دې برخه کې ځينې داسې لغات او کلمات راوړم چې يا لږ او ډېر املايي نيمګړتيا لري او يا سخت عربي بڼه يې کارول شوې، چې کېـدای شـي هغه مهال به يې استعمال په همدې ډول دود و او د ژبې سوچه والی ډېر مطرح نه و، لکه د اوس په څېر.

غواړم چې يوڅه عربي لغات د بېلګې په ډول دلته راوړم چې د مجروح لـه دې مقالو څخه مې راټول کړي. لکه اقتراح، نبض، مشترک، تحديد، مظاهر، انسجام مغايرت، متغير، تطورات، انحطاط، بطي، اسلوب، جمود، ذکـاء، ملتفت،امثـال، محاورات، جماعات، منشعب، معتقـدات، نصـب العـين، تسـهيلات، متشـابه، تفکرات، مقتضيات، تجدد، عشايرو، معاونت، مميزه، اعتزال، منافات، جرثـوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

عوایقو، اوهام، متوصل، مجری، استنتاجات، متفرع، عجز، عظیم، مبحث عنــه، معاشرت، مشاغل، قرابت، شقوق، فروع، تحت الشعود، انتباه، مغیبات، اشــیاء، بدایت، نهایت، متبدل، سیر، انقیاد، تتبع، افادیت، مقادیر، عفریت، اقتضــاآت، تشریع، محجوب، طمانیت، شایع، مداح، معابد، معائب، خلعت، مناعت او نور...

دغه راز چې املایي برخې ته یې سړی ځیر شي نو د مجروح په ټولو مقالو کــې (چه ) په دې ډول کارول شوې په داسې حال کې چې اوس د ( ه ) پرځای ( ې ) کارول کیږي اوسنی بڼه (چې ) ده.

همدارنګه په یادو مقالو کې لیکوال چې د کونړ ( ختیځې ) سیمې اوسېدونکی و، خو (کښې) چې په کندهاری لهجه کې کارول کیږي، ده هم په ټولو مقالو کې (کښې) کارولې، په داسې حال کې چې اوس ( کې) کارول کیږي، پاته یې د (ه ) په لرلو سره کارولې په داسې حال کې چې اوس پاتې د (ې) په لرلو سره کارول کیږي، په دې مقالو کې بلکه د (ه) په لرلو سره کارول شوې پِه داسې حال کــې چې اوس د (ه) پرځای (ې) کارول کیږي او بلکې لیکل کیږي. په ټولو مقالو کې د پاره په دې بڼه لیکل شوې خو اوس د (د) پرځای (له) کارول کیږي چــې لــه پاره لیکل کیږي،په دې مقالو کې لمړی په دې بڼه لیکل شوی په داســې حــال کې اوس د (و) په اضافه کولو سره لومړی په دې بڼه لیکل کیــږي، یــو شــمېر نورې کلمې هم شته چې لیکنی بڼه یې له اوسنی بڼې سره یوڅه توپیر لري.

ددې ترڅنګ ځاآکړولو، چې اوسنی شکل یې د ساه کښلو دی، پــه دې مقــالو کې ( زمونږ) یې په دې ډول لیکلی چې اوس ( زموږ) په بڼه لیکل کیږي، دغــه راز (ګرزو) داسې لیکل شوي چې په اوسنی بڼه کــې یــې د (ز) پرځــای ( ځ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارول کیږي او ( ګرځو ) راځي دغه ډول ( هد، آمالو، فراخ دلی، جزب، څکاک، برخېره ) لیکل شوي چې اوسنی بڼه یې (حد،اعمالو، پراخ دلی ،جذب، څښاک او برسیره) لیکل کیږي.

ددغو مقالو په ځینو برخو کې لیکوال هغه خپله سیمه ییزه کلیوالي لهجه هم کارولې لکه قلارې قلارۍ، منګر او داسې نور...

د پورته ذکر شویو موضوعاتو تر خوا لیکوال په دې مقالو کې د دري ژبې ډیر لغات او کلمات هم کارولي چې په مقالو کې یې د عربي ژبې تر اغېز وروسته د دري ژبه اغېزه هم ډیره تر سترګو کیږي.

باید یادونه وکړم چې دغه ټکي مې د نیوکې په بڼه نه دي یاد کړي،بلکې په دې موخه مې راوړي چې له لوستونکو سره ددغو مقالو د لیکني او ژبني اړخ په اړه باید معلومات وي او بله دا چې که په راتلونکي کې څوک غواړي چې د ارواښاد سیدشمس الدین مجروح د مقالو په ژبني اړخ څه لیکي، نو په دې برخه کې به ورسره مرسته شوې وي او د هغه په معلوماتو به یوڅه ور اضافه شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


۱- بینوا، عبدالرووف.( ۱۳۸۸لمریزکال).اوسنی لیکوال.کندهار: دعلامه رشــاد خپرندویه ټولنه.

۲- بینوا، عبدالروف.( ۱۳۸۸لمریزکال)اوسني لیکوال. (د مطیع الله روهیال په ترتیب او زیاتونې ). کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۳- بختانی، عبدالله. (۱۳۳۳لمریزکال ). شعر او ادب ( ټولــوونکی او مهــتمم). کابل: پښتو ټولنه. د کابل عمومي مطبعه، ۳- ۱۳ مخونه.

۴-کابل مجله.( ۱۳۲۲لمریز کال). شپږمه ګڼه. وږي میاشت، پرله پسې ۱۵۰مه ګڼه، ۱۳ کال، ۲- ۴ مخونه.

۵-کابل مجله.( ۱۳۳۵لمریز کال). ۷مه ګڼه.چنګاښ میاشت، پرله پسې ۴۱۱مه ګڼه، ۲۶ کال، ۱- ۴، ۲۶ مخونه.

۶-کابل مجله.( ۱۳۳۵لمریز کال) ۸مه ګڼه. چنګاښ میاشت. پرله پسې ۴۱۲مه ګڼه، ۲۶ کال: ۱- ۴، ۲۵- ۲۸ مخونه.

۷-کابل مجله( ۱۳۳۵لمریز کال). ۹مه ګڼه، زمري میاشت. پرله پسې ۴۱۳مــه ګڼه، ۲۶ کال، ۵- ۹ مخونه.

۸-کابل مجله.(۱۳۳۵لمریز کال). ۱۰مه ګڼه، زمري میاشت، پرله پسې ۴۱۴مــه ګڼه، ۲۶ کال، ۱۸- ۲۲ مخونه.

۹-کابل مجله.( ۱۳۳۶لمریز کال). ۲مه ګڼه، وري میاشت، پرله پســې ۴۳۰مــه ګڼه، ۲۷ کال، ۲۴- ۲۷ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰-کابل مجله.( ۱۳۴۱المریز کال). ۱۰مه ګڼه، مرغـومي میاشـت، پرلـه پسـې ۵۱۹مه ګڼه، ۱-۴ مخونه.

۱۱-کابل مجله.( ۱۳۴۶المریزکال). ۱ ګڼه، وري میاشت، پرله پسې ۵۷۰مه ګڼـه، ۹-۱۲ مخونه.

۱۲- مجروح، شمس الدین.(۱۳۶۹المریزکال).د الفت یادونه.قلم مجله. ۵او ۶مه ګڼه: پېښور.

۱۳- مجروح، شمس الدین.(۱۳۹۱المریز ). سرګذشت من، د( سـید الاکبـر پـه اهتمام). کابل: افغانستان ټایمز چاپخونه.

۱۴- مجروح، شمس الدین. (۱۳۹۱ لمریزکال). مجموعه مقالات علمي،سیاسـي و اجتماعي،د( سید الاکبر په اهتمام )، افغانستان ټایمز چاپخونه.

۱۵- مجروح، شمس الدین.( ۱۳۹۱المریزکال). منتخب شعرونه او یـا فریـاد، د (سید الاکبر په اهتمام ). کابل: افغانستان ټایمز چاپخونه.

۱۶-مجروح، شمس الدین.(۱۳۹۱المریزکال) کوم شعر ښه او څوک ښـه شـاعر دی، د جهاني جهان د مقالو مجموعه . ۱۳-۱۴مخونه . میوند کلتـوري ټولنـه - کندهار.

۱۷ -ویښ زلمیان. (۱۳۲۶المریز کال). پښتوټولنه(کابل مجلې د ۲۱۱، ۲۱۲ ګڼـو په ځای)، ۳۷- ۴۰مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| د کتاب موضوع او هدف | - ۱ - |
| سریزه | - ۳ - |
| لومړی څپرکی | - ۹ - |
| د سید شمس الدین مجروح ژوندلیک | - ۹ - |
| د مجروح ځانګړنې: | - ۱۷ - |
| د مجروح په اړه د پوهانو نظرونه | - ۲۱ - |
| دوهم څپرکی | - ۲۲ - |
| د سیدشمس الدین مجروح ادبي مقالې | - ۲۲ - |
| پښتانه دې څرنګ پښتانه وي؟ | - ۲۹ - |
| د تاریخ په خواوشا کښې | - ۳۷ - |
| د علم په باب کې | - ۵۱ - |
| توضیح | - ٦۰ - |
| شاعر او جامعه یا رحمان بابا او پښتانه | - ٦۹ - |
| د وړو شعر | - ۷٦ - |
| لیک | - ۸۱ - |
| له شعر نه څه غواړئ؟ | - ۸۵ - |
| د زلمیانو حیثیت او وظیفه په جامعه کې | - ۹۷ - |
| د ګل پاچا الفت یادونه | - ۱۰٤ - |
| کوم شعر ښه او څوک ښه شاعر دی؟ | - ۱۰٦ - |
| دریم څپرکی | - ۱۰۸ - |
| د سیدشمس الدین مجروح د ادبي مقالو ځانګړنې | - ۱۰۸ - |
| د مجروح د ادبي مقالو لیکنې او ژبنې اړخ | - ۱۲۸ - |
| ماخذونه | - ۱۳۲ - |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (محمد اصف ننګ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۰۸

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**